په بهر کې د کاناډا لارښود

# د ګډونوالو کاري کتاب

کاناډا ته د نويو راتلونکو
کسانو لپاره له راتګ
وړاندې لارښود



Funded by: Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Financé par : Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

IOM UN MIGRATION

COA OCE
Canadian Orientation Abroad
Orientation canadienne à l'étranger

هغه نظریات چې په خپرونه کې څرګند شوي دي په لیکوال پورې اړه لري او د کډوالو لپاره د نړیوالي اداري (IOM) اړین نظریات نه منعکس کوي. ګمارل شوي کارکوونکي او د خپروني له لارې د پریزنټیشن مواد د IOM په برخه کې د کوم هیواد، سیمې، ښار یا ساحې قانوني وضعیت په اړه، یا د هغې چارواکو، یا د هغې د سرحدونو یا حدونو په اړه د هیڅ کوم نظر څرګندونه نه کوي.

IOM دغه اصل ته چې انساني او منظم مهاجرت، کډوالو او ټولنې ته ګټه رسوي ژمن دی. د یوې بین الحکومتي ادارې په توګه، IOM د خپلو نړیوالو شریکانو سره کار کوي ترڅو: د کډوالو په عملیاتي ننګونکو کې مرسته وکړي؛ او دکډوالو په پوهیدو کې پرمختګ وکړي؛ د کډوالی له لارې ټولنیزاو اقتصادي پرمختګ و هڅوي: او د کډوالو له انساني کرامت او هوسایني ملاتړ و کړي.

---

دا خپرونه د کاناډا حکومت په ملاتړ او د IOM سره د هغې د همکاری د تړون شرایطو لاندې ممکن شوي وه. دلته څرګند شوي نظرونه د کاناډا حکومت اړین نظریات نه منعکس کوي.

د کاناډا میشته ملکي کارمندانو، خدماتو چمتو کوونکو سازمانو،موضوعاتو متخصصینو او تازه راتلونکو اشخاصو، او همدا رنګه IOM او په خارج کې د کاناډا لارښوونه (COA/OCE) کارمندانو چې په کاناډا او خارج کې موقیعت لري له ټولو څخه ډېره مننه چې مهمې مرستې یې کړي دي. په کاناډا کې د پناه غوښتونکو د مېشت کولو چمتو کول د دوی بصیرت او سرښندنه د دې خپرونې بنسټ دی.


خپرونکی: International Organization for Migration
17 route des Morillons
P.O. Box 17
1211 Geneva 19
Switzerland
داړیکي شمیره.: 9111 717 22 41+
فکس: 6150 798 22 41+
بریښنالیک: hq@iom.int
ویب پاڼه: www.iom.int



دا خپرونه د IOM لخوا له رسمي اصلاح پرته خپره شوې ده.
دا خپرونه بیله د IOM د خپرونو د څانګی (PUB) له تصویب پرته څخه خپره شوې.
دا خپرونه بیله د TRS څانګی د رسمي ژباړې پرته څخه خپره شوې ده.
غیر رسمي ژباړه د انګلیسي د اصلي نسخې پر بنسټ، حقدار *Canadian Orientation Abroad Participant Workbook: A pre-departure guide for newcomers to Canada.*

اړین اقتباس: په بهر کې د کاناډا لارښود د ګډونوالو کاري کتاب د کاناډا هیواد ته د نویو راتلونکو اشخاصو لپاره د رخصتیدو وړاندې لارښود. IOM، جنیوا.

---

ISBN 978-92-9268-168-5 (print)
ISBN 978-92-9268-356-6 (PDF)



**© IOM 2022**

ځینې حقونه خوندي دي. دا پروګرام به لاندی برخه کی شتون لري
Creative Commons Attribution-NonCommercial-NoDerivs 3.0 IGO License (CC BY-NC-ND 3.0 IGO).*

Copyright and Terms of Use. د اضافی مشخصاتو لیدلو لپاره مهرباني وکړئ لاندی برخی ته وګورئ.

دا خپرونه نه باید د هغو موخو لپاره وکارول شي، خپره شي یا بیا توزیع شي چې په ابتدایي توګه د سوداګریزې ګټې یا د پیسو جبران لپاره هدف ګرځیدلی وي، د تعلیمي موخو په استثنا سره، د بیلګې په توګه په درسي کتابونو کې شامله شي.

اجازې: د سوداګریزې کارونې یا نورو حقونو او جواز اخیستلو غوښتنې باید publications@iom.int ته وسپارل شي.


* https://creativecommons.org/licenses/by-nc-nd/3.0/igo/legalcode

# د منځپانګې فهرست


| | |
|---|---|
| د QR يا چټک غبرګون کوډونو کارولو لارښووني | پاڼه i |
| سمبولونه | پاڼه ii |
| فعاليتونه | پاڼه iv |
| لومړی برخه: کاناډا ته عمومي کتنه | 1 پاڼه |
| دويمه برخه: سفر | 35 پاڼه |
| دريمه برخه: مرستي او خدمات | 63 پاڼه |
| څلورمه برخه: کور جوړونه (هستوګنځی) | 81 پاڼه |
| پنځمه برخه: روغتيا | 93 پاڼه |
| شپږمه برخه: زده کړې | 107 پاڼه |
| اوومه برخه: کارمونډنه | 123 پاڼه |
| اتمه برخه: سپما کول (د بوديجې سپما) | 141 پاڼه |
| نـهمه برخه: ترانسپورت | 159 پاڼه |
| د پروسې نقشې | د کتاب د ننه د شا پوښ |

## د QR یا چټک غبرګون کوډونو کارولو لارښوونې

په دې کاري کتاب کې به تاسو سمبولونه وګورئ لکه  دا سمبول، تر څو تاسو ته د مهمو موضوعاتو په اړه اضافي معلوماتو ته لارښوونه وکړي. دې ته د چټک غبرګون (QR) کوډونه ویل کیږي. دلته به تاسو ولولئ چې څه ډول د خپل موبایل یا ټابلېټ د کمرې په کارولو سره د QR کوډونو له لارې په انټرنېټ کې معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړئ.  د دې کار د کولو لپاره باید تاسو انټرنیټ ولرئ.



**1.** معلومه کړئ چې ستاسو د موبایل کمره د QR کوډونه لوستلی شي او که تاسو به اړ یاست چې د QR کوډ لوستونکی (ریډر) ډاونلوډ کړئ؟



**2.** ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسو له انټرنیټ سره وصل یاست.



**3.** د خپلې وسیلې (موبایل یا ټابلیټ) کمره یا QR کوډ ریډر خلاص کړئ .



**4.** د خپل مبایل کمره QR کوډ ته برابره کړئ، ډاډ تر لاسه کړئ چې د سکرین منځنۍ برخې ته یې برابر کړئ.




**5.** انتظار وکړئ چې کوډ سکن شي.



**6.** د QR کوډ محتوا خلاصه کړئ او نورو معلوماتو ته لاسرسی ومومئ.

**پدې کاري کتاب کې د QR کوډونه تاسو ته د باوري ویب پاڼو لینکونه چمتو کوي چې په انګلیسي، فرانسوي او ځینې نورو ژبو کې معلومات لري. که تاسو په دې ژبو نه پوهیږئ، نو تاسو کولی شئ د آنلاین ژباړونکي څخه کار واخلئ تر څو د هغو معلوماتو په اړه نظر تر لاسه کړئ چې په اړونده ویب پاڼه کې شامل دي.**






د QR یا چټک غبرګون کوډونو کارولو لارښوونې

## سمبولونه

پدې کاري کتاب کې به تاسو د  د مختلفو معنی ګانو لرونکي سمبولونه وګورئ. سمبولونه له لنډو توضیحاتو سره چمتو شوي دي. کله چې تاسو د کاري کتاب څخه لیدنه وکړئ نو تاسو به د دې سمبولونو او د دوی د معنی په اړه ډیر څه زده کړئ.



1. د کاناډا حکومت



2. د کیوبیک په اړه معلومات



3. په کاناډا کې اصلي خلک



4. کاناډا یا کاناډایي




5. له کاناډا پرته نور هیوادونه



6. جغرافیائي موقعیت



7. معلولیت لرونکي خلک



8. د جنسي ځانګړتیاوو تنوع، د جنډر یا جنسیت پیژندنه، د جنډر څرګندونه، یا جنسي تمایل



9. د مذهبونو تنوع



10. مرسته او ملاتړ



11. مالي مرسته



12. د سمدستي میشتېدو ملاتړ



13. د حکومت لخوا تمویل شوي سازمانونه



14. د پناه غوښتونکو خصوصي تمویل کوونکي


## سمبولونه



15. په کاناډا کې حقوق



16. په کاناډا کې قوانین



17. محرمیت، خوندیتوب، یا امنیت




18. اجازه ورکړل شوې یا قانوني



19. بی اجازې یا غیرقانوني



20. ناخوښي یا پر خلاف



21. د وخت تیرول





22. د ځانګړي-وخت-اړوند



23. معلومات



24. لټون




25. د زده کړې درجې یا اسناد






26. کارمخینه (CV)



27. واده



28. یو شخص (بې له ځانګړې جنسیته)

## فعاليتونه

په دې کاري کتاب کې داسې فعاليتونه شتون لري چې بايد بشپړ شي او دا به ستاسو سره په کاناډا کې د ژوند په اړه د مهمو معلوماتو په زده کولو کې مرسته وکړي. د هر فعاليت په پيل کې لارښووني ليکل شوي دي. دا په دقت سره ولولئ. په ځينو فعاليتونو کې ستاسو لپاره لومړۍ پوښتنه په سور رنګ ځواب شوي، نو تاسو درک کولی شئ چې پاتې نورو ته څنګه ځواب ورکړئ. که چېرې فعاليت سم ځوابونه ولري، نو د پاڼې په پای کې د ځوابونو کليد پيدا کړئ چې سرچپه ليکل شوې ده.

په دې کاري کتاب کې د لاندې فعاليتونو ډولونه شامل دي:

**ا) د نقشې فعاليتونه**
په نقشه کې موقعيت ومومئ او "✗" رسم کړئ .

**ب) د سمون فعاليتونه**
د شمېرو او تورو تر منځ کرښه رسم کړئ.

**پ) صحيح نښه فعاليتونه**
پوښتنه ولولئ او په چوکات کې د "✓" صحيح نښه ولیکئ.

**ت) د طبقه بندي فعاليتونه**
عکسونو ته وګورئ او په چوکاټ کې د سمبول په رسمولو سره يې طبقه بندي کړئ.

**ټ) د خالي ځايونو ډکولو فعاليتونه**
ورک شوي معلومات په چمتو شويو ليکو کې ولیکئ.

**ث) په ترتيب سره د ليکلو فعاليتونه**
جملې ولولئ او په هر جدول کې يو نمبر ولیکئ تر څو له لومړۍ جملې څخه تر وروستنۍ پورې ټولې جملې ترتيب شي.

**ج) د کيسې تخته**
د عکسونو تسلسل وګورئ چې يوه کيسه بيانوي.

**ستاسو لپاره پوښتنې چې په اړه يې فکر وکړئ يا منعکس يې کړئ پدې جدول کې څرګندېږي.**

**د يادولو لپاره مهم معلومات د دې په څېر جدول کې څرګندېږي.**

## یادونه:

## لومړی برخه

# کاناډا ته عمومي کتنه



# کاناډا ته عمومي کتنه




## 1.1 ایا تاسو د کاناډا په اړه دا معلومات درلودل؟


کاناډا د ځمکې پر مخ دویم لوی هیواد دی چې ډیرې بېلا بېلې منظرې لري. سیمې ته په کتو، په دی هیواد کی لوړ غرونه، پراخ میدانونه، ځنګلونه او ډیر جهیلونه او سیندونه شتون لري.



اصلي (ځایي) خلکو د کاناډا اوسنۍ ځمکه د لومړنیو اروپایانو له را تګ او مېشت کېدو څخه ډېره وړاندې ښېرازه کړې وه. اصلي خلکو دلته د شفاهي او لیکلي تاریخ له را منځته کېدو څخه د مخه شتون درلود.



نن ورځ د کاناډا ټولنه په عمر، نسل، مذهب، جندر، جنسي تمایل، وړتیاوو او اقتصادي وضعیت کې متنوع ده.




د کاناډا لوی مساحت ته په کتو، لږ خلک په کاناډا کې ژوند کوي. د کاناډا اوسنی اټکل شوی نفوس ______________ دی.




د "کاناډا" نوم د هورون-ایروکویس (لومړي ملتونه) کلمې "Kanata" کاناتا څخه اخیستل شوی دی. دا د خونډي ځای، کلي یا میشته کیدو معنی لري.



کاناډا لومړی وزیر لري، نه ولسمشر. د دولت سمبولیک مشر د کاناډا پاچا یا ملکه ده، او هغه هماغه کس ده چې د انګلستان پاچا یا ملکه وي. پاچا یا ملکه په حکومت کې واک نه لري.



کاناډا یو دیموکراتیک هیواد دی چې انتخابي ولسي جرګه او انتصابي مشرانو جرګه لري.




په کاناډا کې له 200 څخه ډیرې ژبې ویل کیږي. په دې کې د اصلي ځایي اوسېدونکو (بومي) د ژبو په ګډون د هغو ډېرو مهاجرینو ژبې شاملې دي چې په کاناډا کې میشت شوي دي.

## 1.2 د کاناډا بنسټ ایښودونکي خلک


په کاناډا کې درې بنسټ ایښودونکي خلک شتون لري: اصلي اوسېدونکي، فرانسوي او برتانوي. په هرصورت، د تاریخ په اوږدو کې کېوالی هم د کاناډايي ټولنې په جوړولو کې مرکزي رول لوبولی دی.



**1.** "اصلي خلک" لومړني کسان وو او په هغه ځمکه کې یې ژوند کاوه چې اوس کاناډا بلل کیږي. دوی د لومړنيو اروپايي اوسیدونکو له راتګ څخه ډیر د مخه دلته وو. دوی خپل اقتصاد، ژبې او کلتور درلود.




نن ورځ، په کاناډا کې شاوخوا پنځه په سلو کې اصلي خلک دي. په کاناډا کې درې ځانګړي ډلې پیژندل شوي دي.




### ا) لومړني ملتونه

دلته په سلګونو مختلف لومړي ملتونه شتون لري. نن ورځ د 60 څخه ډیر د لومړي ملت ژبې شتون لري، کوم چې خلک هڅه کوي چې د کارولو وړ یې وساتي.
لومړني ملتونه د کاناډا په ورو او غتو ښارونو کې ژوند کوي. شاوخوا نیمايي یې په هغو ځمکو کې ژوند کوي چې د دوی د کاروني لپاره د " ساتل شوې ساحې " په نوم پرېښودل شوي دي. ډیرې نور یې د ځان-له-خوا-اداره-کوونکو-ملتونو کې ژوند کوي، چېرې چې دوی په ځایي مسایلو کې په خپله پرېکړې کوي.



## ب) اینییوت (Inuit)




دوی عموماً په کوچنیو ټولنو کې د کاناډا په پراخو شمالي سیمو کې ژوند کوي. (Inuit) اینیوت د دوی په ژبه یعنې اینوکتیتوت کې د "خلک" معنی لري. د ځمکې، بحر او ځنګلي ژوند (حیات وحش) په اړه پوهه دوی ته وړتیا ورکوي چې د شمالي قطب په سخت چاپیریال کې وده وکړي. دوی اوس هم د خوړو لپاره ښکار او کب نیولو ته ادامه ورکوي، لکه سمندري خوګ، نهنګ او کاریبو یا ګوزن د خپلو ټولنو د مړولو لپاره ښکار کوي.

## پ) میتیز (Métis)




دا په اصل کې د پوستکي د اروپایي سوداګرو ماشومان او د لومړنیو ملتونو میرمنې وې. (Métis) میتیز په خپلو ټولنو کې د یو ځانګړي کلتور او عنعناتو د درلودو تر څنګ د سوداګریزو لارو په لرلو سره یوه ډله بېل خلک شول. نن ورځ، دوی د کاناډا په اوږدو کې، په ځانګړي توګه په اونټاریو او لویدیځو ولایتونو کې ژوند کوي.



د 1600میلادي پیړۍ په لومړیو کې، نویو اروپایي میشته کیدونکو اوسیدل پیل کړل او په مستعمرو (کالونیو) جوړولو یې پیل وکړ او اوسنۍ کاناډا یې تشکیل کړه. استعمار پدې معنی چې په هغه ځمکه باندې میشته کیدل او ملکیت اخیستل چې د مخه د نورو خلکو لخوا نیول شوې وي. پدې حالت کې، اصلي ملیتونه (بومي خلک) د اروپایی میشتېدونکو له خوا مستعمره شوې.


**2.** "فرانسوي کاناډایان" د اکاډیانو په ګډون، کیوبیکي او په کاناډا کې د فرانسوي ژبې نورې ټولنې دي.



اکاډیان په هغو سیمو کې د فرانسوي میشته شویو اولادونه دي چې اوس د اتلانتیک سیمه ده. نن ورځ، د اکاډیانو کلتور وده کوي او د فرانسوي ژبې کاناډا یوه ژوندۍ برخه ده.





کیوبیکیان د کیوبیک ایالت خلک دي. ډیری د فرانسوي ژبې میشته شویو خلکو اولادونه دي چې د 1600 او 1700 میلادي پیړیو (مشترکه دوره) تر منځ راغلي دي. کیوبیکیان ځانګړې پیژندګلوي، کلتور او ژبه لري. نن ورځ شاوخوا یو ملیون فرانسوي ژبي خلک له کیوبیک پرته په نورو ولایتونو کې ژوند کوي.



**3.** "انګلیسي کاناډایان" د انګلیسي، ویلزي، سکاټلینډي او آیرلنډي ژبو د ویونکو اولادونه دي چې د 1600 او 1900 میلادي پیړیو ترمنځ کاناډا ته راغلي.


ډېری داخلي ملېتونو اروپایانو ته ښه راغلاست وایه او له دوی سره یې په سوله ایزه توګه تجارت کاوه. اصلي ملېتونو اروپایانو ته هغه مهارتونه ښوولي چې دوی ورته اړتیا درلوده تر څو د کاناډا په سخت ژمي کې ژوندي پاتې شي .



تړونونه هغه توافقنامې دي چې د اصلي خلکو او د کاناډا حکومت ترمنځ شوي دي. ځینې لومړنیو ملېتونو د ښوونځیو، کلنیو تادیاتو او د ښکار او کب نیولو د ټاکلو حقونو په بدل کې د ځمکې لویې سیمې پرېښودې. اصلي خلک او حکومت تل په ورته ډول تړونونه په سمه توګه نه درک کوي. له ځایي خلکو سره د خپلو ژمنو په پوره کولو کې د کاناډا تجربه تر نن ورځې پورې جنجالي پاتې ده. په کاناډا کې د اصلي خلکو د تاریخ په اړه معلومات به ستاسو سره مرسته وکړي چې نن ورځ دوی په ښه ډول وپېژنئ.



کاناډا ژمنه ده چې له ځایی خلکو (اصلي اوسېدونکو) سره د پیژندنې، درناوي، همکارۍ او ملګرتیا پر اساس اړیکې پیاوړې کړي.



د کاناډا قانون د ځایی خلکو (اصلي اوسېدونکو) حقوق مني. پدې کې شامل دي:



**1.** د تړون حقوق




**2.** د ښکار او کب نیولو حقوق



**3.** د ځمکې حقوق



**4.** د خپلې-اداري یا حکومت کولو حق



له بده مرغه د کاناډا حکومت تل د ځايي خلکو (اصلي اوسېدونکو) حقونو ته درناوی نه دی کړی.



په 2008 کې، حکومت د حقيقت او پخلاينې کميسيون رامنځته کړ. دې پلي د ځايي خلکو، حکومت او ټولو کاناډايانو ترمنځ له درناوي څخه ډکو اړيکو را منځته کولو د لارو چارو په اړه راپور خپور کړ. دې ته "پخلاينه" ويل کيږي او يوه روانه پروسه ده.

په کاناډا کې هرڅوک له ځايي خلکو (اصلي اوسېدونکو) سره په پخلاينه کې برخه اخلي.

**لارښوونې:** د پخلاينې لپاره وړانديز شوي کړنې ولولئ. د هغو کړنو په بکس کې د "✓" صحيح نښه وليکئ چې تاسو به يې په کاناډا کې کوئ.



1. ☐ د اصلي خلکو په اړه نور معلومات تر لاسه کړئ



2. ☐ د ځايي خلکو (اصلي اوسېدونکو) او د دوی دودونو ته درناوی وکړئ




3. ☐ د ځايي خلکو (اصلي اوسېدونکو) د هنرمندانو او سوداګرو ملاتړ وکړئ



4. ☐ د ځايي خلکو په مراسمو کې برخه واخلئ

## 1.3 د کاناډا نقشه

**لاربښوونې:** د کاناډا نقشه وګورئ. که تاسو پوهیږئ چې چېرې به اوسیږئ، نو هغه ومومئ او "X" رسم کړئ.




★ اوټاوا د کاناډا پلازمینه ده. دا د اونټاریو او کیوبیک ولایتونو تر منځ موقعیت لري.




انګلیسي او فرانسوي د کاناډا دوه رسمي ژبې دي. د قانون له مخې، فدرالي حکومت باید په کاناډا کې په دواړو ژبو یعنې انګلیسي او فرانسوي کې خدمات وړاندې کړي. کیوبیک په رسمي ډول د فرانسوي ژبې ولایت دی. د نوي برونزویک ولایت رسمي ژبې فرانسوي او انګلیسي دي. په نورو ولایتونو او سیمو کې ډېری خلک په انګلیسي ژبه خبرې کوي، مګر په ټوله کاناډا کې د فرانسوي ژبې تولنې شتون لري.

په کاناډا کې د فرانسوي ژبو ټولنو په اړه نور معلومات
Carte interactive sur les collectivités francophones
دلته و ګورئ :

## 1.4 د کاناډا سمبولونه

**لاربښوونې:** د کاناډا سمبولونه وګورئ. د سمبول او د هغه د تشریح ترمنځ یوه کرښه رسم کړئ.

1. 

د عقاب وزر

2. 

Inuksuk

3. 

د لامحدود سمبول

4. 

د میپل ونې پاڼه

5. 

د اوبو سپی

6. 

کوکنار

ا) د (Métis) میتیز په بیرغ کې کارول کیږي. دا په دې مانا ده چې اصلي او اروپایي کلتورونه سره یو ځای شوي دي، او (Métis) میتیز خلک به د تل لپاره ژوند وکړي.

ب) په کاناډا کې د یوې عامې ونې څخه. دغه ونه یو خوږ شربت تولیدوي، او پاڼې یې رنګونه بدلوي. دا د کاناډا په بیرغ کې ښکاري.

پ) د لومړیو ملتونو مقدس سمبول چې د خالق سره د اړیکې استازیتوب کوي. دا په مراسمو کې کارول کیږي.

ت) د هغو سرتیرو د یادولو سمبول چې د کاناډا د آزادۍ لپاره یې جګړه کړې او مړه شوي .


ټ) د دې د پوست د پټ تجارت په پخوا وختونو کې د کاناډا د اقتصاد لپاره مهم و.

ث) د انویت ډېرو جوړښت د ارتباط لپاره کارول کیږي. دا په ارکتیک (شمالي قطب) کې د بقا لپاره یوه وسیله ده یا روحاني نښنه ده.

ځوابونه: 1 (ث); 2 (پ); 3 (ا); 4 (ب); 5 (ټ); 6 (ت)

# 1.5 فصلونه

په کاناډا کې د څلورو فصلونو او د هر فصل په جریان کې د هوا د بدلېدو د څرنګوالي په اړه معلومات و لولئ.






## 1.6 د هر فصل لپاره فعالیتونه

ډېر فعالیتونه شتون لري چې په کاناډا کې خلک د هر فصل په جریان کې ترې خوند اخلي.

**لارښوونې:** موسمي فعالیتونه وګورئ. د فعالیت او د فصل ترمنځ کرښه رسم کړئ.



ا) د میوو او سبزیجاتو را ټولول




ب) په میلو وتل (میلې کول)



چ) د ګلانو کېنبت کول



ج) سلیډینګ یا د تختې په سر پر واورې ښویېدل







پ) سکیټینګ



ث) د ونو له رنګونو څخه خوند اخیستل



ت) لامبو وهل



ټ) د بورې شربت جوړولو له ځایونو نه لیدنه (چېرې چې د میپل شیره ایشول کیږي او شربت ترې جوړیږي)

ځوابونه: 1 (پ، ج)؛ 2 (ب، ټ)؛ 3 (ث، چ)؛ 4 (ا، ت)


د اصلي اوسېدونکو اختراعاتو د کاناډا په لومړني تاریخ کې لوی رول لوبولی. دوی له کور نه بهر فعالیتونو ته دوام ورکوي چې په کاناډا کې خلک د ټولو فصلونو پرمهال خوند ترې اخلي.



## 1.7 د ژمي لپاره چمتو یاست؟

د کاناډا ژمي هغو نویو راغلو کسانو ته کیدای شي ټکان ورکړي، ځوک چې ممکن له یخ یا خورا سړې هوا سره بلد نه وي. لږ باد کولی شي چې هوا ډېره سړه کړي. په ژمي کې د ځان گرم ساتلو لپاره څو ډوله پوښاک یو پر بل واغوندئ.

**لارښوونې:** د بدن بېلا بېلې برخې وګورئ چې د یخ له امله په خطر کې دي. د بدن د هرې برخې او جامو ترمنځ کرښه رسم کړئ چې بدن ساتي.




**په کاناډا کې خلک ټول کال فعال وي او په هر فصل کې له ډېرو بیروني فعالیتونو څخه خوند اخلي. په سمه توګه پوښاک اړین دی.**

ځوابونه: 1 (ت)؛ 2 (ا)؛ 3 (ث)؛ 4 (ب)؛ 5 (ټ)؛ 6 (پ)

په بهر کې د کاناډا لارښود: **د ګډونوالو کاري کتاب**

لومړۍ برخه : کاناډا ته عمومي کتنه

## 1.8 د کاناډا مخونه

**لاربښووني:** خلکو ته وګورئ. د هغو خلکو په چوکات کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو فکر کوئ کاناډایي دي.


.1 ☑


.2 ☐


.3 ☐



.4 ☐


.5 ☐


.6 ☐


.7 ☐


.8 ☐


.9 ☐


.10 ☐


.11 ☐


.12 ☐

ځوابونه: 1 (✓)؛ 2 (✓)؛ 3 (✓)؛ 4 (✓)؛ 5 (✓)؛ 6 (✓)؛ 7 (✓)؛ 8 (✓)؛ 9 (✓)؛ 10 (✓)؛ 11 (✓)؛ 12 (✓)

نوي راغلي کسان کاناډا ته خپلې وړتیاوې (استعدادونه) راوړي. په ټولنه کې د دوی ګډون د کاناډا په بریا کې مرسته کوي. دوی کار کوي، مالیه ورکوي، ملګرتیا کوي او په خپلو ټولنو کې بوخت دي.





په هیواد کې له هرو 5 کسانو څخه 1 له کاناډا بهر زیږیدلی دی.




په کاناډا کې له خلکو تمه کیږي چې د عمر، جنسیت، نسل، تولنیز ټولګي، واده/مدني حالت، ژبې، مذهب، ملیت، د کډوالۍ وضعیت، جنسي تمایل او وړتیا یا معلولیت په پام کې نیولو پرته ټولو خلکو ته زغم او درناوی و کړي.

دا له دې لارو ترسره کیدلی شي:







1. له درناوي ډکې خبرې او کړنې تر سره کول

2. د ټولو خلکو د ژوند کولو حق ته داسې درناوی ورکړئ لکه څنګه چې دوی غواړي، حتی که دا ستاسو د ژوند کولو له ځرنګوالي څخه توپیر ولري

3. پرته له استثنا له ټولو خلکو سره عادلانه چلند ته وده ورکړئ.



**په داسې حال کې چې تاسو په کاناډا کې ژوند تنظیم کوئ، د خلاص ذهن ساتل او انعطاف درلودل او د توپیرونو په اړه زغم کول به ستاسو سره مرسته وکړي.**


## 1.9 تنوع



کاناډا هغه هیواد دی چې تنوع ته ارزښت ورکوي او درناوی یې کوي. د کاناډا قانون په هر چا مساوي پلی کیږي. د دې کاري کتاب په راتلونکو پاڼو کې د هغې تنوع په اړه ولولئ چې په کاناډا کې شتون لري.

**لارښوونې:** په کاناډا کې د جنسي ځانګړتیاوو، جنډر پيژندني، جنډر څرګندونې او جنسي تمایل او حقونو د تنوع په اړه ولولئ.

### 1. جنسي ځانګړتیاوې



کله چې موږ زیږیږو، جنس معمولاً موږ ته د بیولوژیکي نښو پر بنسټ راکول کیږي. موږ ته معمولاً زموږ د ظاهري بڼې یا د بدن د جوړښت پر بنسټ د ډاکټر یا زموږ مور او پلار له خوا ویل کیږي چې موږ نارینه ♂ یا ښځینه ♀ یو. ځینې خلک په طبیعي ډول له نارینه او ښځینه ګډ بیولوژیکي ترکیب سره زیږیدلي دي ⚪. موږ ټول د جنسیت ځانګړتیاوې لرو. د خپل جنسیت په اړه فکر وکړئ.

### 2. د جنسیت پیژندنه



د ښځینه کیدو♀، نارینه کیدو♂ یا دواړه⚥ یا هیڅ یو په اړه زموږ خپل احساس ⊖. زموږ د جنډر هویت ممکن هغه جنسیت ته ورته وي، یا ور سره توپیر ولري چې موږ ته د زیږیدنې په وخت کې را کړل شوی. موږ ټول جنډر یا جنسیتي هویت لرو. هیڅوک نشي کولی موږ ته و وایي چې زموږ د جنډر هویت څه دی؛ یوازې موږ پوهیږو. زموږ د جنډر په اړه زموږ پوهه ممکن بدلون ومومي. د خپل جنسیت په اړه فکر وکړئ.


### 3. د جنسیت څرګندونه




موږ څنګه د خپل جنډر هویت څرګند یا وړاندي کوو. زموږ د جنډر څرګندونه کیدای شي د نارینه♂، ښځینه♀، مخلوط⚥ یا بل ډول وي. د جنډر یا جنسیت په ظاهري حالت کې زموږ د جامو انتخاب، د ویښتانو انداز (سټایل)، میک اپ، حرکات، غږ او چلند شامل دي. هغه نوم او ضمیرونه چې موږ یې کاروو، هغه لارې دي چې موږ خپل جنسیت بیانوو. دا چې څنګه موږ خپل جنسیت اظهاروو، ممکن بدلون ومومي. موږ ټول خپل جنسیت له بیلا بیلو لارو څرګندوو. په دې اړه فکر وکړئ چې تاسو څنګه خپل جنسیت څرګندوئ.

## 4. جنسي تمایل

بل چا ته زموږ فزیکي، رومانتیک او احساساتي جذابیت. موږ ته کیدای شي مخالف جنس، ورته جنس یا هغه څوک چې له یو نه ډیر جنسیتونه ولري جذابیت ولري او د دوی تر تاثیر لاندې شو. موږ ټول جنسي تمایل لرو. زموږ د جنسي تمایل په اړه زموږ پوهه ممکن بدلون ومومي. د دې په اړه فکر وکړئ چې تاسو په کوم جنس کې جذابیت لرئ.




د کاناډا قانون خلک د دوی د جنسي ځانګړتیاو، جنډر پیژندنې، جنډر څرګندونې او جنسي تمایل له امله له نامناسب چلند څخه ساتي.



ا) د مختلفو جنسونو یا همجنسه خلکو په ګډون واده د هرچا حق دی.





ب) که یو څوک حس کړي چې د دوی جنډر پیژندنه د دوی د زیږون پرمهال ټاکل شوي جنس څخه توپیر لري، نو دوی کولی شي په قانوني ډول خپل جنس بدل کړي. د کاناډا پاسپورټونه او د پیژندنې اسناد خلکو ته اجازه ورکوي ترڅو خپل جنسیت لکه "نارینه" ، "ښځینه " یا "بل جنس " غوره کړي (✖).



پ) په کاناډا کې، خلک حق لري خپل جنسي تمایل، د جنډر پیژندنه او د جنډر څرګندونه په هغه ډول چې دوی يې غوره کوي، څرګند کړي.




**د مختلف جندر لرونکي خلک له هغه وخت راهیسې په کاناډا کې ژوند کوي چې اروپایی مېشتېدونکي راغلل. نن ورځ ځینې اصلي اوسېدونکي چې له نارینه یا ښځینه پرته بل ډول جنسیت لري د "دوه روح " په توګه پیژندل کیږي. دوه- روح هم د ځینې اصلي اوسېدونکو لپاره معنوي مفهوم لري.**



## 1.10 په کاناډا کې معلولیت لرونکي خلک



معلولیت لرونکي خلک نیمګړتیاوې، د فعالیت محدودیتونه او د ګډون کولو محدودیتونه لري. ځیني معلولیتونه لیدل کیږي، او ځیني نور یې نه لیدل کیږي. یو شخص کیدای شي د معلولیت سره دنیا ته راشي یا د ټپي کیدو، ناروغی یا زوړوالي له امله معلول شي.



په کاناډا کې له 5 کسانو څخه 1 کس لږ تر لږه یو معلولیت لري.




معلولیت لرونکي خلک حق لري چې د کاناډا د نورو اوسېدونکو په څېر د خپل ژوند په ټولو برخو کې له ورته کیفیت څخه برخمن شي. که تاسو یا مو د کورنۍ غړی معلولیت لري، نو خپل حقونه وکاروئ او خپلې اړتیاوې له هغو خلکو سره شریکې کړئ چې ستاسو سره مرسته کوي.



په کاناډا کې سوداګرۍ، ښوونځي، سازمانونه او ټولنې د معلولیت لرونکو خلکو د اړتیاوو پوره کولو لپاره کار کوي.

پدې کې شامل دي:




1. د لاسرسي وړ عامه ځایونو او عامه ترانسپورت رامنځته کول



2. د معلولیت لرونکو خلکو سره زده کړې ته د لاسرسي لپاره د بورسونو یا مالي ملاتړ چمتو کول



3. د کار ځایونو ته بدلون ورکول ترڅو معلولیت لرونکي خلک هلته کار و کولی شي




4. په کار، تعلیم، هستوګنې او د ورځني ژوند په نورو اړخونو کې د معلولیت لرونکو خلکو سره غیر مساوي چلند رد کول





**دلته هغه خدمات په ګوته کیږي چې کولی شي ستاسو یا د کورنۍ د هغه غړي سره په لګښت کې د پام وړ مرسته وکړي چې معلولیت لري. د نورو معلوماتو لپاره د خپل حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ.**

## 1.11 په کاناډا کې د معلولیت لرونکو خلکو سره تعامل کول:

**لارښوونې:** د معلولیت لرونکو خلکو صحنې وګورئ. د هرې صحنې او د هغې د توضیح ترمنځ یوه کرښه رسم کړئ.

1. 

ا) خپله له معلولیت لرونکي کس سره مستقیمې خبرې وکړئ، نه د هغه چا سره چې د دوی سره مرسته کوي.

2. 

ب) دا فکر مه کوئ چې معلولیت لرونکی کس نشي کولی یو څه وکړي.

3. 

پ) تاسو شخص په پام کې ونیسئ، نه د هغه معلولیت.

4. 

ت) د معلولیت لرونکي کس یا د هغوی د مرستې وسایلو ته د هغوی له اجازې پرته لاس مه وروړئ.

5. 


ټ) که چیرې یو معلول کس مرستې ته اړتیا ولري نو د دې پر ځای چې له هغوی سره له پوښتنې پرته مرسته وکړئ، لومړی له هغه څخه پوښتنه وکړئ چې مرسته غواړي او که نه.

6. 


ث) معلولیت لرونکي کس ته "غیر نورمال" مه وایاست.

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ث)؛ 3 (ا)؛ 4 (ب)؛ 5 (ټ)؛ 6 (ت)

## 1.12 په کاناډا کې تبعیض




تبعیض خلک د هغه کارونو څخه منع کوي چې نور خلک يې په آزاده توګه ترسره کولی شي. د چا په وړاندې تبعیض کول پدې معنی دي چې نورو خلکو ته په کتو د هغوی سره نا مساویانه چلند وشي او د خلکو په نظر یو منفي عمل ښکاره شي.



په کاناډا کې خلک مني چې تبعیض شتون لري. سره له دې چې کاناډا یوه ګڼ کلتوریزه او منونکي ټولنه ده، خو بیا هم په دې هیواد کې له هرو 5 څخه 1 کس تبعیض تجربه کړی دی.

تبعیض په مختلفو شکلونو پېښېدلی شي. ځینې وختونه د تبعیض پېژندل اسان وي خو کله ډېر پټ وي.

تبعیض کېدای شي د ورځنیو کړنو بڼه خپله کړي لکه غیر مستقیم سپکاوی او نیمګړتیاوې په ګوته کول. ځینې دا ډول سپکاوې په لاندې توګه دي:




1. د یو کم عقل شخص په توګه ورسره چلند کول.



2. د مشکوک شخص په توګه چلند ورسره کیږي.



3. د خدماتي کارمند په توګه تېروتنه.



4. یا خدماتو ته د لاسرسي پرمهال د یو کس سره غیر عادلانه چلند کول.



**له یو چا سره د هویت پر بنسټ ناوړه یا غیر عادلانه چلند کول د کاناډا د قانون پر بنسټ یوه غیر قانوني کړنه ده.**



**لاربښووني:** په کاناډا کې د تبعیض مثالونه وګورئ. د هر مثال او تبعیض د ډول ترمنځ کرښه رسم کړئ.

1.




"تاسو د کوم هیواد یاست؟ بیرته خپل هیواد ته لاړ شه!"

2.



"زموږ تیم لوبغاړو ته اجازه نه ورکوي چې خپل سر پټ کړي. تاسو نشئ کولی لوبه وکړئ. "

3.



"لیفټ مات شوی"



ا) د معلولیت پر بنسټ تبعیض



ب) د تابعیت پر بنسټ تبعیض




پ) د مذهب پر بنسټ تبعیض

ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (پ)؛ 3 (ا)

لومړۍ برخه : کاناډا ته عمومي کتنه

4.



"دوه سړي په عام
محضر کې لاسونه سره
ور کوي! بې شرمه! "

5.




"ښځې دا دنده نشي
ترسره کولی."

6.




"ستاسو په خیر خلک نشي
کولی دلته شیان واخلي!"

7.



"که د دوی په خیر خلک
دلته کرځیږي، نو ګاونډ به
نا امنه شي."




ت) د جندر پیژندنې پر بنسټ تبعیض



ب) د جنس پر بنسټ تبعیض



ث) تبعیض د دې پر اساس چې تاسو
له چا سره مینه لرئ (جنسي تمایل)



ج) د نژاد پر بنسټ تبعیض

## 1.13 په کاناډا کې د تبعیض اداره کول

په کاناډا کې تاسو حق لرئ په درناوي سره د هغو شرایطو یا کړنو په اړه ووېښتئ چې تاسو احساس کوئ چې تبعیض لري.


**لارښوونې:** په کاناډا کې د تبعیض د اداره کولو په موخه لاندې ورانديزونه وګورئ. د هغو کړنو په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې تاسو به یې په کاناډا کې د موجودیت پر مهال کوئ.




☐ **1.** د خپلو پیاوړتیاوو په اړه فکر وکړئ.



☐ **2.** له هغه چا سره خبرې وکړئ چې تاسو پرې باور لرئ.



☐ **3.** که امکان ولري، هغه کس ته چې تبعیض کوي ووایاست چې دا کار ودروي.




☐ **4.** توضیحات ولیکئ، څه پېښ شوي، نومونه، نیټې، وخت او ځایونه. که چېرې د تبعیضي چلند نمونه شتون ولري نو دا به یې څرګنده کړي.


لومړی برخه : کاناډا ته عمومي کتنه



**.5** د رواني روغتيا پاملرنې له يوه مسلکي کس څخه مرسته وغواړئ.



**.6** تاسو کولی شئ د لاربښوونې لپاره د ځايي پوليسو غير عاجلي تليفون شميرې ته زنګ ووهئ.



**.7** که چيرې د کار په وخت کې د ځورونې کومه پيښه را منځته کيږي، نو معلومه کړئ چې آيا ستاسې کومارونکی د ځورونې ضد پاليسي لري او که نه، د درلودو په صورت کې هغه تعقيب کړئ.




**.8** که تاسو په خطر کې ياست نو 911 ته زنګ ووهئ.

**تبعيض کله کله د تاوتريخوالي لامل کيږي. په کاناډا کې د تبعيض تاوتريخوالی عام ندی. دا ډول تاوتريخوالی له قانون څخه جدي سرغړونه ده.**


## 1.14 هغه شیان چې خلک یې په کاناډا کې کوي

تاسو به وګورئ ځینې خلک په کاناډا کې په عامه ځایونو کې په داسې ډول عمل کوي چې ممکن ستاسو یا هغو خلکو له عمل سره توپیر لري چې تاسو یې پیژنئ.


**لارښووني:** په کاناډا کې عامه سلوک وګورئ. د چلندونو په هغه بکس کې چې تاسو ته نوي دي د "✓" صحیح نښه و لیکئ.



☐ **1.** په قطار کې درېدل



☐ **2.** دوه نفره یو بل ښکلوي (د ورته جنس لرونکو جوړو په ګډون)




☐ **3.** یو بل ته په سترګو کې کتل



☐ **4.** نا پیژانده کسانو ته خندل یا سلام کول




☐ **5.** مذهبي جامې او سمبولونه اغوستل




☐ **6.** لنډ نیکر او بې لستونو کمیس اغوستل



☐ **7.** په عامه ځایونو کې شیدې ورکول



☐ **8.** د تخرګونو عطر یا سپرې کارول



**په کاناډا کې په عامه ځایونو کې کثافات اچول، توکول، ادرار کول او پرته له خولې پټولو توخې کول یا ناړې توف کول یا پرنجې کول یو نه منونکی عمل ګڼل کیږي.**

## 1.15 د کاناډا قوانین

په کاناډا کې د قوانینو درې درجې شتون لري.








**1. فدرالي قوانین**
دا قوانین په کاناډا کې په اوسېدونکي هرکس باندې پلي کېږي. د بېلګې په ډول د کډوالۍ او پر عایداتو د مالیاتو قوانین.

**2. ولایتي او سیمه ییز قوانین**
دا قوانین د ولایت او سیمې له مخې توپیر لري. مثالونه یې کور جوړونه، روغتیا، تعلیم او کورنۍ دي.


**3. د ښاروالۍ قوانین**
دا قوانین په یوه ځانګړي ښارګوټي یا ښار کې پلي کېږي. پدې کې ممکن د شور، سګرټ څښلو، کثافاتو یا موټر پارک کولو په اړه قوانین شامل وي.




**ا)** د کاناډا د قانون پر بنسټ، څوک ګناهګار نه ګڼل کیږي تر هغې چې مجرم ثابت نشي.



**ب)** په کاناډا کې پولیس باید د هر چا سره یو شان چلند وکړي. دوی کولی شي په بیړني حالت کې مرسته وکړي.



**پ)** د ټولو جنسونو پولیس افسران شتون لري.



**ت)** پولیس کار کوي ترڅو ټولنې خوندي وساتي، جرمونه وڅیړي او د جرم له قربانیانو سره مرسته وکړي. دوی کولی شي خلک ونیسي او د قانون له مخې یې په جرم تورن کړي.


**تاسو مسؤلیت لرئ چې پر قوانینو او د قوانینو د ماتولو پر عواقبو باندې ځان خبر او پوه کړئ (له قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي).**

## 1.16 هغه څه چې په کاناډا کې غیر قانوني دي

**لارښوونې:** په کاناډا کې غیر قانوني کړنو ته وګورئ. که چېرې عواقب نقدي جریمه وي نو په بکس کې "$" علامه ولیکئ. که چېرې عواقب زنداني کېدل وي په بکس کې "Ⅲ" علامه و لیکئ.



1. له اجازې پرته د وسلې ګرځول [Ⅲ]



2. له کمربند ترلو پرته موټر چلول [ ]



3. په عامه ځایونو کې سګرټ څکول [ ]



4. په داسې حال کې موټر چلول چې فکر مو ګډوډ وي [ ]



5. پرته له جواز څخه کب نیول یا ښکار کول [ ]



6. له اجازې پرته جنسي لمس یا څرګندونې [ ]



7. په فزیکي ډول بل کس ته زیان رسول (د کورنۍ د غړو په ګډون) [ ]

ځوابونه: 1 (Ⅲ); 2 ($); 3 ($); 4 ($); 5 ($); 6 (Ⅲ or $); 7 (Ⅲ)

**8.** یو دولتي مامور ته رشوت ورکول




**9.** د ناقانونه درملو پلور، کارول یا لیږدول



**10.** په یو وخت کې له یو څخه ډیرو خلکو سره واده کول



**11.** د لوڅو ماشومانو عکسونه جوړول، شریکول یا مالکیت کول



**12.** د نشه کوونکو موادو له استفادې وروسته موټر چلول (مخدره توکي، الکول، درمل)



**13.** واده ته د نورو مجبورول



**14.** له ماشومانو سره جنسي اړیکي درلودل



**15.** د ښځینه تناسلي آله ختنه کول






**په کاناډا کې له دې قوانینو څخه کوم یې ستاسو لپاره نوي دي؟**

ځوابونه: 8 (□)؛ 9 (□)؛ 10 (□)؛ 11 (□)؛ 12 (□)؛ 13 (□)؛ 14 (□)؛ 15 (□)

## 1.17 په کاناډا کې قانوني کړنې



په کاناډا کې خلک بنايي داسي آزادی ولري چي له هغو ځايونو سره توپير ولري چېرې چي تاسو اوسيدلي ياست. تاسو يواځي په دې وجه چي په کاناډا کې ژوند کوئ، اړتيا نه لرئ چي دا کړنې ترسره کړئ يا له دوی سره موافق اوسئ. په هرصورت، ستاسو څخه تمه کيږي تر څو د دې خبرې درناوی وکړئ چي نور خلک د دې کارونو د کولو حق لري، حتی که تاسو موافق هم نه ياست.



1. که د 18 کالو څخه پورته ياست نو پريکړه کولی شئ چي له چا سره او کله واده کوئ (د ورته جنډر په ګډون له يو چا سره).



2. د حمل ختمول (سقط جنين)



3. د بنګ محصولات کارول (يواځي لويان)



4. د شرابو څښل (يواځي لويان)



5. هغه کس چي په داسي لا علاجه ناروغی اخته وي چي په پايله کې يې دی مړ کيږي، کولی شي د ځان د مړ کولو لپاره له ډاکټر څخه مرسته و غواړي. (د ډاکټر په مرسته ځان مړ کول)

6. د حکومت پر ضد سوله ییز لاریون



7. د مجردو خلکو یا همجنسو جوړو په
ګډون د ماشومانو لرل



8. په هر مذهب او یا هم په هیڅ مذهب
عمل کولی شئ




9. په قانوني ډول جندر بدل کړئ (نارینه ♂
، ښځه ♀ ، بل جنس) ✕







**په کاناډا کې بلوغ ته د رسېدو عمر 18 یا 19
کاله ګڼل کیږي. په دې برخه کې ولایتونه یا
سیمې یو له بله توپیر لري.**



## 1.18 د کورنۍ محرکات



په کاناډا کې کورنۍ ممکن له هغو کورنیو سره توپیر ولري چېرې چې تاسو اوسیدلئ. د کورنۍ د هر غړي مسؤلیتونه په هره کورنۍ کې توپیر لري.



1. نوي هیواد ته تلل په کورنۍ اغیزه کوي ځکه چې د غړو اکثره مسؤلیتونه بدلیږي. دا بدلونونه کیدای شي پرتاسو فشار واچوي.



2. د دې بدلونونو سره د مقابلې لپاره سالمي لارې شتون لري لکه خبرې کول او د کورنۍ د هغو غړو ملاتړ کول چې ستونځې لري.



3. ځینې نوي راغلي والدین وایي چې دوی ته په کاناډا کې ژوند ستونځمن دی. د دوی ماشومان له نوي کلتور سره د دوی په پرتله په ګړندیتوب سره ځان تنظیم کوي. والدین ممکن د ځینې شیانو سره موافق نه وي چې د دوی ماشومان یې کوي، لکه دا چې دوی څنګه پوښاک کوي، خبرې کوي یا عمل کوي.

**د روحي فشار له لرلو سره سره باید په یاد و لرئ چې په کاناډا کې کورنۍ تاو تریخوالی غیر قانوني دی. زیات معلومات دلته و لولئ:**

**لاربښوونې :** د کورني تاوتریخوالي مثالونه وګورئ. د هر مثال او د هغه د توضیح ترمنځ یوه کرښه رسم کړئ.

ا) د ماشوم یا لویانو د اړتیاوو په اړه غفلت کول

ب) د اسنادو کنټرول کول یا د کورنۍ د نورو غړو له پیسو ناوړه ګټه اخیستل

پ) د کورنۍ غړی وهل

ت) د کورنۍ د عزت خوندي توب په موخه د بلې کورنۍ غړی وژل.

ټ) لفظي او/یا احساساتي سپکاوی اړول

ث) د کورنۍ غړي مجبورول چې جنسي عمل ترسره کړي

1. 

2. 

3. 

4. 


5. 

6. 

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ث)؛ 3 (ب)؛ 4 (ټ)؛ 5 (ا)؛ 6 (ت)

په بهر کې د کاناډا لاربښود: **د کډونوالو کاري کتاب**

که چیرې یو څوک نور و نه غواړي واده شوي ژوند ته دوام ورکړی، نو دواړه خواوې کولی شي د طلاق لپاره غوښتنه وکړي. په کاناډا کې، یوازې محکمه کولی شي طلاق ورکړي. کله چې طلاق واخېستل شي، نو دواړه والدین باید د خپلو ماشومانو مالي ملاتړ وکړي او د دوی د پاملرنې په اړه یوې موافقې ته ورسیږي.






**تاسو اړتیا نه لرئ په کاناډا کې د خپلې کډوالۍ د وضعیت د ساتلو لپاره په ناوړه اړیکه کې پاتې شئ. تاسو اړتیا نه لرئ د خپل دایمي اوسیدونکي د حالت ساتلو لپاره د خپل سپانسر (د میړه/مېرمنې یا ملګري په ګډون) سره ژوند و کړئ.**

که تاسو ګواښل کیږئ، هر ډول زیانمن کیږئ یا له تاوتریخوالي سره مخامخ کیږئ، نو تاسو کولی شئ:




1. په بیړني حالت کې د پولیسو 911 شمېرې ته زنګ و وهئ.
2. 211 ته زنګ ووهئ یا د ټولنیزو او روغتیایي خدماتو لپاره له 211.ca څخه لیدنه وکړئ.



3. په www.sheltersafe.ca کې سرپناه ومومئ .



4. له مشاور سره خبرې وکړئ او مشوره وغواړئ.



## 1.19 په کاناډا کې د ماشومانو انضباط برابرول

په کاناډا کې قوانین ماشومان له غفلت او ناوړه ګټه اخیستنې څخه ساتي. هرڅوک د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنې راپور ورکولو مسؤلیت لري. له کورنیو څخه ملاتړ شتون لري ترڅو ماشومان خوندي کړي او کورنۍ یو ځای وساتي. په هرصورت، قانون حکومت ته اجازه ورکوي چې ماشومان له یوې نا امنه کورنۍ څخه جلا کړي.

د ماشومانو د نظم لاندینۍ لارې په کاناډا کې د منلو وړ نه دي:



.1 وهل، په سوک وهل، په لغته وهل یا شکنجه کول



.2 د تیږي کولو یا وژلو ګواښ کول




.3 د خوړو یا لومړنیو اړتیاوو ورکړې څخه انکار کول



.4 مینه له پامه غورځول او انکار کول

په دې ځان پوه کړئ چې د دې کړنو پر ځای والدین څه کولی شي.



.1 کله چې خفه کیږئ نو د ځان آراmolو ته وخت ورکړئ.



.2 په بلوغت، عمر، پوهه، ځواک او تجربه کې د ماشومانو او لویانو ترمنځ توپیرونه په یاد ولرئ.



**3.** ماشوم ته فرصت ورکړئ چې د څو دقیقو لپاره په یوه خوندي ځای کې یوازې پاتې شي تر څو آرام شي.




**4.** د ماشوم پام بل فعالیت ته واړوئ.




**5.** کله چې ښه چلند کوي نو دوی ته انعام ورکړئ.



**6.** د نه منلو وړ چلند پایلې روښانه کړئ.



**7.** کله چې تاسو ستونزې لرئ نو نور والدین ومومئ تر څو ورسره وصل شئ.



**8.** د نظم را منځته کولو نورو لارو په اړه له مشاور سره خبرې وکړئ.



**9.** امتیازات رد کړئ او/یا حدود تنظیم کړئ.



**پورتنۍ د ډسپلین او نظم کومې لارې کولی شي ستاسو په کورنۍ کې ښې ثابتې شي؟**

دوهمه برخه

# سفر



# سفر



## 2.1 بیا میشتیدنه: امیدونه او ویره

د هغو دوه کسانو سره و وینئ څوک چې په کاناډا کې بیا میشت کیږي. له دوی څخه پوښتل شوي وو چې دوی څه فکر کوي چې د دوی ژوند به کاناډا ته په تلو سره بدلون مومي. هریو خپله هیله او په کاناډا کې د ژوند د نوي پیل په اړه ویره څرګنده کړه.

**لاربښوونې:** کیسې مطالعه کړئ. د هغه هیلو او ویرې په اړه چې تاسو یې په کاناډا کې د ژوند په اړه لرئ په "✓" (نښې) سره په ګوته کړئ.

**1. له** ______________ سره و وینئ.



هغه 24 کلن دی. هغه مخکې لدې چې خپلې زده کړې بشپړې کړي خپل هیواد یې پریښود. د تیرودرې کلونو را هیسې، هغه یواځې دی، دخپل هیواد څخه بهر دی، او د یو کډوال په توګه ژوند کوي.

کله چې هغه په کاناډا کې د ژوند کولو لپاره قبول شو، نو هغه دغه لاندې لیست چمتو کړ:

د هغه هیلې:




☐ ا) چې د انګلیسي یا فرانسوي ژبې مهارت زده کړي




☐ ب) په یو خوندي او با امنه هیواد کې ژوند وکړي




☐ پ) چې خپلې زده کړې ته دوام ورکړي او دنده پیدا کړي ترڅو ځان وساتي


د هغه ویره داده:



☐ ا) په کاناډا کې یوازې اوسیدل



☐ ب) د ژمي اوږده سره هوا





☐ پ) بلدا چې د هغه پخوانۍ زده کړې به په کاناډا کې ونه منل شي او هغه به اړتیا ولري چې له سره یې پیل کړي

## 2. له ________________ سره وينئ.



هغه 45 کلنه ده. د هغې د ژوند ملګرى مړ شوى دى. هغه د کډوالو په کيمپ کې د تيرو 15 کالورا هيسې ژوند کوي. هغه هيڅ رسمي زده کړې نه لري. هغه کاناډا ته د خپلو دوه ماشومانو سره ځي.

کله چې هغه په کاناډا کې د ژوند کولو لپار ومنل شوه، هغې لاندې ليست چمتو کړ:

| د هغې هيلې دا دي: | د هغې ويره دا ده: |
|---|---|
|  |   |
| ☐ ا) چې د خپل ځان او ماشومانو لپاره يو روښانه راتلونکى ولري | ☐ ا) چې هغه په انګليسي او په فرانسوي ژبه خبرې نشي کولى. |
|  |  |
| ☐ ب) چې په يو ارام او بامنه چاپيريال کې ژوند وکړي | ☐ ب) هغه به د خپل هيواد او خپلوانو څخه ډيره لرې وي |
|  |  |
| ☐ پ) چې د هغې په نوي ټولنه کې ورته ښه راغلاست وويل شي او ملګرى پيدا کړي | ☐ پ) خپل ماشومان به يو نوي کلتور کې لويول |

کاناډا ته د تګ په اړه د اميد او ويرې ګډ احساسات درلودل عادي خبره ده.

هغه ټولې اضافي هيلې او ويره چې تاسو يې لرئ په دغه چمتو شويو کرښو کې وليکئ.

______________________________________________

______________________________________________


______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

## 2.2 ستاسو سفر



ستاسو سفر به کاناډا ته اوږد او ستړی کوونکی وي. ښايي د هغه هیواد څخه چې تاسو پکې اوسېږئ کاناډا ته مستقیمې الوتنې شتون و نه لري. ترڅو چې تاسو خپل اصلي هدف ته رسیږئ ښايي تاسو د یو څخه زیاتو الوتنو (فلایټ) ته اړتیا پیدا کړئ. دا د سفر کولو لپاره عامه خبره ده چې ډېر ساعتونه یا یو څو ورځې نیسي.

**لارښوونې:** د نړۍ نقشې ته وګورئ. هغه ځای چې تاسو پکې اوس میشت یاست پیدا اوپه "❌" سره يې په نښه کړئ. کاناډا د انګور ته ورته پاڼي سره په نښه شوي ده. د دغو دوو موقیعتونو ترمینځ کرښه راکاږئ.




## 2.3 کاناډا ته ستاسو سفر

لاندي معلومات کاناډا ته ستاسو د سفر لپاره مهم دي.

**لارښوونې:** کاناډا ته د خپل سفر په اړه معلومات بشپړ کړئ. دا یوه عادي خبره ده چې ښايي تاسو به له روانېدو څخه څو ورځې وړاندې د هرڅه په اړه معلومات ونه لرئ.
د خپل سفر اړوند معلومات په چمتو کړلو شوو لیکو کې و لیکئ یا تري دایره "⭕" چاپېره کړئ.

**1.** هغه هوايي ډګر چې تاسو به تري حرکت کوئ عبارت دی له:


___________________________



**2.** هغه هوايي ډګر چې تاسو به ترې د يوې بلې الوتنې (فلايټ) سره يوځای کيږئ عبارت دی له:

___


___



**3.** د هغو ساعتونو شمير چې ستاسو د هيواد څخه يې کاناډا ته د تلو يا سفر پر مهال نيسي عبارت دی له:

___


___



**4.** د کانـاډا لومړنـی هوايـي ډګـر چـې تاسـو بـه پکې ښکته کيږئ دی:

**ا)** تورنټو (Toronto) **پ)** وينکووير (Vancouver)


**ب)** مونټريل (Montreal) **ت)** کالګری (Calgary)



**5.** وروستی هوايي ډګر چې تاسو به پکې ښکته کيږئ عبارت دی له:

___

___



**6.** د کاناډا هغه ښار چې تاسو به پکې اوسيږئ عبارت دی له:

___

___




**7.** د هوايی ډګر څخه هغه ښار ته چې تاسو پکې اوسيږئ د ليږد ډول عبارت دی له:

**ا)** الوتکه

**ب)** د ښار د ننه بس يا سروېس (intercity bus)

**پ)** شخصي موټر يا ټيکسي




## 2.4 ستاسو د کډوالۍ قرضه



د کډوالۍ پروګرام له لارې، د کاناډا حکومت ستاسو په نمایندګۍ کاناډا ته ستاسو د سفر لګښتونه ورکوي. له تاسو څخه هیله کیږي چې دغه قرضه بیرته ورکړئ.




**1.** مخکې ستاسو د حرکت څخه، له تاسو څخه به وغوښتل شي د قرضې اسناد لاسلیک کړئ. په دې کې ستاسو د سفر د لګښتونو په اړه هغه معلومات شامل دي، کوم چې به تاسو کاناډا ته د سفر څخه وروسته بیرته ورکوئ. دا ورقې قانوني اسناد ګڼل کیږي.



**2.** په عمومي توګه، د کډوالۍ قرضه د روانیدو له ځای څخه نیولې په کاناډا کې تر وروستي منزل پورې ستاسو د سفر ټول لګښتونه پوره کوي.



**3.** تاسو کاناډا ته د رارسیدو څخه یو کال وروسته د قرضې بیرته ورکول پیلوئ.




**4.** دغه قرضه له سود پرته ده.



**5.** حکومت به تاسو ته یو اظهارلیک واستوي چې په هغه کې به یې له تاسو څخه غوښتنه کړې وي چې کله مو قرضه ورکوئ، څومره وخت به ونیسي او څه ډول یې ورکوئ.

که چیرې تاسو د خپلې کډوالۍ د قرضې په اړه هره پوښتنه لرئ، نو مهرباني وکړئ له دې 1-800-667-7301 شمیرې سره اړیکه ونیسئ یا په دغه بریښنالیک لیک واستوئ collection@cic.gc.ca

د کډوالۍ د قرضې په اړه لا زیات معلومات دلته ولولئ:



**6.** که چیرې تاسو د قرضې په ورکړه کې ستونزه لرئ نو باید حکومت ته خبر ورکړئ. که اړتیا وي، نو د میاشتني مقدار د تادیې را کمول تنظیمیدای شي.

دوهمه برخه : سفر

## 2.5 د سامانونو یا بکسونو ډولونه



**1. لاسي سامانونه یا بکس**
دا په سایز یا اندازه کې کوچنی دی. مسافر کولی شي دا د ځان سره په الوتکه کې انتقال کړي. دا باید د سیټ لاندي ځای په ځای شي یا د سر د پاسه د الوتکې د سامان کېښودنې په برخه کې کېښودل شي.



**2. پلټل شوي بکسونه**
دا معمولاً تر ټولو لوی بکسونه دي چې مسافر يې له ځان سره راوړلی شي. هوایي کرښه دا د الوتکې د ذخیره کولو په ساحه کې خوندي کوي. کله چې مسافر خپل بکسونه هوایي کرښې ته ورکوي نو دوی ته د هوایي کرښې لخوا یو رسید ورکول کیږي. دوی اړتیا لري چې دغه رسید له ځان سره وساتي او د بکس ورکیدو پرمهال يې وړاندي کړي. د الوتنې په پای کې مسافر خپل بکسونه له ځان سره اخلي.




**3. شخصي توکي**
دا کوچني توکي دي، په دې کې د لیپټاپ کمپیوټر، کوچنی لاسي بکس (د اسنادونو کوچنی بکس)، لاسی کوچنی کڅوړه یا دستکول شامل دي.



**چیک شوي بکسونه اکثره په اندازه، شکل او رنګ کې ورته وي. تاسو باید خپل بکسونه و پیژنئ. په ټولو بکسونو مو خپل بشپړ نومونه ولیکئ. د دې لپاره چې خپل بکسونه په سمه توګه وپیژنئ په یو شي سره يې په نښه کړئ.**

## 2.6 د بکسونو حدود

هره هوايي کرښه د بکسونو لپاره خپل معلوم حدود لري. د خپل سفر له تنظيم کوونکي يا د IOM له کارکوونکو څخه د بکسونو د حدونو لپاره وپوښتئ. دا محدوديتونه ټاکي چې:










**1.** د هربکس اعظمي اندازه په سانتي ميترسره ده چې تاسو يې د ځان سره راوړئ. تاسو کولی شئ چې اندازه په لوړوالي، اوږدوالي، اوپلنوالي سره وکړئ.

**2.** د هر بکس برخي اعظمي اندازه په وزن سره ده. تاسو به اړتيا ولرئ چې د ترازو په مرسته خپل هر بکس اندازه کړئ.

**3.** هر شخص ته د بکسونو شمير د هغه د عمر مطابق مجاز دي.

**لارښووني:** په چمتو شوي کربنه کي د خپلو بکسونو حدود وليکئ.





**1. هغه مسافر چې عمرونه يې د 2 کالو څخه ډير وي**
هغه مسافر چې عمر يې 2 کاله او د دې څخه پورته وي د کاناډا هيواد ته څومره او کوم ډول بکسونه را وړلی شي؟

___________________________


___________________________

**2. هغه مسافر چې عمر يې د 2 کالو څخه ټيټ وي**
هغه مسافر چې عمر يې2 کالو څخه ټيټ وي د کاناډا هيواد ته کوم ډول او څومره اندازه بکسونه د ځان سره وړلی شي؟

___________________________

___________________________

**3.** د هر بکس اعظمي اندازه او وزن څه شی دی؟



___________________________

___________________________

___________________________

د 2 کالو څخه ټيټ عمر لرونکي مسافر په الوتکه کې خپل شخصي سيټ نه لري. له همدي امله دوی د بيلابيلو بکسونو لپاره امتيازات لري.

**د هوايي کرښې لخوا ټاکل شوي د بکسونو حدود تعقيب کړئ. که تعقيب يې نکړئ،نو بنايي هوايي کرښه ستاسو د بکسونو منل رد کړي يا تاسو ممکن اضافي تاديه ورکولو ته اړتيا ولرئ. دا فيس معمولاً لوړ وي.**

## 2.7 په هر بکس کې څه شی ورل کېږي؟

**لارښوونې:** دې توکو ته وګورئ.

| | | |
|---|---|---|
| هغه توکي چې په **لاسي بکس** کې وړل کېږي، د هغه څخه په چوکاټ کې دایره "○" چاپېره کړئ. | په بکس کې د هغه توکو څخه مربع "□" چاپېره کړئ چې ستاسو په پلټل شوي **بکس** کې کېښودل کېږي. | په بکس کې دهغه توکو څخه چې ستاسو **شخصي سامان** ګڼل کېږي د مثلث "△" په شکل کرښه چاپېره کړئ. |

**د هر ډول بکسونو په اړه د پرېکړې کولو پر مهال د بکسونو ابعاد او د وزن محدودیتونه په پام کې ونیسئ.**




△ **.1** د ماشومانو د شیدو کوچنی مقدار او ډایپر یا پمپر




□ **.2** لیپټاپ کمپیوټر او ټابلیټس




□ **.3** سیل فون او ځیرک تلیفونونه



□ **.4** کامرې



□ **.5** نور برقي سامان الات (120-110 ولټ سره مطابقت لرونکي)



□ **.6** جواهرات



□ **.7** جامې او بوټان



□ **.8** د لوبو توکي




□ **.9** مذهبي توکي

ځوابونه: 1 (△)؛ 2 (△)؛ 3 (△)؛ 4 (△)؛ 5 (□)؛ 6 (○)؛ 7 (□)؛ 8 (□)؛ 9 (□)

 = "△"  = "□"  = "○"



**.10** د شخصي خونديتوب توکي (د حفظ الصحي پيډونو په شمول)



**.11** د مايعاتو کوچنۍ مقدار، کريم او جيل (په روښانه پلاستيکي کڅوړه کې هر يو 100 ملي ليتر څخه کم)



**.12** مايعات، کريم او جيل (هر يو له 100 ملی ليتر څخه ډير)



**.13** سيګرټ (تر 200 پورې پيچل شوي سيګرټ،50 داې خلاص سيګرټ او تر 200 ګرامه د تمباکو توليد شوي محصولات)




**.14** د وېښتو برشونه، ږمنځې او د غاښو نوبرش



**.15** الکول (تر 8.5 لېتره بير،1.5 لېتره واين،1.4 لېتره شرابو پورې)



**.16** اسناد او تصديق ليکونه



**.17** شخصي انځورونه



**.18** پيسې



**.19** کتابونه او قاموسونه




**.20** درمل د نسخو سره




**.21** په قوطيو يا ډبو کې ساتل شوي خواړه

ځوابونه: 10 (□)؛ 11 (○)؛ 12 (□)؛ 13 (□)؛ 14 (○)؛ 15 (□)؛ 16 (△)؛ 17 (○)؛ 18 (△)؛ 19 (□)؛ 20 (○)؛ 21 (□)







22. □ دا کاري کتاب



23. □ د سفر لپاره د لوبو خاموش توکي




24. □ بسته شوي خواړه



25. □ هغه جامې چې تاسو يې قات کولی شئ



26. □ چترۍ (په موسم پورې اړه لري)



27. □ ساعتونه



28. □ یو کتاب یا مجله



29. □ د ماشومانو د انتقال کوچنۍ لاس ګاډۍ



30. □ د سينګار توکي

دلته په هغه پیسو باندې چې تاسو يې د کاناډا هیواد ته راوړئ هیڅ محدودیت نشته. که تاسو کاناډا ته د 10000 کاناډايي ډالرو څخه زیاتو پیسو یا له دې څخه د زیات ارزښت لرونکو مالي توکو سره داخلیږئ نو تاسو باید هغه د کاناډا په ګمرکونو کې ښکاره یا تصفیه کړئ.





که نه نو، تاسو به حتمي جریمه ورکړئ
اویا د یوې بلې سزا سره مخ شئ.
تاسو د کاناډا هیواد ته د نغدو پیسي څخه نیولی، د پیسو اردر یا حکم، ذخیرې یا ستاسو د هیواد څخه د کاناډا د بانک له لارې په اسانۍ سره انتقالولی شئ. د پیسو ښکاره کول ښايي د هغې مالي مرستې پر اندازه اغیز و کړي چې تاسو به يې تر لاسه کوئ.

ځوابونه: 22 (□)؛ 23 (○)؛ 24 (○)؛ 25 (○)؛ 26 (○)؛ 27 (○)؛ 28 (○)؛ 29 (△)؛ 30 (□)

## 2.8 هغه شیان چې شاته پاتې کیږي

ځینې داسې شیان شتون لري چې تاسو یې کاناډا ته د راوړو اجازه نه لرئ . که تاسو دغه شیان کاناډا ته راوړئ او ښکاره یې نه کړئ،نو کله چې تاسو ورسیږئ ښایي جریمه ورکړئ یا له عدلي تعقیب سره مخ شئ.


هغه شیان چې منع کړل شوي دي باید شا ته پرېښودل شي لکه:



1. خواړه (په شمول د غوښې، شیدې، د لبنیاتو محصولات او میوې/سبزیجات)




2. نباتات، خاوره او لرګي



3. د حیواناتو برخې، په شمول د پوستکي




4. بوټي، مصالحې او تخمونه



5. لوی برېښنایي وسایل (په دې کې تلویزیونونه او د کور وسایل شامل دي)



6. اورنی اسلحې، وسلې او مهمات



7. د انسانانو هډوکي




8. موټرې



9. نشه يي توکي

## 2.9 په لاسي بکسونو کې منع شوي توکي







1. مايعات، کريم او جيل (هر يو له 100 ملی ليتر څخه ډير)



2. تيره او خطرناک توکي (ناخنگير، اور لگيت يا گوگړ، سېگرټ لايټر، قلمي، چاقو، د اورلگوونکي توکي او سپورتي وسايل)



3. هغه افراد چې له ماشومانو سره سفر کوي، معلومه کړئ چې آيا د ماشوم شيدې او غذا (په کوچنيو بوتلونو کې) تاسو په لاسي بکس کې د ورلو اجازه لرئ او که نه.



4. د ماشومانو سره د يو فرد سفر لپاره، د ماشومانو شيدې که چيرته (په يو کوچني قوطی يا ډبی) خوندي وي په خپل لاسي بکس کې کېنودلی شئ.

## 2.10 ستاسو د سفر څخه وړاندې

**لارښوونې:** هغه شیان و ګورئ چې تاسو یې چمتو کولی شئ ترڅو سفر وکړئ. د هر عمل او د هغې وضاحت ترمنځ یوه کرښه وکاږئ.

1.



2.



3.



4.



5.



ا) هغه شیان لرې کړئ چې ډېر ستر وي، غیر قانوني وي، یا هغه شیان چې به تاسو ته په کاناډا کې چمتو کړل شي.

ب) ترټولو زیات مهم شیان په خپل لاسي بکس کې خوندي کړئ.

پ) مهم اسناد ونه کاپي کړئ او له ځان سره یې واخلئ.

ت) داړه واوسئ چې تاسو خپل بکسونه پیژنئ او د ټولو خولې تړل شوي دي.

ټ) هغه توکي چې تاسو یې بسته کول غواړئ، د اهمیت، د خوندیتوب د محدودیتونو او وزن پر بنسټ را ټول کړئ.

**ستاسو د سفر په ورځ به، IOM تاسو ته یو بکس چې په هغه به د IOM یوه نښه وي چمتو کړي. دغه بکس د ځان سره بشکاره ونیسئ او د سفر پرمهال یې ساتنه وکړئ.**





ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ټ)؛ 3 (ا)؛ 4 (ت)؛ 5 (ب)


## 2.11 د IOM په بکس کې کوم اسناد دي؟






**لاربښووني:** اسنادونو ته وګورئ. د هر سند او نوم ترمینځ کرښه وکارئ.


1\.


2\.



3\.


4\.



5\.



6\.


ا) د دایمي استوګنې تصدیق

ب) نور اسناد، په شمول د وتلو اجازه که اړینه وي

پ) پاسپورټ یا د سفر اسناد


ت) ویزه

ټ) د طیارې تیکټ

ث) د کډوالۍ روغتیایي اسناد، که د تطبیق وړ وي

**د اوسیدنې دایمي تصدیق ستاسو د کډوالۍ رسمي سند دی. ستاسو د رارسیدو څخه څو اونۍ وروسته به، تاسو د اوسیدنې دایمي کارت ترلاسه کړئ.**
**ستاسو د اوسیدنې دایمي کارت ستاسو د دایمي اوسیدنې د تصدیق ځای نه نیسي. نو د دې لپاره باید تاسو د دایمي اوسیدنې تصدیق همیشه په یو خوندي ځای کې وساتئ.**

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ا)؛ 3 (ټ)؛ 4 (ت)؛ 5 (ب)؛ 6 (ث)



کاناډا ته د سفر په جریان کې، IOM د هغه خلکو سره چې جنسیت یې په اسنادو کې د لیکل شوي جنسیت څخه بیل څرګندیږي، مرسته کوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د IOM د کارمندانو سره په شخصي ډول خبرې وکړئ.

## 2.12 تاسو به کوم اسناد له ځان سره راوړئ؟


**لارښوونې:** هغه اضافي اسنادو ته چې ښايي تاسو يې ولرئ، وګورئ. په بکس کې هغه اسناد چې تاسو يې لرئ او د راوړو پلان يې لرئ په صحيح "✓" علامې سره په نښه کړئ.



☐ 1. طبي نسخې اوسوابق




☐ 2. تعلیمي اسناد



☐ 3. د واکسین کولو اسناد



☐ 4. د زیږېدو سند



☐ 5. د واده/طلاق اسناد



☐ 6. د مهمو اسنادو ژباړه

**لارښوونې:** نور هغه مهم اسنادونه چې تاسو به ورته اړتیا ولرئ په چمتو شوو کرښو کې ولیکئ.

___

___

___

___

___

___

## 2.13 په هوايي ډګر کې

ډېرې پروسې شتون لري چې تاسو به يې د هوايي ډګر څخه تر خپل نوي کور، يعنې کاناډاته تر رسيدو پورې طی مراحل کړئ. تاسو دا مرحلې ممکن د يو څخه زيات وخت څو ځله طی مراحل کړئ.

**لاربښوونې:** د هوايي ډګر کړنلارې ته وګورئ. د هوايي ډګر هرې کړنلارې او د هغې د وضاحت تر منځ کرښه رسم کړئ.

1.



د هوايي کرښې د دخولي-چيک (کتنې) غرفه

2.



تلاشۍ (کتنې) ځای

3.



امنيتي کتنځای

4.




د وتلو دروازه

5.



د ګمرکاتو کتنځای

6.



د بکسونو ځای

ا) د هغه افسر لاربښوونې چې تاسو او ستاسو بکسونه د خطرناکو توکو لپاره ګوري تعقيب کړئ. تاسو او ستاسو بکسونه د سکرين څخه د تيريدو اړتيا لري. يو افسر بنايي د خطرناکو توکو د پلټنې په موخه اړ شي چې تاسو لمس کړي.

ب) خپل بکس اندازه او نبنه پرې و نښلوئ. خپل بورډينګ پاس او د بکس د ثبتوني نښلېدونکي نښه ترلاسه کړئ. خپل بکس د هوايي کرښې د کارکوونکو سره پرېږدئ.

پ) خپل تيکټ ته وګورئ ترڅو د سيټ ځانګړي شميره او د انتظار ساحه ووينئ. دا هغه ځای دی چې تاسو به يکې الوتکې ته پورته کيږئ. په احتياط سره هر يو اعلان ته غوږ کيږدئ.

ت) د هغو توکو په اړه چې ستاسو په بکس کې پراته دي ځواب ورکړئ.

ټ) خپل پلټل شوي بکسونه د تيريدونکي پټی څخه واخلئ. بکسونه ډېر ځله يو شان ښکاري. ډاډ ترلاسه کړئ هغه بکسونه چې تاسو يې اخلئ ستاسو دي.

ث) له يوه هېواد څخه د خروج او دخول پر مهال، خپل اسناد حکومتي چارواکو ته د پلټنې لپاره چمتو کړئ.

ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ث)؛ 3 (ا)؛ 4 (پ)؛ 5 (ت)؛ 6 (ټ)

## 2.14 په هوايي ډګر کې وسايل

په هوايي ډګر کې، لاندې وسايل شتون لري چې له تاسو سره په سفر کې مرسته کوي.

**لارښوونې:** په هوايي ډګر کې توکو ته پام وکړئ. د هرې وسيلې او د هغې د توضيح تر منځ يوه کرښه وکاږئ.

1. 

د بار وړلو ګاډي

2. 

متحرکې يا تلونکې لارې

3. 


د معلوماتو څارونکې سکرين

4. 

د لارښوونې نښې

5. 

اتومات زينې

6. 

لفټونه

ا) د وخت او دروازې معلومات وښاياست کله او چيرې الوتنې راځي او ځي.

ب) که چېرې تاسو په هوايي ډګر کې د توکو او د معلوليت لرونکو خلکو د انتقالونکې ګاډۍ سره د يوې سطحې څخه بلې ته ځئ

پ) مرسته تاسو ته دا په نښه کوي چې چيرې تاسو غواړئ لاړشئ.

ت) ستاسو سره مرسته کوي چې په هوايي ډګر کې بکسونه انتقال کړئ.

ټ) که تاسو چيرته په هوايي ډګر کې د يوه پوړ څخه بل ته ځئ.

ث) له تاسو سره د ډېر واټن مزل په لنډولو کې مرسته کوي.

ځوابونه: 1 (ت); 2 (ث); 3 (ا); 4 (پ); 5 (ټ); 6 (ب)

## 2.15 د بورډینګ پاس (د پرواز کارت) په اړه معلومات

تاسو اړتیا لرئ چې خپل بورډینګ ښکاره کړئ. هر مسافر یې د خپل ځان لپاره لري. دا په یو خوندي ځای کې وساتئ او باید ورک یې نه کړئ.


**لارښوونې:** بورډینګ پاس (د پرواز کارت) ته وګورئ. د بورډینګ پاس د هر توري او له هغه سره مطابقت لرونکي عکس او وضاحت ترمنځ یوه کرښه وکاږئ.




ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ت)؛ 3 (ټ)؛ 4 (ث)؛ 5 (ح)؛ 6 (خ)؛ 7 (چ)؛ 8 (ج)؛ 9 (پ)؛ 10 (ا)

## 2.16 الوتکه

**لاربښووني:** د الوتکې د ننه نقشه وګورئ. د الوتکې د هرې برخې او هغې شميرې ترمينځ کرښه راکاږئ چې په نقشه کې چيرې موندل کيدی شي.




ځوابونه: (ا) 3؛ (ب) 1؛ (پ) 2


دوهمه برخه : سفر

# 2.17 ستاسو په څوکۍ کې


**لاربنوونې:** وګورئ چې د الوتکې په یوه څوکۍ کې څه شی پراته دي. د هر عکس او د هغه د تشریح ترمنځ یوه کرښه وکاږئ.

1. 

د هوا ناروغۍ (کانګې کولو) کڅوړه

2. 

پتنوس

3. 

د "سیټ بیلټ د تړلو" نښه

4. 

د زنګ وهلو تڼۍ


ا) هغه لاربنوونه چې تاسو یې باید د ځان د خوندي ساتلو لپاره تعقیب کړئ.

ب) یوه هموار او منظمه سطحه چې د الوتکې په څوکۍ کې د کېناستلو په مهال یې و کاروئ.

پ) هغه لاره چې د الوتکې د خدمي پام ځان ته واړوئ.

ت) یوه کاغذي یا پلاستیکي کڅوړه چې د کانګې (استفراق) د پېښېدو پر مهال یې و کاروئ.

ځوابونه: 1 (ت)؛ 2 (ب)؛ 3 (ا)؛ 4 (پ)

5. 

چراغ

ت) د معلوماتو کوچنی کتاب تاسو ته په الوتکه کې د لا زیات خوندیتوب په اړه معلومات درکوي.

6. 

په الوتنه کې د ساتیرۍ سیستم

ث) هغه ځای چې تاسو پکې خپل لاسي بکس ږدئ

7. 

د سر د پاسه د توکو ځای

ج) که چېرې په کابین کې تیاره وي نو د لوستلو یا نورو موخو په پار د استفادې لپاره.

8. 

د خوندیتوب لارښوونې کارت

چ) هغه لاره چې د وخت تیرولو لپاره فلمونه وویني، میوزیک ته غوږ شئ او لوبې وکړئ

له الوتکې څخه د خوندیتوب وسایل، لکه د ژوند جاکټونه، لرې کول غیر قانوني کړنه ده.

ځوابونه: 5 (ج)؛ 6 (چ)؛ 7 (ث)؛ 8 (ت)

## 2.18 هغه کارونه چې په الوتکه کې ترسره کیږي

**لارښوونې:** هغو فعالیتونو ته وګورئ چې تاسو یې په الوتکه کې ترسره کولی شئ. هغه کارونه چې تاسو یې د الوتنې په جریان کې ترسره کول غواړئ په بکس کې په "✓" نښه کړئ.



☐ **1.** خپل خواړه وخورئ او ډیر مایعات وڅښئ.




☐ **2.** خوب او آرام وکړئ.



☐ **3.** ماشومان په خپلو څوکیو کې بوخت او خاموش وساتئ.




☐ **4.** تشناب وکاروئ.



☐ **5.** که اړتیا وي درمل استفاده کړئ.



☐ **6.** له نورو مسافرو سره په نرم غږ خبرې وکړئ.



☐ **7.** د الوتنې د خدمتګارانو لارښوونې تعقیب کړئ.

**تاسو باید د حرکت او ښکته کیدو په جریان کې او د الوتکې د خدمتګارانو له لوري د لارښوونې پر مهال خپله پتۍ وتړئ.**

## 2.19 څوک له تاسو سره مرسته کولی شي؟

**لارښووني:** هغو خلکو ته وګورئ چې له تاسو سره د کاناډا سفر پرمهال مرسته کوي. د هر حالت او شخص یا هغه خلکو ترمینځ چې ستاسو سره د کاناډا په سفر کې مرسته کوي کرښه چاپیره کړئ. ځیني حالتونه د یو څخه زیات سم ځوابونه لري.



**1.** کله چې په الوتکه کې وږي، تږي یاست یا مرستې ته اړتیا لرئ.




**2.** په هوایی ډګر کې سایرن (زنګ) چالانیږي، او یو بیړنی حالت شتون لري.



**6.** تاسو د بکس اخیستنې په ځای کې یاست او خپل بکس نشئ پیدا کولی.



**ا** د کاونټرکارمندانو-چیک یا لیدنه



**ب** د هوایي ډګر امنیت



**پ** د هوایي ډګر کار کونکي




**ت** د هوایي ډګر معلوماتو میز



**ټ** د الوتکې نماینده



**3.** په هوایي ډګر کې ستاسو ورکیدنه.




**4.** ستاسو چوکۍ په طیاره کې ستاسو د ټولې کورنۍ څخه جلا ده.



**5.** تاسو خپلې ټاکل شوې الوتنې ته ځئ، خو په دې نه پوهیږئ چې دروازه چیرته ده.

**په هر حال په هوایي ډګر کې، په الوتکه، یا په ترانزیت کې، داډ ترلاسه کړئ چې ستاسو کورنۍ یو ځای ده او په ماشومانو پام کوئ.**


ځوابونه: ۱ (ټ)؛ ۲ (ب، پ، ت)؛ ۳ (پ، ت)؛ ۴ (ا، ټ)؛ ۵ (پ، ت)؛ ۶ (پ، ت)

## 2.20 ستاسو د دایمي اوسیدنې حالت

کاناډا ته په رسېدو سره به تاسو په هوایي ډګر کې د یو افسر سره لنده مرکه ولرئ. وروسته به له تاسو څخه وغوښتل شي چې ځینې اسناد لاسلیک کړئ.

کله چې دا بشپړ شي، تاسو د اوسېدنې له حق سره د کاناډا هیواد دایمي اوسیدونکي په توګه ګڼل کیږئ.

**ایا تاسو د ژوند یو ملګری، ښځه یا پر تاسو انحصار کوونکی ماشوم یا لمسی لرئ څوک چې له تاسو سره په کاناډا کې نه مېشت کیږي؟ ایا په راتلونکي کې دوی په کاناډا کې مېشته کیږي؟ که همداسې وي، نو تاسو مخکې له دې چې کاناډا ته رسیږئ د خپلې اړیکې په اړه حکومت ته خبر ورکړئ. که چېرې تاسو حکومت ته د دې اړیکو په اړه وضاحت ورنه کړئ نو په راتلونکي کې به دا ډېره مشکله وي چې هغوی له تاسو سره په کاناډا هیواد کې ژوند وکړي.**




تاسوته به د بریښنالیک له لارې په کاناډاکې د دایمي اوسیدنې کارت واستول شي. دې ته د دایمي اوسیدنې کارت وایي. د دایمي اوسیدنې د حالت د اعتبار نیټه نه ختمیږي، خو کارت ختمیږي. کله چې ستاسو د کارت نیټه پای ته ورسیږي، ورکیږي یا غلا کیږي نو په دغه صورت کې تاسو باید د نوي کارت غوښتنه وکړئ.

د خپل دایمي اوسیدنې کارت لپاره ډېر وخت ورکړئ ترڅو ستاسو غوښتنلیک پروسس شي.



**هغه اسناد چې تاسو یې کاناډا ته په رسېدو سره ترلاسه کوئ ډېر مهم دي. دا خوندي و ساتئ.**

## 2.21 په کاناډا کې حقونه او مسولیتونه

د کاناډا یو دایمي اوسیدونکي په توګه به تاسو د زیاتو حقونو څخه خوند واخلئ. د دې حقونو په ترلاسه کولو سره ځینې مسولیتونه هم را منځته کیږي.

**لارښووني:** د یو دایمي اوسیدونکي په توګه خپلو حقونو او مسولیتونو ته پام وکړئ. د هر حق او مسؤلیت تر مینځ کرښه رسم کړئ چې ورسره تړاو لري.

1. 
د کار کولو یا خپلې سوداګرۍ د مالکیت حق

2. 
خپل نظر ښکاره کړئ

3. 
د ټولو لپاره انساني حقونه

4. 
خپل دین عملي کړئ


5. 
وړیا لومړنۍ عامه زده کړې


ا) د هرچا انساني حقونو ته درناوی ولرئ




ب) د خپل ځان او کورنۍ سره مرسته وکړئ، او مالیه ورکړئ


پ) ټولو مذهبونو ته درناوی ولرئ



ت) داډ ترلاسه کړئ ماشومان زده کړې کوي


ټ) د نورو نظرونو ته درناوی ولرئ


ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ټ)؛ 3 (ا)؛ 4 (پ)؛ 5 (ت)

6. 

خپل ملکیت

ث) د چاپیریال ساتنه



7. 

د عامه تمویل شوي روغتیا پاملرنې ته لاسرسی




ج) کاناډا ته د بیرته داخلیدو پرمهال خپل دایمي کارت وښایاست

8. 

په یو پاک او روغتیایي چاپیریال کې د اوسیدنې حق



چ) د مالیې تادیه کول

9. 

د کاناډا هیواد څخه د باندې سفر






ح) د ملکیت مالیه ورکړئ

په کاناډا کې هغه دایمي اوسیدنکي چې د کډوالو په توګه مېشت شوي دي، که چیرته بیرته خپل اصلي هیواد ته سفر وکړي ممکن د دوی په دایمي اوسیدنه باندې منفي اغیزه وکړي. کله چې دوی بېرته را ستانه شي نو له دوي څخه به په هوايي ډګر کې د پناه غوښتونکو لپاره د یوه مؤظف مامور لخوا پوښتنې وشي. دوی باید په ریښتیني توګه سم ځواب ورکړي چې ولې دوي بیرته خپل اصلي هیواد ته تللي وو.

ځوابونه: 6 (ح)؛ 7 (چ)؛ 8 (ث)؛ 9 (ج)

## 2.22 دايمي اوسيدونکي

د کاناډا د يو دايمي اوسيدونکي په توګه، تاسو د اتباعو په څېر ورته حقونو مستحق ياست ، مګر لاندې حقونه نه لرئ:



**1.** په فدرالي ټاکنو کې رايه نه شئ ورکولی




**2.** د ځينو لوړو حکومتي دندو ترلاسه کولو لپاره غوښتنه نشئ کولی



**3.** د دې لپاره چې د دايمي اوسيدني حالت وساتئ نو په کاناډا کې د زياتو ورځو لپاره پاتې شئ



هغه دايمي اوسيدنکي چې په جدي جرمونو محکوم شي ښايي د اوسېدنې دايمي حالت له لاسه ور کړي.




## 2.23 تاسو کله د کاناډا تابعيت ته غوښتنليک استولی شئ؟

مخکې له دې چې تاسو د کاناډا تابعيت ته غوښتنليک استوئ:



**1.** بايد په کاناډا کې د معلوم وخت لپاره اوسيدلي اوسئ. د دې لپاره چې محاسبه وکړئ ترڅو کله تاسو تابعيت ترلاسه کولی شئ، دلته يې مطالعه کړئ:




**2.** په انګليسي يا فرانسوي ژبه په کافي اندازه پوهه و لرئ.



**3.** ازموينه ورکړئ ترڅو معلومه شي چې تاسو د کاناډا په اړه يو څه پوهاوی لرئ.




هرکله چې تاسو د کاناډا تابعيت ترلاسه کړئ نو د پاسپورټ ترلاسه کولو لپاره غوښتنه کولی شئ.

## دريمه برخه

# مرستې او خدمات



# مرستې او خدمات



پدې برخه کې چمتو شوي معلومات په کاناډا کې د شته خدماتو په اړه دي. کاناډا ته له رسیدو وروسته یې بیا ځلې لوستل ګټور تماميږي.

کله چې تاسو په کاناډا کې ستاسو په لومړي هوايي ډګر کې د کډوالۍ له پروسیجرونو څخه تیر شئ نو تاسو به دايمي اوسيدونکي شئ. د دايمي اوسيدونکي په توګه، تاسو کولی شئ مختلفو ملاتړونو ته لاسرسی ومومئ چې دا به ستاسو سره په کاناډا کې د ژوند په تنظیم کولو کې مرسته وکړي.

دا چې دا ملاتړ له کوم ځایه تر لاسه کیږي د بیا میشته کیدو د برنامې په اساس یو له بل سره توپیر لري.



## 3.1 په کاناډا کې د بیا میشته کیدو برنامې

**لارښوونې:** د بيا ميشته کيدو د برنامو په اړه معلومات ولولئ. د هغې برنامې په بکس کې د "✓" صحيح نښه ولیکئ چې په کاناډا کې ستاسو په بيا ميشته کيدو پورې اړه لري.

☐ **1. د حکومت په مرسته د پناه غوښتونکو برنامه (GAR/RPG)**

افراد له حکومت څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوي. دوی د حکومت لخوا د تمویل شویو سازمانونو څخه د سمدستي میشتېدنې ملاتړ تر لاسه کوي. د نورو معلوماتو لپاره، دا برخه ولولئ :



GAR/RPG

### 2. د پناه غوښتونکو خصوصي سپانسرشپ برنامه (PSR/PPPR)

افراد د خصوصي ډلو یا بنسټونو لخوا سپانسر او ملاتړ کیږي. افراد له خپلو شخصي سپانسرانو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوي. دوی له خپلو شخصي سپانسرانو څخه د سمدستي میشتېدنې ملاتړ تر لاسه کوي. د نورو معلوماتو لپاره، دا ولولئ:



PSR/PPPR

### 3. د ګډې مرستې سپانسرشپ برنامه (JAS/PAC)

خلک د دولت څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوي. دوی د حکومت لخوا تمویل شوي سازمانونو څخه د سمدستي میشتېدنې ملاتړ تر لاسه کوي. دوی شخصي سپانسران لري چې دوی ته په کاناډا کې اضافي ملاتړ چمتو کوي.
د نورو معلوماتو لپاره، دا ولولئ:



JAS/PAC

### 4. مخلوط ویزه دفتر-راجع شوې برنامه (BVOR/RDBV)

افراد د حکومت او د دوی له خصوصي سپانسرانو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوي. دوی له خپلو شخصي سپانسرانو څخه د سمدستي میشتېدنې ملاتړ تر لاسه کوي. د نورو معلوماتو لپاره، دا ولولئ :



BVOR/RDBV




**ستاسو د بیا میشته کیدو برنامې ته له پام کولو پرته، تاسو باید د حکومت لخوا د تمویل شویو سازمانونو څخه د اوږدې مودې میشتېدنې خدماتو ته لاسرسی ومومئ. د خپل حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وغواړئ چې تاسو له دې خدماتو سره وصل کړي. د نورو معلوماتو لپاره دریمه برخه، 3.11 فعالیت وګورئ.**



## 3.2 د سمدستي میشتېدنې ملاتړ محدودیتونه

هغه مالي ملاتړ چې تاسو به یې په کاناډا کې تر لاسه کړئ محدود دی.

د سمدستي میشتېدنې ملاتړ چې تاسو به یې په کاناډا کې تر لاسه کړئ، که ستاسو د حکومت لخوا د تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وي، هم محدود دی. د دې مرستو د دوام وخت د بیا میشته کېدو په پروګرام پورې اړه لري. د دې مرستو د دوام وخت کېدای شي ستاسو شر ایطو ته په کتو تغیر وکړي.




## 3.3 د بیا میشته کېدو برنامو عمومي خدمات

د بیا میشته کېدو برنامې په نظر کې نیولو پرته چې تاسو یې تر پوښښ لاندې راځئ، ټول دایمي اوسېدونکي چې په کاناډا کې د پناه غوښتونکي په توګه میشته کېږي لاندې خدماتو ته لاسرسی لري:




**1.** وړیا حضوري او آنلاین خدمات ستاسو سره مرسته کوي مخکې له دې چې تاسو کاناډا ته راشئ د ژوند لپاره چمتو اوسئ. د نورو معلوماتو لپاره، دا ولولئ :





**2.** په کاناډا کې د هوایی ډګر استقبال خدمات به ستاسو سره د کډوالۍ او ګمرکونو په اوړدو کې او همدارنګه ستاسو وروستي منزل ته په سفر کولو کې مرسته وکړي.



**3.** د کاناډا له حکومت څخه د کډوالۍ پور چې کاناډا ته ستاسو د سفر لګښت پوښي. تاسو به اړ یاست چې کاناډا ته له رسیدو یو کال وروسته له سود څخه پرته د دې پور بیرته تادیه پیل کړئ.

**4.** د موقتي فدرالي روغتیا برنامه ( IFHP/PFSI ) د لنډمهاله روغتیا پاملرنې برنامه تر پوښښ لاندې نیسي. تر هغه چې تاسو د خپل ولایت روغتیا پاملرنې برنامې ته لاسرسی پیدا کوئ، دا برنامه اړین طبي خدمات تر پوښښ لاندې نیسي. دا هغه اضافي طبي خدمات هم پوښي کله چې تاسو د حکومت یا ستاسو له سپانسرانو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوئ. د نورو معلوماتو لپاره، 5 برخه وګورئ یا دا ولولئ:



# 3.4 د سمدستي میشتېدني ملاتړ

**لارښوونې:** د هغې برنامې په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې کاناډا ته ستاسو د بیا میشته کیدو سره تړاو لري .



GAR/RPG ☐



PSR/PPPR ☐



JAS/PAC ☐



BVOR/RDBV ☐

**لارښوونې:** د سمدستي میشتېدني ملاتړ وګورئ چې تاسو به یې په کاناډا کې تر لاسه کړئ. څوک چې تاسو ته کوم ډول ملاتړ چمتو کوي نو "✓" تر څنګ یې یو صحیح نښه و لګوئ.

**1.** که تاسو د ژمي په موسم کی راشئ، څوک به تاسو ته د ژمي جامې درکړي؟





☐ ا) د کاناډا په هوایی ډګر کې د حکومت له خوا تمویل شوې اداره په نښه کړئ، که چیرې تاسو د 15 اکتوبر او 15 اپریل ترمنځ را ورسیږئ



☐ ب) ستاسو هغه ملاتړ کونکی یا سپانسر چې د وروستي منزل ښار ته په رسیدو کې ستاسو سره مرسته کوي

**2.** په کاناډا کې ستاسو په وروستي منزل کی، څوک به لومړي ځای ته ستاسو ټرانسپورټ تنظیم کړي چیرې چې تاسو به اوسئ؟





☐ ا) ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوې اداره



☐ ب) ستاسو سپانسر

**3.** کله چې تاسو لومړی ځل کاناډا ته راشئ نو څوک به ستاسو لپاره موقتي استوګنځی تنظیم کړي؟





☐ ا) ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوې اداره



☐ ب) ستاسو سپانسر

ځوابونه: GAR/RPG 1 (ا)؛ 2 (ا)؛ 3 (ا)؛ PSR/PPPR 1 (ب)؛ 2 (ب)؛ 3 (ب)؛ JAS/PAC 1 (ا)؛ 2 (ا)؛ 3 (ا)؛
BVOR/RDBV 1 (ب)؛ 2 (ب)؛ 3 (ب)

**4.** څوک به ستاسو سره د دایمي کور په موندلو کې مرسته وکړي او نوي یا کارول شوي کورني توکي به چمتو کړي؟





- [ ] ا) ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوي اداره



- [ ] ب) ستاسو سپانسر

**5.** څوک به تاسو د اوږدمهاله میشته کیدو ملاتړ ته راجع کړي چې دا به ستاسو سره په کاناډا کې په میشته کیدو کې مرسته وکړي؟






- [ ] ا) ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوي اداره



- [ ] ب) ستاسو سپانسران

**6.** څوک به تاسو ته محدود مالي ملاتړ چمتو کړي؟





- [ ] ا) حکومت



- [ ] ب) ستاسو سپانسر

- [ ] پ) دواړه حکومت او ستاسو سپانسر



ځوابونه: GAR/RPG 4 (ا)؛ 5 (ا)؛ 6 (ا)؛ PSR/PPPR 4 (ب)؛ 5 (ب)؛ 6 (ب)؛ JAS/PAC 4 (ا)؛ 5 (ا)؛ 6 (ا)؛
BVOR/RDBV 4 (ب)؛ 5 (ب)؛ 6 (پ)

## 3.5 ونډې او مسؤلیتونه

په نوي هیواد کې میشتیدل وخت او هڅې غواړي.

تاسو او هغه څوک چې ستاسو ملاتړ کوي، یو له بل سره مسؤلیتونه شریکوئ.

**لارښوونې:** ستاسو د بیا میشته کېدو پورې اړوندو مسؤلیتونو ته وګورئ. ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو د مسؤلیتونو او ستاسو د مسؤلیتونو تر منځ کرښه رسم کړئ.

**1.**



تاسو ته په کاناډا کې هرکلی کوي.

**2.**



تاسو ته مشوره در کوي چې تر لاسه شوي محدود مقدار پیسې څنګه په مسؤلیت سره مصرف کړئ.

**3.**



ستاسو سره د دایمي هستوګنې په موندلو کې مرسته کوي او ستاسو سره د کرایي تړون په پوهیدو کې مرسته کوي.

**4.**



تاسو ته ښيي چې څنګه په خپل استوګنځي کې خوندي پاتې شئ.



ا) خپل لګښتونه له بودیجې سره سم پلان کړئ تر څو تاسو د تر لاسه شویو پیسو سره ژوند وکړئ. که تاسو ډیر لګښت وکړئ، نو تاسو به ډیرې پیسې تر لاسه نه کړئ.



ب) خپلې دروازې بندې وساتئ او وسایل په خوندي ډول وکاروئ.



پ) خپل ټول پنډوکي او اسناد له ځانه سره ولرئ. د IOM کځوړه ښکاره وساتئ ترڅو خلک تاسو ومومي.



ت) هغه ځای پاک او په ښه حالت کې وساتئ چیرې چې تاسو اوسئ. د کرایې تړون په ښه توګه ولولئ او درناوی یې وکړئ.

ځوابونه: ۱ (پ)؛ ۲ (ا)؛ ۳ (ت)؛ ۴ (ب)

5. 


ستاسو په کورنۍ کې له لویانو سره
د ژبې د وړیا زده کړې په ټولګیو
کې په نوم لیکنه کې مرسته کوي.

6. 

ستاسو سره په خپل ولایت یا سیمه کې د
ښوونځي په سیستم باندې په پوهیدو کې
مرسته کوي. ستاسو سره به مرسته وکړي
تر څو د کورنۍ ماشومان په ښوونځي کې
شامل کړئ.

7. 

ستاسو سره د بانکي حساب په
پرانیستلو کې مرسته کوي. په کاناډا
کې پیسو ته د لاسرسي او کارولو
څرنګوالی تشریح کوي.

8. 

په کاناډا کې مهم مقررات او قوانین
تشریح کوي.



ت) خپل بانکي معلومات خوندي
وساتئ. ستاسو په پورونو او کریډیټ
کارتونو پورې اړوند ټول بانکي
فیسونه او لګښتونه تادیه کړئ.




ث) که تاسو اړتیا لرئ چې د انګلیسي
یا فرانسوي ژبې مهارتونه ښه کړئ
نو د ژبې په ټولګیو کې ګډون وکړئ.



ج) په کاناډا کې قوانین او مقررات
تعقیب کړئ.




چ) د کورنۍ ماشومان مو په
ښوونځي کې شامل کړئ. د دوی
تعلیمي او ټولنیز پرمختګ تعقیب
کړئ.

ځوابونه: 5 (ث)؛ 6 (چ)؛ 7 (ت)؛ 8 (ج)

9\.



که چېرې عاجله طبي اړتيا وي، نو طبي خدماتو ته په لاسرسي کې ستاسو سره مرسته کوي.



ح) په خپلواکه توګه عامه ترانسپورت وکاروئ او په هغه صورت کې چې تاسو ورکېږئ، له مهمو ادرسونو سره چمتو اوسئ.

10\.



واضح کړئ چې تاسو په نوې ټولنه کې عامه ترانسپورت څنګه کاروئ.




خ) په خپله نوې ټولنه کې فعال اوسئ او له نورو خلکو سره وصل شئ.

11\.



خپلې نوې ټولنې ته لاربنود چمتو کړئ.




ځ) خپل اسناد خوندي وساتئ، ځان پوه کړئ چې څنګه يې وکاروئ او په وخت يې نوي کړئ.

12\.




په کاناډا کې د مهمو اسنادو لپاره په غوښتنه کولو کې ستاسو سره مرسته کوي او د دوی اهميت تشريح کوي.




څ) د عاجلو طبي اړتياوو (د حساسيت او غذايي رژيم د اړتياوو په ګډون) په صورت کې هغه چا ته خبر ورکړئ چې تاسو پرې باور لرئ.



د سمدستي ميشتېدنې ملاترونو څخه کوم دوه يې ستاسو لپاره خورا مهم دي؟


ځوابونه: 9 (څ)؛ 10 (ح)؛ 11 (خ)؛ 12 (ځ)

## 3.6 د منزل بدلون



تاسو حق لرئ تر څو په کاناډا کې د ژوند کولو لپاره خپل ځای انتخاب کړئ. په هرصورت، تاسو په کلکه هڅول کیږئ چې خپل اصلي منزل ته سفر وکړئ. هلته به تاسو، ستاسو د میشت کیدو د اړتیاوو پر اساس ملاتړ تر لاسه کړئ. مخکې له دې چې د حرکت کولو فکر وکړئ لاندې شیان په پام کې ونیسئ:

**1.** که تاسو وغواړئ بلې تولنې ته لاړ شئ، نو د دې لپاره چې د مالي ملاتړ او د سمدستي میشتېدني ملاتړ د ځنډېدو مخنیوی وکړئ، نو تاسو باید ژر تر ژره د خپل حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو ته خبر ورکړئ.



**2.** که تاسو د یو ځای نه بل ځای ته کډه کول غوره کوئ، د سفر او هستوګنې د لګښتونو په ګډون په ټک پورې اړوند د ټولو لګښتونو مسؤل یاست.



**3.** تاسو به اړ یاست چې په نوي منزل کې ستاسو د راتګ او لنډمهاله هستوګنې د لګښتونو لپاره چمتو اوسئ.




**4.** کیدای شي ستاسو مالي ملاتړ له ځنډ سره مخامخ شي.



GAR/RPG

**5.** که چیرې تاسو په ورته ټولنه کې د خپلو سپانسرانو په خیر ژوند نه کوئ نو تاسو نور نشئ کولی د خپلو سپانسرانو څخه د مالي یا میشتېدني ملاتړ وړ اوسئ.




PSR/PPPR

دریمه برخه: مرستې او خدمات

## 3.7 ستاسو له سپانسرانو سره ستاسو اړیکې





**لارښوونې:** که تاسو د خپلو سپانسرانو په اړه اندېښنه لرئ نو هغه اقدامات ولولئ چې باید ترسره یې کړئ. په هر بکس کې له **1** څخه تر **3** پورې شمېره ولیکئ تر څو له لومړي څخه تر وروستي پورې کړنې ترتیب شي.



ا) تاسو او ستاسو سپانسر کولی شئ د حل لارو د موندلو لپاره د کاناډا حکومت مرسته وغواړئ. تاسو کولی شئ حکومت ته په
IRCC.PSRCaseReview-RevuedecasPSR.IRCC@cic.gc.ca
کې برېښنالیک واستوئ.




ب) له خپلو سپانسرانو سره خبرې وکړئ او پوښتنې وکړئ تر څو هر ډول غلط فهمۍ له منځه لاړې شي.



پ) په خپله ټولنه کې د نویو راغلو کسانو لپاره د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان ته ور شئ. هلته د میشته کیدو کار کوونکی کولی شي تاسو ته ځینې ګټورې مشورې درکړي.



**PSR/PPPR: ستاسو سپانسرانو ته اجازه نشته چې له تاسو څخه پیسې وغواړي یا تاسو ته ووایي چې تاسو د سپانسر کیدو لپاره د مخه تادیې ته اړتیا لرئ. هیڅ شی مه ورکوئ، حتی که دوی ژمنه وکړي چې یو ځل چې تاسو کاناډا ته ورسیږئ نو ستاسو پیسې به بیرته درکړي. ستاسو سپانسران په قانوني ډول تاسو ته د محدود مالي ملاتړ چمتو کولو مسؤلیت لري.**




ځوابونه: (ا) ع؛ (ب) I؛ (پ) ح

په بهر کې د کاناډا لارښود: **د ګډونوالو کاري کتاب**


## 3.8 په کاناډا کې مهم اسناد

ستاسو د هویت اسناد ستاسو اړوند دي. ستاسو د سپانسرانو په ګډون هیڅوک، د میشته کولو کارګران، د کورنۍ غړي یا ګمارونکي باید ستاسو اسناد ستاسو لپاره و نه ساتي. په کاناډا کې د یو نوي دایمي اوسیدونکي په څیر، تاسو باید له را رسیدو څخه لږ وروسته لاندې مهم اسناد تر لاسه کړئ:





### 1. د دایمي استوګنې کارت

دا په کاناډا کې د دایمي اوسیدونکي په توګه ستاسو د وضعیت رسمي ثبوت دی. دا سند به تاسو ته واستول شي. دا سند ستاسو د دایمي استوګنې تصدیق نه بدلوي، کوم چې تاسو کاناډا ته په را رسیدو سره په هوایي ډګر کې لاسلیک کوئ. تاسو باید دواړه وساتئ.




### 2. د ټولنیزې بیمې شمیره (SIN/NAS)

دا شمیره په کاناډا کې د کار کولو او د دولتي برنامو او ګټو لپاره د غوښتنلیک ورکولو لپاره کارول کیږي. دا شمیره خوندي وساتئ او نورو ته اجازه مه ورکوئ چې دا وکاروي. د نورو معلوماتو لپاره، دا ولولئ:







### 3. د ولایتي روغتیا کارت

تاسو روغتیایي پاملرنې ته د لاسرسي لپاره د خپل ولایت یا سیمې څخه د روغتیا د بیمې کارت ته اړتیا لرئ. دا کارت یوازې ستاسو د کارولو لپاره دی. له را رسیدو څخه وروسته ژر تر ژره د خپل روغتیایي کارت غوښتنه وکړئ.

د مهمو اسنادو فوټو کاپي جوړې کړئ او په خوندي ځای کې یې وساتئ. که ستاسو اسناد ورک شوي یا غلا شوي وي نو تاسو به اړیاست تر څو د دې اسنادو د بیا تر لاسه کولو لپاره فیسونه ورکړئ.



## 3.9 د ټولو نویو راغلو کسانو لپاره د حکومت لخوا تمویل شوي سازمانونه



دې سازمانونو ته د مېشتولو اداري هم ویل کیږي او په کاناډا کې عامې دي. دوی له ټولو نویو راغلو کسانو سره مرسته کوي تر څو په خپله نوې ټولنه کې ځای پر ځای شي. د دایمي اوسیدونکي په توګه، تاسو کولی شئ دې اوږدمهاله خدماتو ته د کاناډا د تابعیت تر اخېستو پورې لاسرسی ومومئ. دا خدمات وړیا دي. دوی کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي:






**.1** د وړیا ژبې ټولګیو لپاره نوم لیکنه وکړئ (انګلیسي/فرانسوي)



**.2** د دندې موندلو څرنګوالی زده کړئ.




**.3** مشوره وکړئ چې څنګه ستاسو اسناد وپیژندل شي.



**.4** ستاسو د مهارتونو د بنه کیدو لپاره ستاسو سره کار کیږي.



**.5** په ټولنه کې دخیل شئ.




**.6** د اوسیدو ننګوني حل کړئ.

تاسو کولی شئ د کاناډا حکومت آنلاین وسیلې په کارولو سره د نویو راغلو لپاره د حکومت لخوا تمویل شوي سازمانونه دلته ومومئ:



د میشته کیدو خدمات په فرانسوي ژبه کې هم شتون لري. د حکومت له خوا تمویل شوي سازمانونه چې سمدستي او اوږدمهاله د میشته کیدو ملاتړ ورانديکوي، کولی شي تاسو په خپله ټولنه کې یعنی فرانسوي ژبې خبرې کوونکي سازمانونو یا فرانسوي خدماتو سره وصل کړي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره چې په فرانسوي ژبه کې د نویو راغلو کسانو لپاره کوم خدمات شتون لري او که نه، دې ته مراجعه وکړئ:




**1.** د Carte interactive sur lescollectivités francophones دلته وګورئ:




**2.** د کاناډا حکومت ویب پاڼه دلته :




**3.** په کیوبیک ایالت کې د خدماتو لپاره، د کیوبیک حکومت آنلاین وسیلې ته دلته مراجعه وکړئ :



**د حکومت لخوا تمویل شوي سازمانونه د ټولو نویو راغلو خلکو د ملاتړ مسؤلیت لري. دوی باید ستاسو محرمیت وساتي. دوی اړ دي مخکې لدې چې ستاسو په اړه معلومات له نورو سره شریک کړي، ستاسو اجازه تر لاسه کړي. کله چې تاسو یو څوک وموموئ چې تاسو پرې باور لرئ، نو اندیښنې یا ننګونې له دوی سره شریکې کړئ ترڅو دوی مو ملاتړ کوونکي شي.**

# 3.10 د میشته کیدو حالات

**لارښووني:** د واسیدو شرایط ولولئ. د هر وضعیت او د هغه لپاره د وړاندیز شوي حل ترمنځ کرښه رسم کړئ.



1. ستاسو له نوي کور سره ډیرې ستونزې شتون لري.



2. تاسو په کاناډا کې هوایي ډګر ته رسیږئ، مګر هیڅ څوک شتون نه لري چې تاسو ته ښه راغلاست و وايي.



3. تاسو له یوې اونۍ راهیسې ستاسو د حکومت له خوا د تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه څه نه دي اوریدلي. تاسو غواړئ د مهمو اسنادو لپاره غوښتنلیک پیل کړئ، د ژبې ټولګې پیل کړئ او ماشومان په ښوونځي کې شامل کړئ.




4. تاسو په بل ولایت یا سیمه کې یو ملګری لرئ. دوی غواړي تاسو سمدستي هغه ولایت یا سیمې ته لاړ شئ.



ا) هڅه وکړئ د مرستې لپاره د هوایي ډګر د استقبال خدماتو کارمندان ومومئ او خپله د IOM کڅوړه ور وښیئ.



ب) د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه مشوره وغواړئ ترڅو د پریکړې کولو څخه وړاندې د حرکت په احتمالي پایلو باندې پوه شئ.



پ) د حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو ته زنګ ووهئ او په درناوۍ خپلې ستونزې تشریح کړئ.



ت) دوی ته زنګ ووهئ، خپل وضعیت تشریح کړئ او د ملاقات غوښتنه وکړئ.

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ا)؛ 3 (ت)؛ 4 (ب)


# 3.11 ستاسو په ټولنه کې د اوږدې مودې د میشته کېدو نور خدمات

ډېرې ټولنې داسې خدمات وړاندیز کوي چې د دایمي اوسېدونکو په ګډون ټول خلک ورته په وړیا یا په ټیټ لګښت لاسرسی کولی شي. ستاسو نوې ټولنه ممکن دا ټول اوږدمهاله خدمات ولري، یا ممکن یوازې یو څو ولري.


**لارښوونې:** د اوږدې مودې د میشته کېدو خدمات و ګورئ. د هر خدمت او هغه ځای ترمنځ کرښه رسم کړئ چېرې چې ورته لاسرسی کیدای شي.

1. 
وړیا کمپیوټرونو، انټرنیټ، کتابونو، ورځپاڼې، میوزیک او فلمونو ته لاسرسی ومومئ. بېلا بېلې ګروپي برنامې شتون لري.

2. 
مختلف سپورټونه او تفریحي برنامې تمرین کړئ.

3. 
میلې ته لاړ شئ او په خپله ټولنه کې له نورو سره ووینئ. ماشومان کولی شي په بیروني تجهیزاتو کې لوبې وکړي.

4. 
خپل باور له نورو سره تمرین کړئ.


5. 
د یو ځانګړي هیواد یا کلتور له خلکو سره لیدنه.

6. 

په وړیا توګه انګلیسي او/یا فرانسوي زده کړئ، د کاناډا د کلتور په اړه زده کړه وکړئ او له نویو خلکو سره ووینئ. په ځینو ولایتو او سیمو کې، د ژبې په ټولګیو کې د ګډون پر مهال ماشوم ملاتړ ترلاسه کړئ.

7. 
د کاناډا د تاریخ، کلتور او هنر په اړه زده کړه وکړئ.



ا) عامه پارکونه


ب) کلتوري مرکزونه


پ) عامه کتابتونونه


ت) موزیمونه


ټ) د ټولنې مرکزونه


ث) د عبادت ځایونه



ج) د حکومت له خوا تمویل شوي د ژبې زده کړې مرکزونه

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ټ)؛ 3 (ا)؛ 4 (ث)؛ 5 (ب)؛ 6 (ج)؛ 7 (ت)




8. د فشار او خفګان په حالت کې د يو چا سره خبرې وکړئ . دا يو وړيا، محرم او نه قضاوت کوونکې خدمت دی چې ستاسو سره په سالم پاتې کيدو کې مرسته کوي.



چ) د حقوقي مرستو کلينيکونه



9. د پيسو اړوندو ستونځو په اړه پوښتنه وکړئ.



ح) سرپناه او خوندي کورونه



10. په خپله نوې ټولنه کې د تعليم او کارموندنې اړوند د اړوندې مودې ميشته کيدو د ملاتړ غوښتنه وکړئ.




خ) بانکونه



11. د قانون اړوند ځانګړو مسايلو په اړه مشوره وغواړئ.




ځ) د رواني روغتيا وړيا کلينيکونه




12. په کارمخينه يا (CV) ليکلو کې مرسته ترلاسه کړئ، د دندې په لټه کې شئ او د دندې د مرکې لپاره چمتووالی ونيسئ.




څ) د کارموندنې مرکزونه



13. وړيا خواړه ترلاسه کړئ، البته که تاسو د حکومت او/يا ستاسو د سپانسرانو له خوا په چمتو شوي مالي ملاتړ سره د خوړو د پيرودلو لپاره کافي پيسې نه لرئ.



د) د نويو راغلو کسانو لپاره د حکومت لخوا تمويل شوي سازمانونه



14. که تاسو د بحران پر مهال د پاتې کيدو لپاره خوندي ځای ته اړتيا لرئ نو خبر وکړئ.



ذ) د خوړو بانکونه

ځوابونه: 8 (ځ)؛ 9 (خ)؛ 10 (د)؛ 11 (چ)؛ 12 (څ)؛ 13(ذ)؛ 14 (ح)

# 3.12 تاسو د معلوماتو وړیا سرچینې چېرته موندلی شئ؟

**1.** د کاناډا حکومت او دولتي خدماتو په اړه رسمي معلومات

Government of Canada | Gouvernement du Canada


www.canada.ca
1-888-622-6232
(د کاناډا خدماتو مرکز) ته زنګ ووهئ

**2.** د نویو راغلو کسانو لپاره د فدرالي، ولایتي او سیمه ییزو ګټو په اړه معلومات



www.benefitsfinder.services.gc.ca

**3.** د اور وژونکو، امبولانس یا پولیسو د اړیکي شمیرې





911 ته زنګ ووهئ

**4.** د وړیا، محرمو او په خو ژبو د مختلفو خدماتو په اړه




211 ته زنګ ووهئ

**5.** د خپلې نوي ټولنې شا و خوا حرکت کولو د ځرنګوالي په اړه معلومات



نقشې






**911 ته زنګ ووهئ تر څو د اور وژونکو، امبولانس یا پولیسو سره اړیکه ونیسئ.**

## څلورمه برخه

# کور جوړونه (هستوګنځی)






# څلورمه برخه
# کور جوړونه (هستوګنځی)

## 4.1 مؤقتي هستوګنځی

ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوې اداره یا سپانسران ستاسو لپاره د ځای موندلو په لټه کې سخت کار کوي، حتی مخکې له دې چې کاناډا ته ورسیږئ. ستاسو په ټولنه کې د دایمي هستوګنې شتون ته په کتو، تاسو ممکن د څو اونیو لپاره په لنډمهاله هستوګنځي کې پاتې شئ. د لنډمهاله هستوګنې ډولونه د بیا میشته کیدو په برنامه پورې اړه لري.



له تاسو څخه تمه کیږي کله چې مناسب دایمي کور ومومئ شي نو ژر تر ژره له موقتي هستوګنځي څخه ووځئ.

**لارښوونې:** د هغې برنامې په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې کاناډا ته ستاسو په بیا میشته کیدو پورې اړه لري.



☐ GAR/ RPG



☐ PSR/ PPPR



☐ JAS/ PAC



☐ BVOR/ RDBV

**لارښوونې:** د لنډمهاله هستوګنې توضیحات ولولئ. په چوکاټ کې هغه برخه "✓" نښاني کړئ چېرې چې تاسو له را رسیدو سره ستاسو د میشتېدلو د برنامې په بنسټ هستوګنه کولی شئ.





☐ **.1** د هرکلي مرکزونه

د GAR/RPG برنامې لاندې د نویو راغلو کسانو لپاره ګډ استوګنځی. خونې ابتدايي دي. ځینې مرکزونه د حمامونو او خوړو شریک ځایونه لري.

☐ **2.** د هوټل یا موټیل (کوچنی هوټل) خوني

ابتدايي خوني دي، معمولا هره خونه خپل تشناب لري، او لګښت يې ستاسو د حکومت له خوا تمويل شوي سازمان يا سپانسرانو له خوا تاديه کيږي.




☐ **3.** لنډمهاله کرايه شوی استوګنځی

ستاسو د حکومت له خوا تمويل شوي سازمان يا سپانسرانو له خوا کرايه شوی کور او په ځانګړي توګه د هغو خلکو لپاره چې پدې وروستيو کې کاناډا ته رسيدلي وي. په عادي حالاتو کې تاسو اړ یاست تر څو د مؤقت هستوګنځي نه ژر تر ژره خپل نوي دايمي کور ته کډه شئ تر څو نويو کسانو ته ځای خالي شي.



☐ **4.** نوري لنډمهاله هستوګني

لنډمهاله استوګنځی د سپانسر د کور يا د کوم خپلوان له کوره تر هغې ګډه استفاده کول چې د دايمي هستوګني يو مناسب ځای پيدا شي .



**په لنډمهاله استوګنځي کې د اوسېدو پر مهال ستاسو څخه تمه کيږي چې مقررات تعقيب کړئ ، ځای پاک او په ښه حالت کې وساتئ ، او نور خلک مه ځوروئ.**

GAR/RPG (1، 2، 3) PSR/PPPR (2، 3، 4) JAS/PAC (1، 2، 3) BVOR/RDBV (2، 3، 4) : ځوابونه

## 4.2 په کاناډا کې دایمي هستوګنه



په کاناډا کې د ټیټ لګښت کور موندل ستونځمن دي. د کور غوراوي ممکن محدود وي. ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوی سازمان یا سپانسر به ستاسو سره د محدود شمیر انتخابونو په پیژندلو کې مرسته وکړي چې ستاسو لومړنی اړتیاوې او بودیجه پوره کوي. دوی به ستاسو د نوي کور لپاره د فرنیچر او لومړنیو کورني توکو په ترلاسه کولو کې هم مرسته وکړي.





**لارښوونې:** ودانیو ته وګورئ. د هغو ودانیو په بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې د لومړي دایمي کور مثالونه دي.









3. ✓   2. ☐   1. ☐







6. ☐   5. ☐   4. ☐







9. ☐   8. ☐   7. ☐

**کله چې دایمي کور کرایه کیږی نو موقعیت، لګښت او د کور اندازه درې مهم ملاحظات دي.**




ځوابونه: 3، 4، 6، 7، 8 (۸)


## 4.3 په کاناډا کې د دايمي هستوګنې ډولونه

**لارښوونې:** په کاناډا کې د دايمي هستوګنې د مختلفو ډولونو په اړه ولولئ.

### 1. اپارتمانونه



**ا) د لږ لوړوالي اپارتمان ودانۍ**
دا ودانۍ ډېرې لوړې نه دي او معمولاً لېفټ نه لري. هر پوړ کېدای شي له يو څخه ډېر اپارتمانونه ولري.



**ب) د ډېر لوړوالي اپارتمان ودانۍ**
دا لوړې ودانۍ دي، معمولا په لويو ښارونو کې وي، لفټونه لري او په هر پوړ کې له يو څخه ډير اپارتمانونه لري.



**پ) دوه پوړيز اپارتمانونه**
دا اپارتمانونه ممکن د پلورنځي يا رستورانت پر سر وي او د لږ لوړوالي او يا ډېر لوړوالي ودانۍ د اپارتمان په پرتله ارزان وي.



**ت) د تلخونې (زير زميني) اپارتمانونه**
دا اپارتمانونه په کاناډا کې عام دي. دا تر يوې اندازې د ځمکې لاندې دي يعنی تلخونې دي چې کوچنې کړکې لري تر څو د لمر وړانګې د ننه کړي. تلخوني يا د ځمکې لاندې اپارتمانونه اکثراً د نورو اپارتمانونو په پرتله کم ګران وي (ارزان وي).



**په کاناډا کې اپارتمانونه معمولاً له يو څخه تر درې پورې د خوب خونې لري. د څلور يا ډيرو خوب خونو لرونکي اپارتمانونه نادر او ګران دي.**



## 2. کورونه



**ا) واحد جلا کورونه**
ډیری وختونه، یوائې یوه کورنۍ به په یوه جلا کور کې اوسیږي. د دې ډول کورونو کرایه کول یا اخیستل ګران وي.



**ب) له یو بل سره وصل شوي کورونه**
له یو بل سره په وصل شوو او نښتیو کورونو کې، هر کور خپله دروازه لري مګر د دې تر څنګ د کور دیوال شریک وي. هر کور ممکن د مختلفو خلکو له خوا کرایه شي او د مختلفو خلکو ملکیت وي .

## 3. نور دایمي هستوګنځي



**پ) د لاسرسي وړ کور**
دا ډول کور د هغو خلکو ځانګړي اړتیاوې په ګوته کوي څوک چې د شاوخوا ګرځیدو یا ځان ته پاملرنه کې ستونځې لري.



**ت) ګډ کور**
دا ډول کور د دوه یا ډیرو خلکو له خوا په کرایه نیول کیږي چې ګډ صالون به سره شریکوي. معمولاً، هر یو به د خوب جلا کوټه ولري او د کرایې یوه برخه به ورکوي.

**د لویو کورنیو لپاره د کور موندل ګران دي. که چیرې خلک غواړي یو ځای ژوندی وکړي نو د دوی په شمیر کې یو حد شتون لري.**





## 4.4 د هستوګنې اړوند مهم ټکي


**لارښوونې:** د هستوګنې اړوند کلمو ته وګورئ. د هرې کلمې او د هغې د تشریح تر منځ یوه کرښه رسم کړئ.


1\.

کرایه دار

2\.

د کور خاوند

3\.

اسباب

4\.

د کرایه دار بیمه

5\.

د لوګي کشف کوونکي

6\.

د بیا کارولو یا ریسایکل کولو ځای

ا) هغه شخص چې د هغه ځای مالکیت لري چې نورو ته په کرایه ورکړل شوی وي.

ب) بریښنايي ماشینونه چې په کورني کار کې مرسته کوي. کرایه شوي کورونه معمولاً فرنیچر نه لري، پرته له ځینې لویو تجهیزاتو څخه چې په مالک پورې اړه لري، نه په کرایه دار پورې.

پ) هغه وسایل چې لوړ غږونه کوي او تاسو ته خبرداری درکوي چې ممکن اور لګېدلی وي.

ت) هغه څوک چې د اوسیدو ځای په کرایه نیسي.

ټ) د غیر متوقعه ستونځو په صورت کې را منځته شوي د زیانونو لګښت تاسو ته بیا تادیه کېږي، لکه غلا، تېږي کېدل یا اور.

ث) باطله داني هغه ځای دی چېرې چې تاسو کارول شوي پلاستیکونه، بوتلونه، کاغذ او شیشې ساتلی شئ. ډیر ښارونه دا توکي را ټولوي او بیا ځلې یې کاروي.

ځوابونه: 1 (ت)؛ 2 (ا)؛ 3 (ب)؛ 4 (ټ)؛ 5 (پ)؛ 6 (ث)

## 4.5 هستوګنې قوانین




د هستوګنې قوانین د کرایه کوونکي او د کور د مالک حقونه او مسؤلیتونه په ګوته کوي. دوی په هر ولایت او سیمه کې توپیر لري.

**لارښوونې:** پوښتنې ولولئ. صحیح نښه "✓" په هغه بکس کې ولګوئ چې د چا حق یا مسؤلیت دی. ځینې پوښتنې له یو څخه ډېر سم ځوابونه لري.








1. څوک په بشپړ ډول او په وخت د کرایې د تادیه کولو مسؤلیت لري؟

☑ ا) کرایه دار ☐ ب) د کور خاوند

---








2. څوک حق لري چې د کرایې مقدار لوړ کړي، مګر یواځې د لیکلي خبرتیا په وړاندې کولو سره او په ځانګړو حدونو کې؟

☐ ا) کرایه دار ☐ ب) د کور خاوند

---








3. څوک د کور د پاک ساتلو، ښه ساتلو او خوندي ساتلو مسؤلیت لري؟

☐ ا) کرایه دار ☐ ب) د کور خاوند

---







4. څوک د ودانۍ د مقرراتو او د ښاري قوانینو د درناوي مسؤلیت لري، لکه د شور ماشور کچه؟

☐ ا) کرایه دار ☐ ب) د کور خاوند

---







5. څوک د ودانۍ خوندي او په ښه حالت کې ساتلو مسؤلیت لري؟


☐ ا) کرایه دار ☐ ب) د کور خاوند

ځوابونه: 1 (ا)؛ 2 (ب)؛ 3 (ا)؛ 4 (ا)؛ 5 (ب)

6. ځوک د کرایه کوونکي له خوا د رامنځته شویو زیانونو د تادیه کولو مسؤلیت لري؟

ا) کرایه دار ☐

ب) د کور خاوند ☐



7. ځوک باید د ترمیم ترسره کولو لپاره کرایه شوي کور ته د ننوتلو اجازه وغواړي؟

ا) کرایه دار ☐

ب) د کور خاوند ☐



8. ځوک د کور د منظم ساتنې او ترمیم لپاره د تنظیم او تادیه کولو مسؤلیت لري؟

ا) کرایه دار ☐

ب) د کور خاوند ☐



9. که دوی غواړي د کرایې قرارداد (اجارې) د مخه پای ته ورسوي نو ځوک باید قانون تعقیب کړي؟

ا) کرایه دار ☐


ب) د کور خاوند ☐



10. ځوک ممکن د لومړی میاشتې د کرایې د تادیې او امنیت یا زیان امانت ته اړتیا ولري؟

ا) کرایه دار ☐

ب) د کور خاوند ☐



**د کور مالک ممکن یو ځوک وګوماري چې کرایه راټولوي، ودانۍ په ښه حالت کې ساتي، او دا خبره ډاډمنوي چې ترمیم د دوی په استازیتوب ترسره کیږي. دا کس د ملکیت مدیر بلل کیږي.**



ځوابونه: 6 (ا)؛ 7 (ب)؛ 8 (ب)؛ 9 (ا، ب)؛ 10 (ب)

## 4.6 اجاره

اجاره د کرايه کوونکو او مالکينو تر منځ ليکل شوی تړون دی. مخکې لدې چې تاسو اجاره ليک لاسليک کړئ، تاسو بايد هغه ولولئ او په بشپړ ډول پرې پوه شئ.

په ډېری اجارو کې لاندې معلومات شتون لري:





**ستاسو د حکومت له خوا تمويل شوي سازمان يا سپانسرانو څخه په خپل ولايت يا سيمه کې د هستوګنې لپاره د حکومتي ادارې په اړه پوښتنه وکړئ. تاسو کولی شئ له دې ادارې سره اړيکه ونيسئ تر څو پوښتنې وکړئ، يا د کور په اړه شکايت وړاندې کړئ.**


## 4.7 په خپل کور کې خوندي پاتې کېدل

دلته ستاسو په کور کې د خوندي پاتې کېدو لپاره ځینې لارښوونې دي. تاسو کولی شئ د خپل حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وغواړئ چې تاسو ته وښيي چې دا شیان څنګه ترسره کړئ.


**لارښوونې:** په خپل نوي کور کې د خوندي پاتې کېدو لپاره لارښوونې ولولئ. د خوندیتوب لارښوونو په هغه بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې کله چې تاسو کاناډا ته را رسیږئ او تاسو پلان لرئ چې د حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه یې وپوښتئ.



1. د دروازو تړل




2. په منظم ډول د لوګي د کشف کوونکو معاینه کول او په دې پوهېدل چې د اضطراري وتلو لارې چېرته دي




8. پوښتنه وکړئ چې څنګه په خوندي ډول وسایل وکاروئ او په کور کې د پېښو مخنیوی په څه ډول وکړئ







3. په یو خوندي ځای کې د زیوراتو او نورو قیمتي توکو ساتل




7. د کرایه کوونکي د بیمې اخیستل




4. خپل ګاونډیان پېژندل



6. ستاسو د کور شاوخوا د مشکوکو خلکو راپور ورکول



5. اجنبیانو ته کور ته د ننه کېدو اجازه نه ورکول


## 4.8 خپل کور پاک ساتل

ستاسو د اوسیدو ځای پاک ساتل د سالم پاتې کیدو لپاره لازمي دي.

**لارښووني:** د خپل کور پاک ساتلو سره د سالم پاتې کیدو څرنګوالی ولولئ. د پاکولو د میتودونو په هغه بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو ته نوي دي.



1. په منظم ډول د کثافاتو جلا کول، ایستل او د را ټولولو په ورځو کې بیا استفاده کول.




2. د پوړونو جارو کول او پاکول





3. ستاسو په کور کې د سطحو پاکول



4. د لوښو مینځل



5. د کالیو او بسترې مینځل



6. د تشنابونو، نلکیو، حمامونو او شاوروونو پاکول



7. د حفظ الصحي محصولاتو لکه پیډونه، ټیمپونونه او ډایپرونه د کثافاتو په کڅوړه کې اچول، نه په تشناب کې.

پنځمه برخه

# روغتیا




# روغتیا



## 5.1 په کاناډا کې د عامې روغتیا پاملرنه

هر ولایت او سیمه خپلو اوسیدونکو ته د عامه تمویل شوي روغتیا پاملرنې خدمات وړاندې کوي. پوښښ له یو ولایت او سیمې څخه بل ته توپیر لري. کله چې تاسو په کاناډا کې طبي خدمات تر لاسه کوئ، نو معمولاً تاسو اړتیا نه لرئ چې د دوی لپاره مستقیمې پیسې ورکړئ. دا خدمات د هغو مالیاتو له خوا تمویل کیږي چې خلک یې تادیه کوي.




د عامه تمویل شوي روغتیا پاملرنې خدماتو د کارولو لپاره تاسو روغتیایی کارت ته اړتیا لرئ. تاسو اړ یئ چې د هغه ولایت یا سیمې څخه چېرې چې تاسو اوسئ د روغتیا د کارت غوښتنه وکړئ. د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وغواړئ چې ژر تر ژره ستاسو د روغتیا کارت لپاره په غوښتنه کولو کې ستاسو سره مرسته وکړي.

د روغتیا پاملرنې ځینې خدمات په بشپړ ډول تر پوښښ لاندې دي، په داسې حال کې چې نور په جزوي ډول پوښل شوي یا په بشپړ ډول نه دي پوښل شوي. د روغتیا پاملرنې خدمات چې خلک ځینې وختونه مستقیماً پیسو ورکولو ته اړتیا لري، په لاندې ډول دي:



1. تجویز شوې عینکې (په نسخه کې وړاندیز شوې عینکې)



2. د غاښونو پاملرنه



3. د نسخې درمل



4. د امبولانس خدمات



5. د ځانګړو طبي اړتیاوو لرونکو خلکو لپاره د کور پاملرنه

د نورو معلوماتو لپاره، د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه و پوښتئ، یا د خپل ولایت، یا سیمې له ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ.


**1.** کله چې تاسو یا ستاسو په کورنۍ کې کوم څوک کار پیل کوي، د خپل رئیس نه پوښتنه وکړئ چې ایا ګمارونکی د خدماتو لپاره اضافي روغتیایي پوښښ لري چې ستاسو په ولایت یا سیمه کې تر پوښښ لاندې نه دی نیول شوی.




**2.** په ځینو ولایتونو یا سیمو کې، نسخې درمل او د غاښونو پاملرنه د ځینې خلکو لپاره په ټیټ لګښت یا وړیا ډول شتون لري. په دې اړه د حکومت له خوا ستاسو د تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ.




**3.** په کاناډا کې، تاسو کولی شئ د ماشومانو د شمیر، د زیږېدنې د وخت او تعداد په اړه انتخاب وکړئ. د خپل فامیلي پلان د غوراویو په اړه له ډاکټر سره خبرې وکړئ. دا ستاسو ځان او ستاسو انتخاب دی.



**4.** هغه ماشومان چې په طبیعي ډول د مخلوط جنسي ځرنګوالي سره زیږیدلي معمولا جراحۍ ته اړتیا نه لري، پرته له دې چې طبي اړتیا پېښه شي.



**5.** دا د خلکو لپاره قانوني عمل دی چې جراحي وکړي تر څو د دوی د جنډر هویت تایید کړي، که چېرې دا د هغه جنس څخه توپیر ولري چې دوی ته د زیږون پرمهال ټاکل شوی و.






**تاسو اړ یاست چې هر ځل د عامه تمویل شوي روغتیا پاملرنې خدماتو ته د ور تلو پر مهال خپل روغتیایی کارت وښایاست. د روغتیا خپل کارت وکاروئ او خپل کارت بل چا ته مه ورکوئ.**



## 5.2 د روغتیا لنډمهاله فدرالي برنامه


دا چې تاسو ولایتي یا سیمه ایزې روغتیا پاملرنې خدماتو ته د لاسرسي لپاره څومره وخت ته اړتیا لرئ، پدې پورې اړه لري چې تاسو په کاناډا کې چېرته اوسئ.




تر څو پورې چې تاسو خپل روغتیایي کارت ترلاسه نه کړئ او د عامه تمویل شوي روغتیایي پاملرنې خدماتو ته لاسرسی و نه ومومئ، نو تر هغې پورې د روغتیا لنډمهاله فدرالي برنامه (IFHP/PFSI) بنسټیز روغتیایي خدمات تر پوښښ لاندې نیسي. دا اضافي طبي خدمات هم پوښي، پداسې حال کې چې تاسو د حکومت یا ستاسو له سپانسرانو څخه مالي ملاتړ تر لاسه کوئ. د نورو معلوماتو لپاره، داځای ولولی:




کاناډا ته په رسیدو سره به تاسو خپل IFHP/PFSI سند ترلاسه کړئ. دا سند خوندي وساتئ.



هرکله چې تاسو خدمت یا محصول ترلاسه کولو ته اړتیا لرئ نو تاسو باید خپل IFHP/PFSI سند د راجستر شوي IFHP/PFSI روغتیا پاملرنې ته وړاندې کړئ ترڅو دوی وکولی شي ستاسو پوښښ تایید کړي.

له IFHP/PFSI سره به تاسو د روغتيايي خدماتو لپاره اضافي پوښښ ترلاسه کړئ چې ستاسو د ولايتي يا سيمه ايزې روغتيا پاملرنې خدماتو لاندې نه دي پوښل شوي، په شمول د:



**1.** د ليد محدوده پاملرنه (په نسخه کې وړانديز شوې عينکې)



**2.** د غاښونو بيړنۍ پاملرنه



**3.** د رواني روغتيا خدمات



**4.** نور خدمات لکه امبولانس خدمات، د درملو وړانديز، او د ژباړې خدمات

تاسو به دا کتې هغه وخت ترلاسه کړئ کله چې تاسو د کاناډا حکومت او/يا ستاسو له سپانسرانو څخه مالي ملاتړ ترلاسه کوئ. ستاسو د IFHP/PFSI پوښښ له پای ته رسيدو وروسته، تاسو اړ ياست چې د دې اضافي طبي خدماتو لپاره پيسې ور کړئ.



**کله چې تاسو IFHP/PFSI کاروئ، نو تاسو لومړی اړتيا لرئ پوښتنه وکړئ چې ايا کوم ځانګړی طبي خدمت تر پوښښ لاندی دی. که نه وي، نو تاسو ښايي اړتيا ولرئ چې پيسې ورکړئ يا تر هغې انتظار وکړئ چې تاسو خپل ولايتي يا سيمه ييز روغتيا پاملرنې خدماتو ته لاسرسی مومئ. ستاسو د حکومت لخوا تمويل شوی سازمان يا سپانسر کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي ترڅو پوه شئ چې کوم خدمات يا محصولات د IFHP/PFSI له لارې پوښل شوي.تاسو کولی شئ دلته د IFHP/PFSI -راجستر شويو روغتيايي متخصصينو لټون هم وکړئ :**



## 5.3 د مختلفو روغتيا پاملرنې خدماتو لپاره چېرته ځئ؟

په کاناډا کې د روغتيا پاملرنې مختلف چمتو کوونکي مختلف خدمات وړاندې کوي.

**لارښوونې:** په کاناډا کې د روغتيا پاملرنې مختلف چمتو کوونکي و ګورئ. د هر چمتو کوونکي او د هغه د توضيح ترمنځ يوه کرښه رسم کړئ.

**.1**




د کورنۍ ډاکټران

**.2**




د ټولنې د روغتيا مرکزونه

**.3**




بيړنۍ خونې

**.4**



روغتونونه

ا) د روغتون ساحه، چېرې چې تاسو د جدي او سمدستي روغتيايي ستونځې د لرلو پر مهال ځئ. ستاسو د روغتيا ستونځې ته په کتو، تاسو کولی شئ پخپله يا 911 ته په زنګ وهلو سره د امبولانس په ذريعه ولاړ شئ.

ب) مسلکي کسان چې د روغتيا پاملرنې عمومي مشوره او درملنه وړاندې کوي. دوی کولی شي تاسو يو متخصص ته راجع کړي. کاناډا ته له رسيدو د مخه د تر لاسه شويو طبي ازموينو او واکسينونو پايلې وښاياست.

پ) د روغتيا پاملرنې لوی مرکزونه چې تاسو د جدي روغتيايي ستونځې او اړينو ازموينو يا جراحۍ ته د اړتيا په صورت کې ور ځئ.

ت) چېرې چې خلک په يوه ځانګړې سيمه کې ميشته وي کولی شي د کورنۍ ډاکټرانو او نرسانو ته ور شي.




**په کاناډا کې، تاسو پرېکړه کوئ چې څوک ستاسو د شخصي طبي معلوماتو په اړه پوهېږي. دا له نورو سره نه شريکېږي، پرته له دې چې تاسو ووایاست چې دا د شريکيدو وړ دي، يا تاسو خپله دوی ته مستقيم وايئ. دا ستاسو مسؤليت دی چې ستاسو د روغتيا په اړه پرېکړې وکړئ او د ځان وکالت وکړئ.**



ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ت)؛ 3 (ا)؛ 4 (پ)

پنځمه برخه : روغتيا

5. 

د ټک را ټک کلينيکونه

ټ) هغه ډاکټران چې په ځانګړو روغتیايي ستونځو تمرکز کوي او د درملو پدې برخه کې روزل شوي وي. ستاسو کورنی ډاکټران معمولاً تاسو د دې ډاکټرانو لیدو ته راجع کوي. دې ډاکټرانو ته غیر عاجله رجوع ځو میاشتې وخت نیسي.

6. 

متخصصين

ث) که تاسو د غاښونو ستونزه ولرئ نو تاسو باید هغه ته لاړ شئ. ډیری دا خدمات د عامه تمویل شوي روغتیایی مرکزونو له لوري نه دي پوښل شوي. په هرصورت، که په روغتون کې علاج ترسره شي نو د عامې روغتیا د پاملرنې ځینې پلانونه د غاښونو ځینې عاجلې جراحي برخې تر پوښښ لاندې نیسي.

7. 

د غاښونو ډاکټران

ج) کله چې تاسو د ژوند نه ګواښونکي طبي اندیښنې ولرئ، یا کله چې تاسو کورنی ډاکټر و نه لرئ، یا کله چې ستاسو کورنی ډاکټر د لاسرسي وړ نه وي نو چېرې ځئ. تاسو عموما د لیدنې لپاره ټاکلې ناستې (ملاقات) ته اړتیا نه لرئ.

8. 

درملتونونه

چ) که تاسو احساساتي (هیجاني) درد ولرئ نو یو مسلکي شخص ستاسو سره مرسته کولی شي. که احساساتي درد ستاسو په ورځني ژوند باندې اغیزه پیل کړي، نو د مسلکي کس څخه مرسته وغواړئ.

9. 

د رواني روغتيا خدمات

ح) تاسو د نسخې د درملو او نورو روغتیايي پاملرنو د محصولاتو د پیرود لپاره چېرې ځئ. دلته د روغتیا پاملرنې متخصصین کولی شي د درملو او ځینې وړاندیز شویو واکسینونو په اړه پوښتنې هم ځواب کړي.




د کورنی ډاکتر موندل په کاناډا کې وخت ته اړتیا لري. له را رسېدو سره سم د حکومت لخوا خپل تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ. په ورته وخت کې، که تاسو غیر عاجله روغتیايي اندیښنه لرئ او ډاکټر ته اړتیا لرئ، نو تاسو کولی شئ خپل نږدې کلینک یا د ټولنې روغتیايي مرکز څخه لیدنه وکړئ.





ځوابونه: 5 (ج)؛ 6 (ټ)؛ 7 (ث)؛ 8 (ح)؛ 9 (چ)

## 5.4 طبي ملاقاتونه




دا مهمه ده چې د طبي ملاقات لپاره په وخت حاضر شئ. که تاسو ناوخته راشئ، ډاکټر ممکن ستاسو له لیدو څخه انکار وکړي. که تاسو د پیسو د ورکړې په بدل کې د طبي خدمت لپاره ناوخته شئ، ښایي تاسو ته د خدماتو تهیه کول و نه منل شي، خو تاسو.


به بیا هم تادیې (پیسې) ورکوئ. له همدې کبله، تل نیټه او وخت ثبت کړئ تر څو ستاسو سره ستاسو د ملاقات په یاد ساتلو کې مرسته وکړي.

**لارښوونې:** په کاناډا کې له طبي ملاقاتونو سره د دې کورنۍ تجربې ته وګورئ.


.1



.2





.3





.4




.5




.6




# 5.5 ذهني روغتیا




رواني روغتیا پدې معنی ده چې د ژوند د لوړو ژورو د ګاللو په برخه کې تاسو څنګه احساس، فکر او چلند کوئ. دا دې ته هم اشاره کوي چې تاسو څنګه فشار، قهر او خفګان اداره کوئ.



1. هرڅوک کېدای شي د رواني روغتیا ستونځې تجربه کړي. رواني ستونځې د هر جنس، عمر، تعلیم، د عاید کچې او کلتورونو لرونکي خلک اغیزمن کوي.



2. هر کال، په کاناډا کې له 5 څخه 1 نفر په شخصي ډول د رواني روغتیا ستونځه تجربه کوي.




3. تر 40 کلنۍ پورې، شاوخوا 50 سلنه نفوس به د رواني روغتیا ستونزه ولري یا یې درلوده.




4. تاسو کولی شئ له 211 شمیرې سره د اړیکې نیولو او یا انلاین لټون له لارې معلومات ترلاسه کړئ چې د رواني روغتیا کوم خدمات شتون لري. تاسو کولی شئ د خپلې کورنۍ ډاکټر، نرس یا ټولنیز کارمند سره هم د مرستې لپاره وغږیږئ. د نورو معلوماتو لپاره چې څنګه په کاناډا کې نوي راغلي کسان کولی شي خپله رواني روغتیا اداره کړي، دا ځای ولولئ:



5. د رواني روغتیا اړتیا لرونکو ماشومانو لپاره، 1-800-668-6868 ته زنګ ووهئ یا دا ځای ولولئ:

## 5.6 د نویو راغلو کسانو لپاره ځینې ننګونې

**لاربښوونې:** ځینې هغه ننګونې و ګورئ چې نوي راغلي کسان په کاناډا کې ورسره مخ کیږي. د هغو ننګونو په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې ممکن په کاناډا کې ورسره مخ شئ.



1. د نړۍ یوه نا امنه برخه او خپل کور، کورنۍ او ملګري پرېښودل



2. د اوسیدو ځای موندل



3. نوي ملګري پیدا کول




4. د دندې ترلاسه کول



5. د خپلې کورنۍ ملاتړ کول



6. په نوې ټولنه کې میشته کېدل



7. د هوا سره عادت کېدل



8. نوی ښوونځی پیل کول

## 5.7 کله باید مرسته وغواړئ؟

په نوي هیواد کې د ژوند پیل کول ستونځمن کیدای شي او تنظیم کول یې وخت ته اړتیا لري. دا عادي خبره ده چې د ژوند د منظمولو پر مهال تاسو کیدای شي ډیر احساساتي شئ. په هرصورت، که احساسات ستاسو ورځنی فعالیت اغیزمن کړي، نو د مرستې غوښتنه وکړئ. د هر مشکل په اړه چې تاسو ورسره مخ کیږئ، له چا سره خبرې کول له ځان سره د مرستې لومړی ګام دی. د مرستې غوښتنه وکړئ، که تاسو یا کوم څوک چې تاسو یې پيژنئ اکثراً:



1. نا امید او غمجن وي



2. ناوړه خوبونه ویني یا تیر بد یادونه لري




3. نه وږي کېدل



4. بې خوبه



5. سترې یا ستومانه



6. خفه شوی یا غوسه



7. اندیښنه یا فشار




8. یواځې، جلا او له هر څه لاس اخیستل



9. ځان ته د زیان اړولو یا مرګ فکرونه درلودل

## 5.8 تاسو څنګه کولی شئ له ځان او نورو سره مرسته وکړئ؟



که تاسو غمجن یا اندېښمن یاست، نو داسي شیان شتون لري چي په کولو سره يې تاسو له ځان او نورو سره مرسته کولی شئ. د هغو فعالیتونو په کولو سره يې پیل کړئ چي تاسو پو هیږئ تاسو ته د خوښئ یا راحتئ احساس درکوي.


**لارښووني:** کړنو ته وګورئ. د کړنو په هغه بکس کي د "✓" صحیح نښه ولیکئ چي کله په کاناډا کي د ژوند په تنظیم کولو کي ستونزې تجربه کوئ او دا کړني به ستاسو لپاره ګټوري وي.



**1.** له نورو سره یا د نورو لپاره پخلی کول



**2.** له نورو سره مرسته کول



**3.** د کورنۍ او ملګرو سره اړیکي نیول




**4.** په بهر کي (له کوره د باندي) وخت تېرول



**5.** صحي خواړه خوړل.


لا زیات معلومات دلته ولولئ:



**6.** عبادت یا مراقبه کول




**7.** سپورت کول یا تمرین کول




**8.** له هغو خلکو سره خبرې کول چې تاسو پرې باور لرئ




**9.** د ژوند په مثبتو اړخونو باندې تمرکز



**10.** د خپلو کلتوري اړخونو پلي کول



**11.** د ځان لپاره وخت ایستل او د هغه څه ترسره کول چې تاسو ترې خوند اخلئ، لکه د کتاب لوستل یا یو څه جوړول



**ستاسو احساساتي روغتیا هغومره مهمه ده څومره چې ستاسو فزیکي روغتیا مهمه ده، او دواړه سره تړاو لري. لکه څرنګه کله چې تاسو په خپل بدن کې ستونځه لرئ، که تاسو احساساتي (هیجاني) درد لرئ، نو دا مهمه ده چې مرسته وغواړئ.**

## 5.9 د حفظ الصحې په پلي کولو سره د روغتیايي ستونځو مخنیوی

شخصي حفظ الصحه مهمه ده تر څو خپل ځان او نورو له ناروغیو او مرضونو خوندي وساتئ.

**لاربښووني:** د روغتیا ستونځو ته پام وکړئ. د هرې ستونځې او د هغې د مخنیوي د ځرنګوالي تر منځ کرښه رسم کړئ.

**.1**




**بده ساه او د غاښونو ورستېدل**

**.2**



**انفلوینزا، اسهال او پرازیتونه**

**.3**




**د ناروغیو خپرېدل**

**.4**




**سپږې**



ا) د ناروغۍ پر مهال د مخ ماسک کارول، د ټوخي یا پرنجي پرمهال خپله خوله پوښل او وروسته لاسونه مینځل.



ب) له نورو خلکو سره جامې، برش یا تولیه نه شریکول.



پ) په ورځ کې له 2 څخه تر 3 ځله د غاښونو برش کول او په منظم ډول د غاښونو د خالیګاوو تر منځ نرم تار تېرول.



ت) لږ تر لږه د 20 ثانیو لپاره په صابون سره په منظم ډول لاس مینځل، په ځانګړې توګه د تشناب کارولو وروسته یا د خوړو له تیارولو څخه وړاندې.

**د میاشتني عادت پرمهال د لایو یا ټیمپونونو کارول او د ماشومانو او زړو کسانو لپاره د ډایپرونو کارول د شخصي حفظ الصحې لپاره مهم دي. دا په منظم ډول په کور یا ټاکل شویو ځایونو، لکه عامه تشنابونه کې بدلیږي.**



ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ت)؛ 3 (ا)؛ 4 (ب)

## شپږمه برخه

# زده کړې



# زده کړې

## 6.1 په کاناډا کې زده کړه








د قانون له مخې، په کاناډا کې ماشومان باید زده کړې وکړي. ولایت یا سیمې ته په پام سره، ماشومان د 4 او 6 کلونو ترمنځ زده کړې پیل کوي او باید تر 16 او 18 کلنۍ عمر پورې دوام ومومي.

په کاناډا کې ولایتونه او سیمې د تعلیم مسؤلیت لري. بالاخره، ممکن یو څه توپیرونه شتون ولري او هغه په دې پورې اړه لري چې تاسو چیرته اوسئ. ستاسو د اوسېدو په ځای کې د زده کړو په اړه د نورو معلوماتو لپاره دا ولولئ:



کاناډا دوه رسمي ژبې لري: انګلیسي او فرانسوي. عامه ښوونځي معمولاً په دې دواړو ژبو کې شتون لري.




په انګلیسي ښوونځیو کې درسونه په انګلیسي کې تدریس کیږي، او فرانسوي د دویمې ژبې په توګه تدریس کیږي. په فرانسوي ښوونځیو کې، انګلیسي د دویمې ژبې په توګه تدریس کیږي. د فرانسوي د تنوع ښوونځي د دواړو ترکیب یعنی انګلیسی او فرانسوي وړاندیز کوي. د نورو معلوماتو لپاره، د خپل حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ.



**د کیوبیک ولایت رسمي ژبه فرانسوي ده. نوي راغلي ماشومان به هغو ښوونځیو ته ځي چیرې چې درسونه په فرانسوي ژبه تدریس کیږي. په نورو ولایتونو او سیمو کې، په فرانسوي ژبه کې د زده کړې په اړه دلته معلومات تر لاسه کړئ:**



## 6.2 د ماشومانو لپاره د زده کړې غوراوي

**لارښووني:** په کاناډا کې د ماشومانو د تعلیم لپاره مختلف غوراوي (اختیارونه) ولولئ. دا ممکن ستاسو د اوسېدلو د سیمې له مخې له نورو سیمو سره توپیر و لري. د زده کړې اختیارونو په هغه بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې تاسو پلان لرئ په اړه یې د خپل حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه کله چې تاسو په کاناډا کې یاست، پوښتنه وکړئ.

**1. عامه ښوونځي** ☐

ا) دا په کاناډا کې د ښوونځي تر ټولو عام ډول دی. دا د هغو مالیاتو له خوا تمویل کیږي چې خلک یې تادیه کوي. ولایتونه او سیمې ډاډ ورکوي چې د لوړ کیفیت زده کړې په عامه ښوونځیو کې شتون لري. ښوونکي باید تصدیق تر لاسه کړي تر څو پدې ښوونځیو کې درس ورکړي او د حکومت نصاب تعقیب کړي.



**ب) جلا ښوونځي** ☐

دا عامه تمویل شوی ښوونځی دی چې یوازې په ځینو ولایتونو او سیمو کې شتون لري. پدې ښوونځیو کې رومي عېسوي یا د روم کاتولیک مذهب د نصاب یوه برخه ده.



**2. خصوصي ښوونځي** ☐

دی ښوونځي ته کورنی باید پیسې ورکړي تر څو زده کوونکي یې هلته زده کړې وکړي. ځینې دا ښوونځي د حکومت لخوا ټاکل شوي مقررات تعقیبوي. نور خصوصي ښوونځي پریکړه کوي چې د دوی زده کوونکي څه زده کوي او د ښوونکو غوره کول هم د دوی په لاس کې دي. پدې ښوونځیو کې، دین ممکن د نصاب برخه وي.



**3. په کور کې ښوونځي** ☐

ځینې کورنۍ په کور کې زده کونکو ته تعلیم ورکول غوره کوي. زده کوونکي لا هم راجستر کیدو ته اړتیا لري ترڅو وښیي چې دوی تعلیم تر لاسه کوي. کورنۍ ډیر لګښتونه پوښي او پریکړه کوي چې زده کوونکي څه زده کوي. د کور د ښوونځي لپاره مقررات د ولایتونو او سیمو ترمنځ توپیر لري.




د زده کړو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د خپل ولایت یا د سیمې د پوهنې وزارت له ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ.


## 6.3 په کاناډا کې عامه زده کړې

**لارښوونې:** په کاناډا کې د ماشومانو لپاره د تعلیم د عامو اړخونو په اړه معلومات ولولئ.

1. د ښوونځي کال د اګست په پای یا د سپتمبر په پیل کې پیل کیږي او د جون په میاشت (د کال په جریان کې له رخصتیو سره ) کې پای ته رسیږي. که تاسو کاناډا ته راشئ او د ښوونځي کال د مخه پیل شوی وي، نو تاسو لا هم کولی شئ د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان په ښوونځیو کې شامل کړئ.



2. زده کوونکي د دوشنبې څخه تر جمعې پورې ښوونځي ته ځي، پرته له عامه او د ښوونځي له رخصتیو.



3. زده کوونکي معمولاً په ښوونځي کې له 7 څخه تر 8 ساعتونو پورې وي. زده کوونکي د دې ټول وخت لپاره په ښوونځي کې پاتې کیږي.



4. حتی که دوی په انګلیسي یا فرانسوي خبرې هم نشي کولی، نوي راغلي زده کوونکي زیاتره په هغه ټولګي کې ځای پر ځای کیږي چې د دوی له عمر سره سم وي. د ژبې زده کولو لپاره دوی ته اضافي مرستې شتون لري.



5. اضافي ملاتړ زیاتره د هغو زده کوونکو لپاره شتون لري، څوک چې فزیکي، سلوکي یا د زده کړې ننګونې لري. دا مرسته په ښوونځي یا بل کوم ځای کې وړاندیز کیدی شي. د ښوونځي، ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو سره خبرې وکړئ او هرڅومره ژر چې کیږي د ملاتړ غوښتنه وکړئ.




## 6.4 په کاناډا کې د زده کړې لومړنۍ کچې


**لارښوونې:** د ماشومانو لپاره د زده کړې کچې وګورئ. په ځینو ولایتونو او سیمو کې دا کچه ممکن یو څه توپیر ولري.



**وړکتون :** له 3-5 کلونو عمر



**ابتدایه ښونځي:** د 6-10 کلونو عمر پورې (1-5 ټولګي)



**منځنی ښوونځی:** د 11-13 کلونو عمر (6-8 ټولګي)



**ثانوي ښوونځی (عالي لیسه):**
د 14-18 کلونو عمر (9-12 ټولګي)




**د ثانوي ښوونځي ډیپلوم**





**هغه زده کوونکي چې ښوونځي ته ځي باید وښيي چې دوی د ځینې ناروغیو پر وړاندې واکسین شوي یا د معافیت غوښتنه و کړي. دا مهمه ده چې د واکسین کولو معلومات تازه (له وخت سره سم) وساتئ.**





سپړمه برخه : زده کړې


## 6.5 په کاناډا کې د زده کوونکي په توګه اوسېدل

**لارښوونې:** دلته دا ولولئ چې په کاناډا کې د عامه ښوونځي زده کوونکی څه ډول وي. د څرګندونو په هغه بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ کوم چې له هغو هیوادونو څخه توپیر لري چېرې چې تاسو اوسېدلي یاست.

**1.** زده کوونکي معمولاً یونیفورم نه اغوندي.



**2.** کله چې ښوونکی ټولګی ته ننوځي نو زده کوونکي معمولاً نه ودرېږي.



**3.** زده کوونکي د جنسیت، کلتوري شالید یا وړتیا په پام کې نیولو پرته په تمرینونو ګومارل کیږي او یوځای زده کړه او صنفي کار کوي.



**4.** زده کوونکي د زده کړې کورنۍ کار لري چې دوی باید هغه په کور کې ترسره کړي. دې ته کورنۍ دنده ویل کیږي.



**5.** زده کوونکي نه شي کولی یو بل ته زیان و رسوي یا د ښوونځي د کارمندانو لخوا زیانمن شي. د هر هغه چا لپاره جدي پایلې شتون لري څوک چې په قصدي ډول نورو ته په ښوونځیو کې زیان رسوي.




**6.** د ټولو مذهبونو زده کوونکي یو ځای مطالعه کوي او باید ټولو مذهبونو ته په مساوي توګه درناوی وکړي.



**7.** زده کوونکي په ښوونځي کې د خوړو لپاره له کور څخه د غرمې ډوډۍ راوړي.




**ډېری عامه ښوونځي داسې کارکوونکي لري تر څو د نویو راغلو کورنیو او زده کوونکو سره د زده کړې پر سیستم په پوهېدو کې مرسته وکړي او هغوی پوه کړي چې د زده کړې سیستم څنګه کار کوي او څنګه کولی شي په کاناډا کې د زده کړې له سیستم سره ځان برابر کړي.**



**8.** زده کوونکو ته ځینې هغه تجهیزات ورکول کیږي چې دوی ورته اړتیا لري. کورنۍ معمولاً اړتیا لري چې ځینې شیان واخلي لکه بکسونه، کتابچې کتابونه، دوسیې او ورزشي بوټان.



**9.** زده کوونکي په دې اړه زده کوي چې ښځګه د دوی بدن وده کوي او بدلون مومي. دې ته جنسي تعلیم ویل کیږي. د نورو معلوماتو لپاره له ښوونځي نه مرسته وغواړئ.



**10.** زده کوونکي اجازه نه لري چې په ښوونځي کې الکول یا مخدره توکي وکاروي.



**11.** زده کوونکي د نظریاتو په تبادله، ګروپي کار کولو او پوښتنو کولو له لارې زدکړه کوي. له زده کوونکو ښځه معمولاً نه غوښتل کیږي چې یوازې حقایق حفظ کړي.



**12.** زده کوونکي په انګلیسي، فرانسوي یا دواړو ژبو کې زده کړې کوي.




**13.** زده کوونکي له تولګي ښځه بهر په تنظیم شویو فعالیتونو کې برخه اخلي. ځینې مثالونه یې سپورت، کلبونه یا موزیمونو ته سفرونه دي. پدې توګه، زده کونکی کولی شي خپلې لیوالتیا ته وده ورکړي او نوي ملګري پیدا کړي.



**14.** زده کوونکي او ښوونکي هم یو له بله فرق لري. دوی د مختلفو نسلونو، مذهبونو، جنډرونو، جنسي تمایلاتو او وړتیاوو ښځه دي.



**هغه تو‌پیرونه چې پورته په ګوته شوي، کوم به یې ستاسو یا ستاسو په کورنۍ کې د زده کوونکي لپاره ننګوونکي وي؟**
**د خپلې اندیښنې په اړه د حکومت تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو سره خبرې وکړئ.**

## 6.6 ځورول

ځورونه د تبعیض یوه برخه ده چې په ښوونځیو کې پېښیږي. دا د ټولو اړخونو او ټولنو ځوانان اغیزمن کوي.لاندې د ځورونې ډولونو په اړه نور و لولئ.



1. لفظي ځورونه د یو چا نوم اخیستل (یا ښکنځلې)، دوی ته ګواښ کول یا د دوی په اړه ګنګوسې خپرول دي.





2. فزیکي ځورونه وهل، چیچل، کش کول، تعقیبول، چوخول، له منځه وړل یا د څیزونو غلا کول یا له اجازې پرته جنسي لمس کول دي.



4. مجازی یا سایبري ځورونه د انټرنیټ، ټولنیزو رسنیو یا د لیکلي پیغام لیږلو له لارې د ډارولو، ټیټولو، افواهاتو خپرولو یا د چا په مسخره کولو کې کارول کیږي.



3. احساساتي ځورونه د یو چا ګوښه کول او نه پرېښودل دي چې له یوې ډلې سره یو ځای شي یا د نورو په وړاندې دوی ته سپکاوی کول.



**په ښوونځیو کې ځورول یو بدبخته حقیقت دی. په کاناډا کې ښوونځي د دې جدي ستونځې د حل کولو لپاره کار کوي. که تاسو یا کوم څوک چې تاسو یې پیژنئ له ځورونې سره مخامخ وي، نو له یو باوري کس، ښوونکي، د ښوونځي مدیر او ستاسو د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو سره خبرې وکړئ.**



## 6.7 کورنۍ او تعلیم


د کورنۍ غړي هڅول کيږي چې د زده کوونکي په زده کړه کې د فعال رول په لوبولو سره د زده کوونکو ملاتړ وکړي . پدې کې شامل دي:



1. د دوی سره په کورنۍ دنده کې مرسته کول




2. د دوی له ښوونکو سره ناسته او خبرې کول



3. د دوی په ښوونځي کې رضاکارانه کار کول

که ستاسو په کورنۍ کې د 12 کالو څخه کم عمره ماشومان شتون ولري، نو تاسو نه شئ کولی دوی پرته له کوم سرپرست څخه په کور کې یواځې پریږدئ.

**د ماشوم پاملرنې لپاره غوراوي دادي:**



1. د کورنۍ د یوه مسؤل غړي له لوري د دوی پالل



2. دماشومانو د پاملرنې مرکز یا نرسري ښوونځي کې چې جواز ولري، د دوی نوم لیکنه



3. د باور وړ پر-کور-پالونکي موندل



4. د دوی د پالنې لپاره مسؤل کس ته پیسې ورکول

**د ماشوم پاملرنې لګښت په هر ولایت او سیمه کې توپیر لري. د دولت له خوا تمویل شوې د ماشومانو د مراقبت برنامه هم په ولایاتو کې او هم په نژدې سیمو کې په کم لګښت د لاسرسي وړ ده. د نورو معلوماتو لپاره، د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ.**

## 6.8 د زده کوونکو وضعیت

**لاربښوونې:** د زده کوونکي وضعیت وڅیړئ. که تاسو یا ستاسو د کورنۍ کوم زده کوونکی په دې ډول حالاتو کې وي نو تاسو به څه کوئ؟









**1.** زده کوونکی نه غواړي چې ښوونځي ته ولاړ شي.

**2.** هغه زده کوونکی چې له 15 کلنۍ څخه وروسته په یوه ورزشي ټیم کې داخلیږي، نومري یې کمیږي.

**3.** یو تن زده کوونکی په ټولګي کې له ښوونکي سره بد سلوک کوي او د ټولګي فضا اخلالوي او په داسې حال کې خبرې کوي چې باید غلی کېني او خپل کار وکړي.

**4.** یو 17 کلن زده کوونکی د ښوونځي له وخت څخه وروسته د یو مخلوط جنس مجلس ته بلل کیږي.

## 6.9 بالغ زده کوونکي


**لاربښوونې:** عام دلیلونه ولولئ چې په کاناډا کې لویان ولې زده کړې کوي. د دلایلو په هغه بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې ولې تاسو غواړئ په کاناډا کې د یو بالغ په توګه زده کړه وکړئ.




**1.** د نیمګړو زده کړو بشپړول ☐




**2.** د انګلیسي او/یا فرانسوي ژبو مهارتونو ته وده ورکول ☐



**3.** غواړئ چې د سند، ډیپلوم یا درجې په ترلاسه کولو سره خپل مهارتونه لوړ کړئ ☐



**د لویانو لپاره چې خپلې ثانوي زده کړې (لیسه) یې پای ته نه دي رسولي، د ډیپلوم په ترلاسه کولو کې د مرستې لپاره ټولګي شتون لري. له دې ټولګیو څخه ځینې یې لویانو ته لیک او لوست هم ورښيي، حتی که دوی په خپله ژبه کې په لیک او لوست نه پوهیږي.**

شپږمه برخه : زده کړې

## 6.10 د لویانو د ژبې ټولګي

**لارښوونې:** په کاناډا کې د لویانو دایمي اوسیدونکو لپاره د حکومت له خوا تمویل شوي د ژبې د ټولګیو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

**1.** د ژبې ټولګي د انګلیسي او/یا فرانسوي زده کړې لپاره شتون لري.





**2.** د ژبې ټولګیو د پیل کولو لپاره، تاسو باید لومړی د ژبې وړیا ارزونه وکړئ. کله چې کاناډا ته راغلئ، نو د حکومت له خوا ستاسو د تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وپوښتئ چې کله او چیرته ارزونه کولی شئ. د خپلې کچې په اړه د پوهیدو لپاره، د ځان ارزونې ازموینه دلته ورکړئ:




**3.** ټولګي ممکن بشپړ وخت، پس له وخته، د ورځې، ماښام یا د اونۍ په پای کې وي.



**4.** ټولګي د ژبې د زده کړې ترڅنګ تاسو ته ډیر څه در زده کوي. تاسو به په کاناډا کې د ژوند په اړه زده کړئ.




**5.** د ژبې د زده کړې په ټولګي کې د ماشوم د پاملرنې، د عامه ترانسپورت د ټیکټونو یا نور ملاتړ د شتون په اړه پوښتنه وکړئ.




## 6.11 ولې دایمي اوسیدونکي د ژبې ټولګي اخلي؟


**لارښوونې:** هغه دلایل ولولئ چې ولې دایمي اوسیدونکي د ژبې ټولګي اخلي. د دلایلو په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې تاسو ولې غواړئ په لویوالي کې په کاناډا کې انګلیسي او/یا فرانسوي زده کړې.



**.1** دنده پیدا کړئ ☐



**.2** په اسانۍ سره خدماتو ته لاسرسی ومومئ ☐



**.3** د عامه ټرانسپورټ په کارولو سره په خپله نوې ټولنه کې وګرځئ ☐



**.4** له ماشومانو سره د هغوی په تعلیم کې مرسته وکړئ ☐



**.5** ستاسو په نوې ټولنه کې د نورو خلکو سره وصل شئ ☐



**.6** د تابعیت لپاره د ژبې اړتیاوې پوره کړئ ☐



**.7** خپلې زده کړې ته دوام ورکړئ ☐

## 6.12 د لویانو لپاره د تعلیم غوراوي (اختیارونه)


1. وروسته له هغې چې ثانوي زده کړې بشپړې شي، بالغ زده کوونکي کولی شي په کالجونو، انستیټیوټونو یا پوهنتونونو کې زده کړې کول غوره کړي.




2. داخله کول رقابتي بڼه لري، او ځایونه محدود دي. داړ ترلاسه کړئ چې تاسو ټولې اړتیاوې پوره کوئ او په وخت یې غوښتنه وکړئ.



3. د زده کړې د رشتې له غوره کولو څخه وړاندې د کار د ځایي مارکېټ په اړه څېړنه وکړئ. په کاناډایي کالجونو، انستیټیوټونو او پوهنتونونو کې د بیلابیلو وړاندیز کېدونکو زدکړو او نورو معلوماتو لپاره دا ولولئ:



4. په کاناډا کې د ډیپلوم یا درجې درلودل تاسو ته د دندې تضمین نه درکوي. په هرصورت، ځینې دندې یوازې د غوښتنلیک لپاره ډیپلوم یا درجې ته اړتیا لري.








## 6.13 د ثانوي دورې وروسته زده کړې لګښت

له ثانوي وروسته زده کړو لپاره د ښوونې فیس په اداره او برنامه پورې اړه لري.



له ثانوي دورې وروسته زده کړو د لګښت د محاسبه کولو لپاره یوه ګټوره وسیله شتون لري چې د دې نمبر په دایل کولو سره تاسې معلومات ترلاسه کولای شئ. 1-888-815-4514 یا دلته:

له ثانوي دورې وروسته زده کړې لپاره مالي ملاتړ د اړتیا پر اساس دی. مالي ملاتړ په دې بڼه ترلاسه کېدلی شي:



1. د حکومت لخوا د زده کوونکي پورونه چې تاسو یې باید بیرته تادیه کړئ.



2. مرستې او د بورسیې خدمات چې تاسو یې بیرته تادیه کولو ته اړتیا نه لرئ.




3. د بانکونو څخه د خصوصي زده کوونکي پورونه چې تاسو یې باید بیرته تادیه کړئ. د پور شرایط د حکومت د پورونو په څیر ښه نه دي.


له ثانوي دورې وروسته زده کړو لپاره د مالي ملاتړ په اړه د نورو معلوماتو لپاره، دلته ولولئ:

## 6.14 له ثانوي دورې وروسته زده کړو درجې

**لارښووني:** د لویانو لپاره له ثانوي دورې وروسته زده کړې درجې وګورئ. په ځینو ولایتونو او سیمو کې، دا کچه ممکن یو څه توپیر ولري. "$" بیله کوم لګښت نه؛"$" له ټیټ لګښت سره "$$" له متوسط لګښت سره"$$$" له لوړ لګښت سره ده.




## 6.15 د اعتبار ارزونې پروسه



ستاسو زده کړې له کاناډا بهر په کالج، انستیټیوټ یا پوهنتون کې ممکن په اوتومات ډول په کاناډا کې و نه پېژندل (منل) شي. خپلو زده کړو ته د دوام ورکولو یا په کاناډا کې په یو ځانګړي شغل کې د کار کولو لپاره، ستاسو پخوانۍ زده کړې باید و ارزول شي. د اسنادو په اړه د نورو معلوماتو لپاره دې شمېرې 1-416-962-9725 ته زنګ ووهئ یا ادا و لولئ:

**لارښوونې:** د اعتبار ارزونې لپاره مرحلې ولولئ. کاناډا ته له رسیدو د مخه د هغو مرحلو په بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو یې پیل کولی شئ.



**1.** د امکان تر حده ډېری اسناد راټول کړئ، په شمول د:
**ا)** ډیپلومونه، درجې او سندونه
**ب)** د ښوونځي د نمرو اطلاعنامې یا ټرانسکریپټ
**پ)** د کاري تاریخ ثبوت
**ت)** د کارمند/د ریسانو مرجع یا رفرینس



**2.** د زده کړې لپاره ځایونه ولټوئ او داسې برنامه ومومئ چې تاسو ورسره علاقه لرئ. د هغو د غوښتنلیک او شاملیدو د شرایطو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.



**3.** د داخلې له دفتر سره اړیکه ونیسئ تر څو پوه شئ چې دوی د زده کړې کوم ډول ارزونه مني.




**4.** معلومه کړئ چې آیا تاسو د انګلیسي یا فرانسوي ژبې ارزونې ته اړتیا لرئ.

د اعتبار ارزونه وخت نیسي او د پیسو مصرف ته اړتیا شته. د لا زیاتو معلوماتو لپاره چې څنګه باید خپله دنده په کاناډا کې ترسره کړئ، ادا ولولئ:



## اوومه برخه

# کارموندنه




# کارموندنه



## 7.1 په کاناډا کې ګومارنه (کارموندنه)



له مالي پلوه د خپلواک کېدو لپاره، د دندې موندل او ساتل مهم دي.




د دندې موندلو او په کاناډا کې د خپل نوي ژوند په پیل کولو کې د انګلیسي یا فرانسوي ژبې مهارتونه لازمي دي. د نویو زده کوونکو لپاره د ژبې د ټولګیو په اړه د معلوماتو لپاره، شپږمه برخه او 6.10 فعالیت وګورئ.



نه د کاناډا حکومت او نه هم د حکومت لخوا تمویل شوی سازمان یا سپانسر کولی شي کاناډا ته ستاسو د راتګ پرمهال تاسو ته د دندې تضمین درکړي.



دا په کاناډا کې د خلکو لپاره یوه معمول خبره ده چې دوی په ژوند کې په مختلفو وختونو کې کولی شي ښوونځي ته لاړ شي. دوی دا کار د دې لپاره کوي چې خپل مهارتونه تازه وساتي یا د نوي دندې د فرصتونو لپاره وړ شي.



**د حکومت لخوا ستاسو تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وغواړئ چې تاسو په کار پورې اړوند خدماتو سره وصل کړي.**



## 7.2 تاسو په کاناډا کې د کار کولو په اړه څه احساس کوئ؟

**لارښووني:** په کاناډا کې د کار کولو د چلند په اړه څرګندوني ولولئ. که تاسو موافق یاست په"👍" بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ . که تاسو ډاډه نه یاست په "🤷" بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ . که تاسو موافق نه یاست په "👎" بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ .




**1.** تاسو به یوائې په هغه معاش دنده قبوله کړئ چې تاسو یې غواړئ.

| 👍 | 🤷 | 👎 |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |



**2.** تاسو به د دندې وړاندیز ومنئ حتی که دا ستاسو د مهارتونو له کچې ښکته ټیټ هم وي.

| 👍 | 🤷 | 👎 |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |



**3.** تاسو به د ځان او خپلې کورنۍ د ملاتړ لپاره کار کوئ. تاسو تمه نه لرئ چې بل څوک به ستاسو مالي ملاتړ وکړي.

| 👍 | 🤷 | 👎 |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |



**4.** تاسو لیوال یاست چې په داوطلب ډول د ژبې تمرین وکړئ او له نویو خلکو سره لیدنه وکړئ.


| 👍 | 🤷 | 👎 |
|---|---|---|
| ☐ | ☐ | ☐ |

## 7.3 څوک په کاناډا کې کار کوي؟


**لارښووني:** خلکو ته وګورئ. د هغو خلکو په بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو فکر کوئ په کاناډا کې د کار کولو حق لري.



1. ✓




2. ☐




3. ☐



4. ☐




5. ☐



6. ☐



7. ☐



8. ☐




9. ☐



10. ☐



11. ☐



12. ☐

داسي قوانین شتون لري چې کار ګمارونکي د جندر، عمر، نسل، تولنیزې طبقې، مدني حالت/کورنی وضعیت، ژبې، مذهب، ملیت، د کډوالی وضعیت، جنسي تمایل او ورتیا یا معلولیت پر اساس له کارمندانو سره غیر عادلانه چلند کولو مخه نیسي.



ځوابونه: 1 (✓)؛ 2 (✓)؛ 3 (✓)؛ 4 (✓)؛ 5 (✓)؛ 6 (✓)؛ 7 (✓)؛ 8 (✓)؛ 9 (✓)؛ 6 (✓)؛ 10 (✓)؛ 11 (✓)؛ 12 (✓)

# 7.4 کورنۍ او دندې (کارموندنه)

**لارښوونې:** دلته به ولولئ چې څنګه په کاناډا کې د دندې په اړه د دې کورنۍ چلند بدل شوی.



له ______________________ سره و ګورئ

کله چې هغه کاناډا ته ورسید، هغه 60 کلن و او ماشوم يې 16 کلن و. هغه مخکې هیڅکله په بهرني هیواد کې کار نه دی کړی، نه په انګلیسي او نه هم په فرانسوي ژبه خبرې کولی شي. په 60 کلنۍ کې به د هغه د هیواد خلک عموماً له تقاعد څخه خوند اخیستل پیل کوي. په هرصورت، په کاناډا کې، وضعیت مختلف دی.




ولې هغه باید په کاناډا کې کار وکړي؟

**1.** هغه په ښه روغتیايي حالت کې دی او غواړي چې د خپلې نوې ټولنې په جوړښت کې ونډه واخلي.



**2.** کله چې د هغه ماشوم 18 کلن شي نو کومې پیسې چې هغه د کاناډا د ماشوم ګټې څخه ترلاسه کوي، پای ته رسیږي.




**3.** هغه د تقاعد ترلاسه کولو پر شرایطو برابر نه دی او باید کلونه انتظار وباسي، ترڅو د زاړه عمر د خوندیتوب له خدمتونو نه برخه مند شي.



**4.** د هغه 16 کلن ماشوم پلان لري چې پوهنتون ته لاړ شي. هغه غواړي له هغې سره د زده کړې په لګښت کې مرسته وکړي.



**5.** هغه هیڅ سپما نه لري.

**د دې کورنۍ وضعیت او ستاسو وضعیت څنګه یو بل ته ورته دی؟**

**لاربنوونې:** وګورئ چې په کاناډا کې د دندې په اړه د دې کورنۍ چلند څنګه بدل شو.




.1



.2



.3



.4




.5




.6

په کاناډا کې په کار ځایونو کې، ټول خلک د دوی د جنسیت په پام کې نیولو پرته ورته حقوق او فرصتونه لري. دا غیر قانوني کړنه ده چې د جنسیت پر بنسټ خلکو ته پیسې ورکړئ، په دې سبب چې دوی ورته دندې په بل ډول سر ته رسوي.



## 7.5 په کاناډا کې د دندو ډولونه









**1. غیر منظمې دندې**

دا دندې جواز، تصدیق یا راجستریشن ته اړتیا نه لري. که څه هم د ګومارنې اړتیاوې توپیر لري، خو تاسو بښایي لا هم اړتیا ولرئ چې د خپلو مهارتونو یا تعلیم کچه روښانه کړئ. په کاناډا کې شاوخوا 80 سلنه دندې غیر منظمې دي.

**2. منظمې دندې**

دا دندې ستاسو په ولایت یا سیمه کې له تنظیم کوونکي ادارې څخه جواز ته اړتیا لري. تنظیم کوونکي اداره یوه عامه یا دولتي اداره ده چې د دندې د تطبیق په اړه مقررات جوړوي. په کاناډا کې د ټولو دندو شاوخوا 20 سلنه تنظیم شوې دندې دي.

د تنظیم شویو دندو مثالونه دا دي:




1. روغتیایي پاملرنه



2. مالي خدمتونه



3. قانوني او حقوقي خدمات




4. درس ورکول



5. انجینرۍ او معمارۍ



6. محاسبه



7. املاک



8. ژباړنه او تولنیزې چارې



9. سوداګریز مسلکونه (د بریښنا کارمند، نلدوان، مستري)




تاسو ممکن د جواز ترلاسه کولو لپاره په ازموینه کې کامیابېدو ته اړتیا و لرئ او تنظیمي ادارې ته فیس ورکړئ.

## 7.6 په کاناډا کې ستاسو لومړی دنده

په کاناډا کې، د ډیری خلکو لومړی دندې غیر تنظیم شوي دندې دي. اړینه نه ده چې لومړی دنده هغه دنده وي چې یو څوک به یې د تل لپاره ولري. ترټولو مهمه خبره دا ده چې له کوم ځایه پیل وکړئ.

**لارښووني:** لومړی دندې وګورئ چې په کاناډا کې یې د هر عمر خلک کوي. د لومړی دندې په بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې تاسو یې د ځان او خپلې کورنۍ ملاتړ لپاره غوښتنه کوئ.



1. رسوونکی کس (کورونو او دفترونو ته د ځیزونو د سپارلو کس)




2. خزانه دار



3. امنیتي ساتونکی (وسله نه لري)




4. ساختماني کارګر




5. منظره جوړوونکی



6. د ویښتانو اصلاح کوونکی او سلمان




7. د پرزو سره یو ځای کولو کارګر یا کارکوونکي



8. ګنډونکی (ګنډونکی، خیاط)




9. پاکوونکی یا کلینر



10. د خوړو خدماتي کار کوونکی



11. د ګودام کارکوونکی



12. پالونکی



## 7.7 په کاناډا کې د دندې په موندنه کې ننګونې

**لارښوونې:** هغه ننګونې ولولئ چې نوي راغلي کسان په کاناډا کې د دندې موندلو پرمهال ورسره مخ کيږي. په راتلونکې پاڼه کې، د نوي راتلونکي کس وضعيت ولولئ. په بکس کې د حرف په ليکلو سره د هر نوي راغلي کس وضعيت له ننګونې سره پرتله کړئ. هر حالت له يو ځخه ډير سم ځوابونه لري.





ا) په انګليسي يا فرانسوي کې د ژبې ټيټ مهارتونه





ب) په کاناډا کې د کار کولو تجربه نه لرل




پ) په کاناډا کې د کاري ځای او کلتور سره نا بلدتيا




ت) د کاناډا څخه بهر کاري تجربې رسميت نه لرل



ټ) په کاناډا کې د خلکو لويه شبکه نه شتون تر څو دوی له دندې سره وصل کړي




ث) زده کړې او اسناد چې له کاناډا بهر ترلاسه شوي په کاناډا کې په رسميت نه پيژندل کيږي.



**په کاناډا کې د دندې د لټون پر مهال کومې نورې ننګونې دي چې تاسو فکر کوئ ممکن نوي راتلونکي کسان ور سره مخ شي؟**




اوومه برخه : کارموندنه





ټ, پ, ب


**1.** یو نوی راغلی کس چې په انګلیسي او فرانسوي خبرې کوي او زده کړې یې په کاناډا کې په رسمیت پېژندل شوې دي. دوی هیڅکله په هغه کاري ساحه کې چې دوی زده کړې په کې کړې دي، کار نه دی کړی.




**2.** یو نوی راغلی کس له پرمختللي زده کړې سره چې په کاناډا کې رسمیت نه ورکول کېږي. دوی له کاناډا بهر په خپله ساحه کې کار کړی دی. دوی اړتیا لري په کاناډا کې د خپلې دندې د ترسره کولو د ور کېدو لپاره ازموینې تیرې کړي. دوی په انګلیسي یا فرانسوي کې په هغو تخنیکي لغاتونو نه پوهیږي چې د دوی په دنده پورې اړه لري.




**3.** یو نوی راغلی کس چې نه لیک کولی شي او نه لوست. هغه کار چې دوی یې کوي د خپلو لاسونو په واسطه دی. دوی کاناډا ته تر رسیدو د مخه د کار کولو ډیرې تجربې لري او خپله شخصي سوداګري یې درلوده.




**4.** یو نوی راغلی کس چې لیسه یې نه ده بشپړه کړې او څوک چې لږ فرانسوي خبرې کوي. دوی د ډیرو کلونو لپاره په خپل هیواد کې کار کړی. ډیرې دندې چې دوی ترلاسه کړې د هغو خلکو له لارې وې چې دوی ورسره پېژندل.

**که څه هم دا ممکن ستونځمن وي چې تاسي ورته دنده کومه چې تاسي مخکې درلوده ومومئ، خو بیا هم مثبت چلند او خلاص ذهن وساتئ.**



ځوابونه: 1 (ټ,پ,ب)؛ 2 (ث,ټ,ت,پ,ب,ا)؛ 3 (ټ,ت,پ,ب,ا)؛ 4 (ټ,ت,پ,ب,ا)

## 7.8 په کاناډا کې دنده څنګه لټولی شو؟

**لارښووني:** په کاناډا کې د دندې د لټون د څرنګوالي په اړه ولولئ. په کاناډا کې د دندې د لټون د پلان کولو د لارو په بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ.



1. آنلاین، د کار موندنې ویب پاڼو او ټولنیزو رسنیو له لارې ☐




2. د ملګرو، خپلوانو، د ټولنې د غړو او سپانسرانو سره شبکه جوړول ☐



3. د حکومت لخوا تمویل شوي سازمان څخه لیدنه ☐




4. په شخصي توګه د کار ګمارونکو سره لیدنه ☐



5. د دندو په نندارتونونو کې ګډون کول ☐

دا ویب پاڼې د دندې د لټون په ویب پاڼو کې شاملې دي: www.jobbank.gc.ca/home او www.workopolis.com






**په کاناډا کې د دندو موندلو ډیرې لارې شتون لري. که څه هم د دندې ډیر پوستونه آنلاین دي، خو ځینې یې په عام ډول نه اعلان کیږي.**

## 7.9 په کاناډا کې د خپل مسلک د پیل کولو لپاره غوراوي (اختیارونه)

**لارښوونې:** په کاناډا کې د مسلک پیل کولو څرنګوالي اختیارونه ولولئ. د هغو انتخابونو په بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو یې د کولو پلان لرئ.


☐ **1. د اعتبار ارزونه**
په کاناډا کې ستاسو د بهرنۍ تجربې او زده کړې د رسمیت پیژندلو په موخه غوښتنه.



☐ **2. انتقالي دندې**
د کاناډا تجربه او عاید ترلاسه کولو لپاره په هره دنده کې کار کول او د ژبې تمرین کول، پداسې حال کې چې د کار په ځانګړې ساحه کې د جواز ترلاسه کولو ته انتظار باسئ.



☐ **3. د اتصال برنامه**
کوم ټرېنګونه چې ستاسو سره ستاسو د کار په ساحه کې د کاناډا د تجربې په ترلاسه کولو، د کاري ځای اړوند د انګلیسي یا فرانسوي زده کولو او د کاري ځای په کلتور پوهېدلو کې مرسته کوي



☐ **4. کار زده کړه (انټرنشیپ)**
ستاسو د کار په ساحه کې (په دې برخه کې د کاناډا لږ تجربه لرل) په لنډ مهاله توګه ابتدایي کار کول. یوه بېلګه یې د نویو راتلونکو کسانو لپاره د کار زده کړې (انټرنشیپ) فدرالي برنامه ده. د نورو معلوماتو لپاره دا ولولئ :

FINP PFSNA

اوومه برخه : کارموندنه

**5. د کاناډا زده کړه**

په کاناډايي مؤسساتو کې زده کړه کول ترڅو تاسو په خپله مطلوبه دنده کې د کار کولو جوګه شئ.



**6. داوطلبي**

د شبکې رامنځته کولو پرمهال يوه اندازه لنډمهاله، پرته له پيسو د کاناډا کاري تجربه ترلاسه کول.نور معلومات دلته و لولئ:




**7. د لارښود برنامې (د مشورې برنامې)**

ستاسو په مطلوبه کاري ساحه کې له لارښود سره ستاسو د مطابقت يوه لاره. دا سرې ستاسو سره لارښووني شريکوي او ستاسو د کاري ساحې سره د اړيکو اسانتيا را منځته کوي.




**8. خپل کاروبار پيل کول**


په کاناډا کې د خپلې سوداګرۍ په رامنځته کولو سره د خپل مسلک پيل کول يا ځان ګمارنه. نور معلومات دلته و لولئ:



## 7.10 د اعتبار د ارزونې اهمیت




د اعتبار ارزونه یوه پروسه ده چې ستاسو پخوانۍ تجربه په کاناډا کې د کار موندنې له معیارونو سره پرتله کوي. دا له بل هېواد څخه ستاسو د مهارتونو، پوهې، کاري تجربې او تعلیم د ارزونې یوه لاره ده.



د اعتبار ارزونه د کاناډا له کارګومارونکو سره ستاسو پر وړتیاوو په پوهېدو کې مرسته کوي. د اعتبار ارزونې اداره کولی شي د فیس لپاره ستاسو تعلیمي اسناد وارزوي. په کاناډا کې د اسنادو په اړه نور معلومات دلته و لولئ:




د اعتبار ارزونې پایله ستاسو په کارمخینه (CV) کې شاملېدل ستاسو لپاره ګټور دي.



داسې برنامې شتون لري چې ستاسو د بهرنیو اسنادو ارزونې د لګښتونو په پوښښ کې ستاسو سره مرسته کوي. نور معلومات دلته و لولئ:

د اعتبار ارزونې په اړه نور معلومات دلته و لولئ:



**ورته دنده کېدای شي د ولایت یا سیمې پر بنسټ مختلف عنوانونه او اړتیاوې ولري. د دندې تشریح په دقت سره ولولئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو وړتیاوې د دندې له اړتیاوو سره سمون خوري.**




## 7.11 د دندې غوښتنلیک او ګومارنې پروسه

**لارښوونې:** د دندې غوښتنلیک او ګومارنې د پروسې مرحلې وګورئ. دا مرحلې ممکن د دندې پر بنسټ یو څه توپیر ولري.

**1** د دندې لټون.




**2** د خپلې کاري تجربې او وړتیاوو لیست چمتو کړئ (سوانح یا سي وي)




**3** یو لیک ولیکئ چې ولې تاسو د دندې لپاره غوره شخص یاست (پېژند لیک یا Cover Letter)



**4** خپل اسناد ولېږئ. د هرې دندې لپاره خپله کارمخینه یا سي وي او پېژند لیک (Cover Letter) ترتیب کړئ.




**5** کار ګمارونکی پریکړه کوي چې ایا تاسو ته د مرکې بلنه درکړي او که نه.




**6** د دندې په مرکه کې، ثابته کړئ چې تاسو د دندې لپاره وړ شخص یاست.



**7** ډیری خلک اړتیا لري مخکې له دې چې مرکې ته وبلل شي د ډیرو دندو لپاره غوښتنلیک ولیږي. کوښښ جاري وساتئ!






**8** د یو څه وخت او یو څو هڅو وروسته، تاسو د دندې وړاندیز ترلاسه کوئ. مبارک مو شه!






**د دندې په تشریح کې د ژبې اړتیاوې صحیح کړئ. ډیری دندې د انګلیسي ژبې مهارتونو ته اړتیا لري، په داسې حال کې چې فرانسوي ژبه عموماً په کیوبیک کې اړینه ده. په انګلیسي او فرانسوي دواړو پوهیدل د کار په ډیری برخو کې د دندې موندلو لپاره یوه پانګه ده.**




## 7.12 په کاناډا کې د کار اصول


**لارښوونې:** په کاناډا کې د کار د نورمونو په اړه ولولئ. د نورمونو په هغه بکس کې د "✓" صحيح نښه ولیکئ، کوم چې له هغو هیوادونو څخه توپیر لري چېرې چې تاسو ژوند کړی.




**.1** ☐ د بشپړ وخت دنده معمولا په ورځ کې 8 ساعته، له دوشنبې تر جمعې او په اونۍ کې 40 ساعته وي.




**.2** ☐ پس له وخته دنده معمولاً په اونۍ کې له 16 څخه تر 24 ساعتونو پورې وي.



**.3** ☐ ځینې دندې نوبتي کار (شيفټ) او د اونۍ په پای کې کار کولو ته اړتیا لري. دا پدې مانا ده چې د کار ځای هره ورځ له 8 ساعتونو څخه ډیر یا تر 24 ساعتونو پورې کار کوي. په نورمال ډول، درې نوبتونه (شفټونه) شتون لري: ورځ، ماښام او د شپې شفټونه.



**.4** ☐ هغه کورنۍ چې کار کوي او کوچني ماشومان لري د ماشوم پاملرنې یا له ښوونځي وروسته پاملرنې لپاره پلان کولو ته اړتیا لري. په کاناډا کې، ماشومان یواځې او بې څارنې نه پریښودل کیږي. د ماشوم پاملرنې اختیارونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره شپږمه برخه، 6.7 فعالیت وګورئ.



**.5** ☐ دا په کاناډا کې عامه خبره ده چې د میرمنو له خوا د نارینه کار کوونکو نظارت ترسره شي.




**هر کار ځای خپل کلتور او د کار تمې لري. د نوي کار ځای له کلتور سره موافقت کول او د کار ځای د توقعاتو پوره کول د دندې په ساتلو او په مسلک کې د پرمختګ لپاره مهم دي.**



## 7.13 ستاسو معاش



**1.** په کاناډا کې، کارګومارونکي په قانوني ډول اړ دي چې لږ تر لږه (حد اقل) معاش ورکړي. لږترلږه (حد اقل) معاش په هر ولایت او سیمه کې توپیر لري. ستاسو په ټولنه کې د مختلفو دندو لپاره د لږ تر لږه معاش او د معاش اندازې په اړه نور معلومات دلته و لولئ:




**2.** تاسو اړ یاست چې په کاناډا کې د کار کولو د وړ کیدو لپاره د ټولنیزې بیمې شمیره (SIN/NAS) ولرئ. د خپل SIN/NAS معلومات یوازې هغه وخت وړاندې کړئ چې قانوني اړتیا ورته پیښه شي.



**3.** په عادي حالت کې، تاسو خپل معاش په نغدي توګه نه تر لاسه کوئ، بلکې د مستقیمو زیرمو (مستقیماً ستاسو بانکي حساب ته لیږدول کیږي) یا چک له لارې معاش در کول کیږي.



**4.** د هرې تادیې د مودې لپاره تاسو د تادیې رسید تر لاسه کوئ. ستاسو خالص معاش به ستاسو له ټول معاش څخه ټیټ وي. ستاسو له ټول معاش څخه یو مقدار پیسې ګرځول کیږي تر څو د عایداتو مالیه، د تقاعد ګټې، او همدارنګه د کارموندنې بیمه او روغتیایي بیمه تر پوښښ لاندې ونیول شي.



**5.** په کاناډا کې، ټول کارګران له خپل معاش څخه د عامه تقاعد په فنډ کې د کاناډا تقاعد پلان په نوم ونډه اخلي. د 65 کالو یا تر دې د زیات عمر لرونکي هغه خلک چې د ټاکلي وخت لپاره په کاناډا کې اوسیدلي وي، له حکومت څخه د زاړه عمر خوندیتوب په نوم برابره تادیه تر لاسه کوي.




**6.** تاسو هر کال د اپریل تر 30 پورې د خپل کار ځای څخه د T4 (ستاسو د عایداتو او کسراتو بیان) په کارولو سره د خپل عاید د مالیې د راپور سپارلو مسؤل یاست.



**"د میز لاندې کار" یوه نا اعلان شوې دنده ده د کوم لپاره چې تاسو پیسې ترلاسه کوئ، مګر مالیه نه ورکوئ. دا ډول کار غیر قانوني دی. دا د کار ګومارونکي او کار کوونکي دواړو لپاره جدي پایلې لري.**



## اتمه برخه

# سپما کول
# (د بودیجې سپما)



# اتمه برخه
# سپما کول
# (د بودیجې سپما)



## 8.1 په کاناډا کې پیسې


د کاناډا رسمي اسعار کاناډايي ډالر (CAD) دي. يو ډالر 100 سينټه (¢) دی. د کاناډا بانک دوه ډوله پیسې خپروي:







1. چاپ شوي بانک نوټونه يو ډول اندازه (جسامت) لري، مګر د ارزښت پر اساس مختلف رنګونه لري.
2. سکې مختلفې اندازې، شکلونه او رنګونه لري. په شا کې یې د کاناډا سمبول دی.



په کاناډا کې د ژوند لګښت له يوه ولایت او سیمې څخه بل ته توپیر لري. د ژوند لګښت د لویو ښارونو او کلیوالي سیمو ترمنځ توپیر لري. دا ممکن په هغه ګاونډ پورې هم اړه و لري چېرې چې تاسو ژوند کوئ.



کله چې تاسو په خپل دايمي کور کې ژوند پیل کړئ نو تاسو اړ یاست چې خپل لومړني لګښتونه او نور بنسټيز لګښتونه په خپله پرې کړئ.



**د بودیجې ساتل به ستاسو سره مرسته وکړي چې پوه شئ څومره پیسې لرئ او څومره مصرف کولی شئ. د حکومت لخوا ستاسو تمویل شوي سازمان یا سپانسر کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي چې د میاشتنی بودیجې جوړولو او تعقیب څرنګوالی زده کړئ.**



# 8.2 په کاناډا کې د ژوند لومړني لګښتونه کوم دي؟

**لارښوونې:** په کاناډا کې د ژوند لومړني لګښتونه وګورئ. د هغو لګښتونو په بکس کې د صحيح نښه "✓" وليکئ چې تاسو ته نوي دي.


**1. هستوګنه**
دا هره مياشت ستاسو تر ټولو لوی لګښت دی. دا په عام ډول ستاسو کرايه ده مګر پدې کې د بيمې او ساتنې (مراقبت) لګښتونه هم شاملېدلی شي.

☐




**2. بېلونه(يوټيليټي)**
د کاناډا په ډېرو برخو کې، پدې کې برېښنا، تودول او اوبه شاملې دي. ځينې دا لګښتونه ممکن ستاسو په کرايه کې شامل شي. ستاسو د برېښنا او تودوخې بېلونه به په ژمي کې لوړ وي.

☐




**3. خواړه**
دا ستاسو د لګښتونو لويه برخه ده او د ځان او خپلې کورنۍ د خوړو لګښت په بر کې نيسي.

☐



**4. ترانسپورټ**
پدې کې د ټولنې په شاوخوا کې ستاسو د ګرځېدو لپاره د عامه ترانسپورټ لګښت شامل دی.

☐



**5. اړيکې**
پدې کې د ګرځنده تليفون يا د ځمکني تليفون خدمات، کيبل تلويزيون او انټرنيټ ته لاسرسی شامل دي چې هره مياشت تاديه کيږي.

☐



اتمه برخه : سيما کول (د بوديجې سيما)

**6. د ماشوم پالنه**

هغه والدین چې کار کوي یا زده کړې کوي، اړ دي چې د خپلو ماشومانو لپاره د ماشوم پاملرنې لګښت ورکړي.



**7. نور لګښتونه**

پدې کې جامې، صابون، شامپو او د تشناب اړوند نور شیان ، د ښوونځي تجهیزات او نور اړین توکي شامل دي.



**8. د مهاجرت پور**

دا د هغو پیسو اندازه ده چې ستاسو په استازیتوب د کاناډا حکومت لخوا ستاسو د سفر لپاره ور کړل شوي.




تاسو کولی شئ خپل لګښتونه دلته محاسبه کړئ:

**په کاناډا کې ستاسو د لومړي کال وروسته، دا ستاسو مسؤلیت دی چې د منظمو میاشتنیو تادیاتو له لارې د پور بیرته تادیه پیل کړئ. تاسو به د ټول پور او میاشتنۍ مقدار سره چې تاسو به یې تادیه کولو ته اړتیا ولرئ، یو لیکلی بیان ترلاسه کړئ. د نورو معلوماتو لپاره، دوهمه برخه، 2.4 فعالیت وګورئ.**



## 8.3 ستاسو مالي ملاتړ




هغه مقدار پیسې چې تاسو یې په مالي ملاتړ کې ترلاسه کوئ، د کورنۍ اندازه، د کورنۍ د غړو عمرونه، ستاسو د اوسېدو په ځای او ستاسو د کورنۍ د اړتیاوو په ګډون په ډېرو عواملو پورې اړه لري.

**لارښوونې:** لومړني لګښتونه وګورئ چې ستاسو مالي ملاتړ یې ستاسو سره په تادیه کولو کې مرسته کوي. د خورا لوی لګښت لپاره " $$$$ " ولیکئ، د دوهم لوړ لګښت لپاره " $$$ "، د دوهم ټیټ لپاره" $$ " او د ټیټ لګښت لپاره" $ " ولیکئ.





**.1** اړیکې



**.2** خواړه




**.3** هستوګنه او بیلونه (یوټیلیټي)



**.4** ترانسپورت



**د انفرادي شرایطو پر اساس، تاسو ممکن اضافي امتیازات ترلاسه کړئ. پدې کې ممکن د هغو کورنیو لپاره چې نوی زیږیدلی کوچنی لری، د 65 کالو څخه ډیر عمر لرونکي خلک، د ځانګړو غذایي اړتیاوو لرونکي خلک یا د کور لپاره په تادیه کې مرسته کوونکي خلک شامل وي. که تاسو د دې اضافي تخصیصاتو لپاره وړ یاست نو د خپل حکومت لخوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ.**




ځوابونه: 1 ($)؛ 2 ($$$)؛ 3 ($$$$)؛ 4 ($$)

## 8.4 تاسو څنګه کولی شئ یو څه پیسې و سپموئ؟

**لارښوونې:** په کاناډا کې د پیسو د سپمولو د څرنګوالي په اړه لارښوونې ولولئ. په هغه بکس کې د صحیح نښه "✓" ولیکئ چې تاسو فکر کوئ ستاسو لپاره ګټور دي.




1. تاسو کولی شئ یو کور یا اپارتمان له چا سره شریک کړئ او د کرایې یوه برخه ورکړئ. ☐




2. تاسو کولی شئ تازه خواړه وپیرئ او په رستورانتونو کې د خوراک پرځای په کور کې خواړه چمتو کړئ. ☐



3. تاسو کولی شئ د ټیټو نرخونو پلورنځي او محصولات وګورئ او د بنو معاملاتو لپاره د پلورنځي لارښود و لولئ. ☐



4. تاسو کولای شئ د ګرځنده تلیفون یا لینډ لاین تلیفون دواړو د لرلو پر ځای له دوی څخه یو غوره کړئ. د لرې واټن زنګونه کیدای شي خورا ګران وي، او تاسو باید په نرېوالو کچه د زنګ وهلو څخه وړاندې نرخونه په دقت سره و لولئ. تاسو کولی شئ د اوږد واټن تلیفون کولو د ټیټ لګښت په موخه انټرنیټ وکاروئ یا د زنګ وهلو کارتونه (کالینګ کارډز) واخلئ. ☐



5. تاسو کولی شئ د موټر پیرودلو پرځای عامه ټرانسپورټ وکاروئ. ☐


☐ **.6** تاسو کولی شئ په کتابتونونو او نورو عامه ځایونو کې وړیا انټرنیټ وکاروئ.




☐ **.7** تاسو کولی شئ د ګرځنده تلیفون، کیبل تلویزیون، انټرنیټ، فرنیچر یا موټر لپاره د قرارداد یا تادیې پلان له غوره کولو څخه وړاندې شرایط پرتله کړئ. د تخفیفونو د شتون لټون وکړئ.



☐ **.8** تاسو کولی شئ د کرایې په لګښت کې د شاملو اسانتیاوو بیلونو لرونکې کور لټون وکړئ. دا یو ثابت لګښت دی چې کولی شي ستاسو سره د مصرف په تنظیم کې مرسته وکړي. که نه نو، د اسانتیاوو (بیلونو) لګښت به د شخصي استعمال پر اساس توپیر ولري.



☐ **.9** تاسو کولی شئ د خپل حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه وغواړئ چې که چیرې ستاسو په ټولنه کې د ماشوم د کم لګښت پاملرنې شتون ولري، یا تاسو کولی شئ له نورو والدینو سره مسؤلیتونه شریک کړئ.






## 8.5 د مالي ملاتړ اړوند توقعات

د هغه مالي ملاتړ مقدار چې تاسو به يې ترلاسه کړئ، محدود دی. دا یواځې ستاسو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بسنه کوي. د ترلاسه شویو پیسو پر مټ کوم کارونه کولی شو او په دې اړه له واقعیت څخه د ډکو توقعاتو لرل، ستاسو سره مرسته کوي چې په کاناډا کې له ژوند کولو سره عادت شئ.

**لاربووني:** وضعیت وڅیړئ. د هر وضعیت او واقعي توقعاتو ترمنځ کرښه رسم کړئ.

1.



تاسو له حکومت او/یا ستاسو له سپانسرانو څخه مالي ملاتړ ترلاسه کوئ.

2.




ستاسو د کور او هغو ځایونو ترمنځ واټن چې تاسو غواړئ په خپله تولنه کې ترې لیدنه وکړئ، لرې دي.

3.




تاسو مجرد یاست، ماشومان نه لرئ، او محدود مالي ملاتړ ترلاسه کوئ.

4.



تاسو غواړئ په بل هیواد کې له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ.




ا) تاسو له یو چا سره کور شریکوئ او د کرایې یوه برخه پرې کوئ.



ب) تاسو د انټرنیټ په ذریعه زنګ وهلو له لارې او د تلیفون کارتونو (کالینګ کارډز) په پیرودلو سره له کورنۍ سره وصل کیږئ.




ت) عامه ترانسپورت د سفر لپاره تر ټولو ارزانه انتخاب دی. تاسو کولی شئ د میاشتني پاس په اخیستلو سره پیسې خوندي کړئ.



ث) تاسو شاید دومره پیسې و نه لرئ چې په وطن کې د کورنۍ غړو ته يې و لیږئ.

ځوابونه: ۱ (ث)؛ ۲ (ت)؛ ۳ (ا)؛ ۴ (ب)

5\.



تاسو غواړئ له کاناډا بهر سفر وکړئ.

6\.



ستاسو لګښتونه له هغه پیسو څخه ډیر دي چې تاسو یې هره میاشت ترلاسه کوئ.

7\.




ستاسو اوږدمهاله اهداف ستاسو د ثانوي زده کړې بشپړول او د کور یا موټر اخیستل دي.

8\.




ستاسو په ټولنه کې کور ګران دی.



ت) که تاسو د میاشتې له پای ته رسیدو څخه وړاندې ټولې پیسې مصرف کړئ، نو تاسو به نورې پیسې ترلاسه نه کړئ. د خپل حکومت تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو سره د خپلو لګښتونو د اداره کولو د څرنګوالي په اړه وغږیږئ.



ث) سفر کول ګران دي، او د مالي ملاتړ اندازه چې تاسو یې ترلاسه کوئ د دې سفر لپاره کافي نه ده. تاسو باید له وړاندې پلان جوړ کړئ او سیما وکړئ.



ج) ستاسو ډیری مالي ملاتړ به ستاسو د کرایې د تادیه کولو لپاره وکارول شي. کورنۍ په ځانګړې توګه بنایي د نورو لومړنیو اړتیاوو د لګښتونو د پوره کولو لپاره نورو کتو کارولو ته اړتیا ولري.



چ) احتمال لري چې تاسو سیما کولو/یا پور ترلاسه کولو ته اړتیا ولرئ. میاشتنی مالي ملاتړ چې تاسو به یې ترلاسه کړئ د دې شیانو تادیه کولو لپاره کافي نه دی.

ځوابونه: 5 (ت)؛ 6 (ث)؛ 7 (ج)؛ 8 (چ)



## 8.6 په کاناډا کې سودا اخيستل

دا به يو څه وخت ونيسي تر هغې چې تاسو پوه شئ چې د پيرودلو لپاره غوره ځايونه چېرې دي.

**لاربښووني:** په کاناډا کې د پيرودلو لپاره مختلفو ځايونو ته مراجعه وکړئ. د هرځای او د هغه څه تشريح تر مينځ چې تاسو يې هلته پيرودلې شئ، کرښه رسم کړئ.

1. 

سوپر مارکيټونه

2. 

درملتونونه

3. 


لوی پلورنځي

4. 

د کور بڼه کولو پلورنځي



ا) لوی پلورنځي چې جامې، بوټان، فرنيچر، وسایل، د کور سامانونه او نور غير خوراکي توکي پلوري.



ب) دا د خوړو پلورنځيو خورا عام ډولونه دي. ډيری د پاکولو محصولات، سينګار توکي، مجلې او له نسخې پرته عام درمل پلوري.




پ) دا پلورنځي د کور ترميم يا ساتلو لپاره محصولات پلوري، لکه اوزار، وسايل او ځينې وختونه فرنيچر.




ت) دا پلورنځي معمولا درملتون لري چېرې چې د نسخې درمل اخيستل کيدی شي. ډيری له نسخې-پرته درمل، ډايپرونه، د ميرمنو د حفظ الصحې محصولات، سينګارتوکي، مجلې او خواړه هم پلوري.

ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ت)؛ 3 (ا)؛ 4 (پ)

5. 

د دویم لاس پلورنځي (د مستعملو توکو پلورنځي)

6. 


د قومي خوراکي توکو پلورنځي

7. 

د ګراج پلور

8. 


آنلاین پلور



ت) دا پلورنځي اکثراً د مختلفو کلتوري خلکو ملکیت دی څوک چې له بهره کاناډا ته توکي واردوي. تاسو ممکن پدې پلورنځیو کې د خپل هیواد خواړه او نورمحصولات ومومئ.



ث) د انټرنیټ په کارولو سره د توکو پیرل. په خرڅلاو توکو کې مجازی پلورنځي او شخصي دوهم لاس پلور شامل دی. دا په کاناډا کې د خلکو لپاره عامه خبره ده چې آنلاین پیرودنه وکړي.



ج) دا غیر رسمي، له کوره بهر خپروني دي چېرې چې خلک د خپلو کورونو کارول شوي توکي معمولاً په خورا ټیټو نرخونو پلوري. نیټه او موقعیت معمولاً په ګاونډ کې د اعلانونو پر تختو باندې اعلان کیږي.



چ) دا پلورنځي کارول شوي توکي لکه جامې او نور کورني توکي په ټیټ نرخ پلوري. دا په کاناډا کې د خلکو لپاره عامه خبره ده چې کارول شوي توکي وپیري.



د حکومت لخوا ستاسو تمویل شوی سازمان یا سپانسر کولی شي تاسو ته وښیي چې چېرې خواړه و پیرئ او د ښو قیمتونو موندلو د څرنګوالي په اړه تاسو ته لارښوونې وکړي. دوی کولی شي تاسو ته ووایي چې چېرته د پلور په لټه کې شئ، د تخفیفي کوپنونو کارولو څرنګوالی، مقایسوي خریداري کول او د شخصي پلور په اړه معلومات درکړي.




ځوابونه: 5 (چ)؛ 6 (ت)؛ 7 (ج)؛ 8 (ث)


## 8.7 تاسو څه ته اړتیا لرئ برعکس د دې چې څه غواړئ؟

**لارښوونې:** توکي وګورئ او پریکړه وکړئ چې ایا دا هغه څه دي چې تاسو ورته اړتیا لرئ یا هغه څه دی چې تاسو یې غواړئ. هغه څه ته، چې تاسی ورته ضرورت لرئ، په بکس کی دایره رسم کړئ "○" او د هغه څه په اړه "△" یو مثلث رسم کړئ چې تاسې یې غواړئ.

**1.** موټر ☐



**2.** سالم خواړه ☐



**3.** یو لوی کور ☐



**4.** کالي ☐




**5.** نوی ځیرک تلیفون ☐






☐ 6. د حفظ الصحي محصولات



☐ 7. د فټنس کلب غړيتوب



☐ 8. د اوسيدو ځای




☐ 9. په رستورانت کې خواړه خوړل



☐ 10. د قيمتي براند بوټان



مهمه ده تر څو پوه شئ چې ستاسو
اړتياوې ستاسو د غوښتنو په مقابل کې څه
دي. ځينې توکي چې تاسو يې غواړئ کيدای
شی ګران وي، او تاسو ممکن د دوی د
اخیستلو لپاره انتظار وکړئ.





## 8.8 په کاناډا کې بانکداري

کاناډا ته له رسیدو لږ وروسته، د حکومت لخوا ستاسو تمویل شوي سازمان یا سپانسر به ستاسو سره د کاناډا په بانکي حساب خلاصولو او غوښتنلیک ډکولو کې مرسته وکړي.



یو بانکي حساب تاسو ته دا وړتیا درکوي چې:



1. د بانکدارۍ اتومات ماشینونه وکاروئ



2. د مستقیمو زیرمو له لارې پیسې ترلاسه کړئ



3. په پلورنځیو او انټرنیټ کې د پیرود لپاره ډیبټ یا کریډیټ کارت صادر کړي



4. د آنلاین بانکدارۍ سیستم په کارولو سره بیلونه تادیه کړئ



5. چکونه ولیکئ

د بانکي حسابونو مختلف ډولونه شتون لري. ترټولو عام یې دا دي:



**1. د چیک حسابونه**
دا د لګښتونو د تادیه کولو لپاره دي. تاسو کولی شئ د کرایې او نورو بیلونو د تادیه کولو لپاره د چیکونه امر ورکړئ. تاسو کولی شئ د خپل ډیبټ کارټ په کارولو سره پیسې له خپل حساب څخه وباسئ او آنلاین پیسې انتقال کړئ.



**2. د سپما حسابونه**
دا د راتلونکو لګښتونو یا اهدافو لپاره د پیسو خوندي کولو لپاره دي. بانکونه ممکن تاسو ته د هغو پیسو په اړه سود درکړي چې تاسو یې پدې حسابونو کې ساتئ.



**محتاط اوسئ او د هغه پیسو په پرتله لوړ چکونه مه لیکئ چې تاسو یې اوس مهال ستاسو د چکونو په حساب کې لرئ. د دې لپاره قانوني پایلې شتون لري. د بانکي حسابونو د مختلفو ډولونو په اړه نور معلومات دلته و لولئ:**



## 8.9 کریډیټ کارتونه



په کاناډا کې ډیری خلک په پلورنځیو کې له ورځني پیرود څخه نیولې په انټرنیټ د شیانو تر پیرودو پورې د پیرودلو لپاره کریډیټ کارتونه کاروي.


**1.** کله چې تاسو د کریډیټ کارت کاروئ، تاسو پیسې پور کوئ. هغه بانک یا شرکت چې د کریډیټ کارت خپروي، په هغه مقدار باندې سود اخلي چې تاسو یې پوروړی یاست. نور معلومات دلته و لولئ:



**2.** کریډیټ کارتونه په ځیر سره وکاروئ. د کریډیټ کارتونو کارولو پر مهال کیدای شي تاسو په اسانۍ سره تر پور لاندې شئ. مخکې لدې چې تاسو په کریډیټ کوم شی وپیرئ، ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسو په خپل حساب کې کافي پیسې لرئ یا دا چې تاسو به وکولی شئ له خپلو منظمو لګښتونو سربیره په وخت سره میاشتنۍ پیسې تادیه کړئ.



**که تاسو د کریډیټ کارت تادیه پر وخت ورنکړئ، بانک یا پور ورکوونکی شرکت به ستاسو څخه د جریمې فیس واخلي.**



## 8.10 ستاسو د کریډیټ تاریخچه

**1.** کله چې تاسو کریډیټ کاروئ، هر څومره چې تاسی بنه تادیه کوئ، ستاسو د کریډیټ په تاریخ کې ثبت کیږي. په راتلونکي کې، کله چې تاسو د پور لپاره غوښتنه کوئ، بانکونه به ستاسو په اړه پریکړه ستاسو د کریډیټ تاریخ په اساس کوي. د ښه کریډیټ تاریخ درلودو لپاره، خپلې تادیې په هره میاشت کې په بشپړ ډول او وخت سره وکړئ.



**2.** تاسو اړ یاست هره میاشت خپله کرایه او د هوساینې بیلونه (یوټیلیټي بېلز) په خپل وخت تادیه کړئ. که تاسو په خپلو تادیاتو کې شاته پاتې شئ، دا به ستاسو د کریډیټ په تاریخ کې ثبت شي او تاسو کیدای شي له دی پروسې نه وویستل شئ.



**په کاناډا کې د ښه کریډیټ تاریخ را منځته کولو لپاره ستاسو لومړی چانس ستاسو د کډوالۍ پور دی چې په میاشتني ډول یې تادیه کړئ.**



## 8.11 په کاناډا کې مالیه

د کاناډا د عوایدو اداره په کاناډا کې د مالیاتي قوانینو مسؤله اصلي اداره ده. مالیه د فدرالي، ولایتي او ښاروالی حکومتونو لخوا را ټولیږي.

د کاناډا د عوایدو ادارو په اړه د نورو معلوماتو او آنلاین حساب جوړولو لپاره، دا و لولئ:

**لاربښوونې:** په کاناډا کې د خلکو له خوا د مالیاتو د ورکړې مختلف ډولونه وګورئ. د هر ډول مالیې او د هغې د توضیح ترمنځ کرښه رسم کړئ.

1.


**د توکو او خدماتو (یا پلور) مالیه**

2.


**د ملکیت مالیه**

3.


**پر عایداتو مالیه**




ا) که تاسو کور، اپارتمان یا ځمکه لرئ نو تاسو دا مالیه تادیه کوئ. د کور د کرایه کولو پر مهال، دا د کور پر مالک ده چې د ملکیت مالیه ورکړي.




ب) دا مالیه د حکومت لخوا په هغه عاید اخیستل کیږي چې تاسو یې له دندې ځخه یا د ګټو په توګه ترلاسه کوئ. دا معمولاً مخکې لدې چې تاسو خپلې تادیې ترلاسه کړئ، ستاسو له حسابه جلا کیږي.



پ) دا هغه پیسې دي چې تاسو یې د اخیستل شویو توکو پر قیمت او یا د ترلاسه شویو خدماتو ځخه سربېره تادیه کوئ. په کاناډا کې په لومړنیو خوړو هیڅ مالیه نشته. پر ځینې شیانو لکه سګرټو او الکولو اضافي مالیه شتون لري.

ځوابونه: 1 (پ)؛ 2 (ا)؛ 3 (ب)




په کاناډا کې، هرڅوک مالیه ورکوي. په کاناډا کې مالیه د دې لپاره تادیه کیږي:




1. اساسي زده کړې



2. روغتیایي پاملرنه



3. د سړکونو او لویو لارو ساتنه





4. بیړني خدمات لکه اور وژونکي او پولیس



5. د ټولنې خدمتونه



6. عامه پارکونه




7. عامه ترانسپورت او پارکینګ




8. په سړکونو، لویو لارو او پیاده لارو کې د واورې لرې کول

## 8.12 د مالیې په موخه د خپل عاید راپور ورکول




کله چې تاسو کاناډا ته راشئ او د ټولنیزې بیمې شمیره (SIN/NAS) مو ترلاسه کړې وي، نو تاسو باید د خپل عاید د مالیې راپور د هغه مالي ملاتړ په ګډون چې تاسو ترلاسه کړی دی، وسپارئ. دا هر کال د فبرورۍ څخه تر اپریل پورې ترسره کیږي. حتی که تاسو د کال یوازې یوې برخې لپاره په کاناډا کې اوسیدلي یاست، یا تاسو په کال کې هیڅ عاید نه لرئ، تاسو لا هم اړتیا لرئ یو راپور وسپارئ. که تاسو د ژوند ملګری یا قانوني شریک لرئ، نو دوی هم باید هر کال یو جلا راپور وسپاري.




ستاسو د عایداتو د مالیې راپور په وراندې کولو کې پاتې راتلل ممکن د ځینې ګټو له لاسه ورکولو پایله ولري لکه د کاناډا د ماشوم د مالیې ګټه.

د خپل عاید د مالیې راپور سپارلو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د حکومت له خوا تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه پوښتنه وکړئ او دا ولولئ:

## 8.13 اضافي مالي ګټې



کله چې تاسو خپل SIN/NAS ترلاسه کړئ، نو څومره ژر چې کیدای شي، د هغو ګټو غوښتنه وکړئ چې تاسو یې مستحق یاست. په خپل وخت د عایداتو د مالیې راپور سپارل به ستاسو سره د ګټو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.



تاسو ممکن د کاناډا ماشوم د مالیې ګټه، د توکو او خدماتو مالیې بیرته ستنیدل، او نورو ولایتی او سیمه ییزو ګټو په ګډون، د ګټو مستحق یاست. د حکومت له خوا د خپل تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه د هغو ګټو لپاره وپوښتئ چې تاسو هم بنایي هغو ګټو ته پر شرایطو برابر یاست.



د حکومت له خوا ستاسو تمویل شوی سازمان یا سپانسر کولی شي ستاسو سره د اړوندو فورمو ډکولو او اړینو اسنادو په ضمیمه کولو کې مرسته وکړي.

تاسو ته د شته ګټو په اړه نور معلومات دلته و لولئ:

اتمه برخه : سیما کول (د بودیجې سیما)

## نهمه برخه


# ترانسپورت



نهمه برخه

# ترانسپورت






## 9.1 په کاناډا کې ترانسپورت

کاناډا یو لوی هیواد دی چې ځانګړي سیمې او منظرې لري. خلک د سیمو او د دوی د ټولنو ترمنځ په بیلا بیلو لارو تګ او راتګ کوي. په کاناډا کې د سفر لپاره مختلف انتخابونه شتون لري.

**لارښوونې:** په کاناډا کې د ترانسپورت ډولونو په اړه ولولئ. د هغو برخو څنګ ته "✓" نښه ولیکئ چې تاسو ته نوي ښکاري.


**1. عامه ترانسپورت** ☐
په کاناډا کې ټول ښارونه او ډیری ښارګوټي د خلکو له لوري د کارولو لپاره دا ډول ترانسپورت لري. دا ستاسو د ټولنې شاوخوا د ګرځېدو ګړندۍ لارې دي. مثالونه یې بس، د ځمکې لاندې میټرو، سپک ریل او د سړک د سر موټر دي. دا د هغه ځای پر اساس توپیر لري چېرې چې تاسو اوسئ.



**2. بایسکلونه** ☐
دا د ښارونو او ښارګوټو شاوخوا ګرځېدو یوه سالمه او ارزانه لار ده. دوی ته په ډیری سړکونو کې اجازه ورکړل شوې او ځانګړې لینونه لري. په کلکه د هیلمټ اغوستلو سپارښتنه کیږي.




**3. ټیکسي** ☐
ټول ښارونه او ښارګوټي یو یا ډیر ټیکسي شرکتونه لري. موټر چلوونکي رسمي پېژندنه لري ترڅو دا په ګوته کړي چې دوی د ښار له خوا جواز لري. د دوی لګښت ډیر دي. دوی ستاسو د سفر لګښت د محاسبه کولو لپاره اتوماتیک میټرې لري. نرخونه ټول ثابت دي او د بحث کولو ځای په کې نشته.






**4. د سپرلۍ-شریکولو غوښتنلیکونه** ☐
دا ټیکنالوژي د موبایل اپلیکېشن له لارې سپرلۍ او چلوونکي سره نښلوي. سفر اکثراً د ټیکسي په پرتله لږ ګران وي، مګر دا د حکومت لخوا تنظیم شوي نه دي. د دې خدماتو د کارولو پر مهال د خوندیتوب اضافي احتیاطي تدابیر ونیسئ.



**5. موټرسایکلونه**

دا خورا لږ تیل کاروي مګر د ژمي هوا له امله په کال کې یواځې د ګرمو میاشتو لپاره کارول کیږي. د موټرسایکل چلولو لپاره ځانګړي جواز ته اړتیا ده.




**6. موټرونه**

په کاناډا کې د موټرو مختلف ډولونه او اندازې شتون لري چې تاسو کولی شئ د خپل ژوند طرز، بودیجې او اړتیاوو ته په کتو یې غوره کړئ. ډیری اضافي لګښتونه شتون لري چې د مالکیت له اخیستو سره سم وضع کیږي، لکه بیمه، د سونګ مواد او ترمیم.



**7. کښتۍ**

په ساحلي سیمو لکه برټانوي کولمبیا او اتلانتیک سیمه کې، دا کښتۍ د ترانسپورټ یوه عامه وسیله ده. ډیری کښتۍ کولی شي دواړه یعني مسافر او وسایط انتقال کړي.



**8. الوتکې**

په کاناډا کې د اوږد واټن سفر کولو تر ټولو ګړندۍ لار د الوتکې کارول دي. دا ګران دی خو ممکن د موټر چلولو یا ریل ګاډي په پرتله په لږ لګښت سره ترسره شي. په کاناډا کې ټول لوی ښارونه هوایي ډګرونه لري.




**9. ریل ګاډي**

د اورګاډي شبکه په ټول هیواد کې غځیدلې. په هرصورت، په کاناډا کې ټول ښارونه او ښارګوټي نه دي سره نښتي. مخکې له مخکې د ټکټونو اخیستل کیدای شي کم لګښت ولري.



**10. ښاري بسونه**

دا عموماً د ښارونو په منځ کې د سفر کولو تر ټولو ارزانه لاره ده. سفر کیدای شي د اوږد واټن له امله وخت ونیسي. که تاسو موټر نلرئ نو دا ډیر ځله کوچنیو ښارونو ته د سفر یواځینۍ لار ده.



**په کاناډا کې د ترانسپورټ په اړه پوهیدلو لپاره ډیر څه شتون لري. کله چې تاسو را ورسیږئ نو ستاسو د حکومت له خوا د تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه په خپله ټولنه کې د ترانسپورټ په اړه پوښتنه وکړئ.**




## 9.2 د ترانسپورت لګښت


**لارښوونې:** په کاناډا کې د ترانسپورت طریقې وګورئ. همدغه درې نښانونه" $$$ " د هغو طریقو په بکس کې واچوئ چې لوړ لګښت لري، "$$" د متوسط لګښت او "$" د ټيټ لګښت لپاره.




**1.** اورډ واټن سفر





ا) الوتکې



ب) اورګاډی




پ) ښاري بسونه



ت) کښتۍ





**تاسو کولی شئ د عامه ترانسپورت، نقشو او ټیکټونو په اړه نور معلومات د خپل سیمه ایز بس او ریل سټیشنونو، معلوماتو غرفو ته زنګ وهلو یا لیدو یا آنلاین څېړنې له لارې ترلاسه کړئ.**



ځوابونه: ۱ (ا) $$$ ; (ب) $$-$$$ ; (پ) $ ; (ت) $$

## 2. لنډ واټن سفر






ا) ټېکسي





ب) د سپرلۍ شریکولو غوښتنلیکونه




پ) عامه ټرانسپورت

## 3. د شخصي موټر په کارولو سره سفر کول






ا) موټرسایکلونه



ب) بایسکلونه




پ) موټرونه

[illegible]: ٢ (ا) $$$ ; (ٮ) $$ ; (ٿ) $ ; ٤ (ا) $$ ; (ٮ) $ ; (ٿ) $$$

په بهر کې د کاناډا لارښود: **د ګډونوالو کاري کتاب**

## 9.3 په کاناډا کې د عامه ترانسپورت کارول




**لارښوونې:** په کاناډا کې د عامه ترانسپورت کارولو په اړه څرګندونې ولولئ. د هغو څرګندونو په بکس کې د صحیح نښه " ✓ " ولیکئ چې تاسو ته نوي دي.

**1.** د عامه ترانسپورت کارولو لپاره، کله چې موټر ته ننوځئ نو تاسو باید تادیه وکړئ یا تیکټ یا پاس واخلئ. ☐




**2.** په ډیری ښارونو او ښارګوټو کې، د محدود خوځښت لرونکو خلکو لپاره ترانسپورت شتون لري لکه په ځانګړي ډول مجهز بسونه. ☐




**3.** د زړه کونکو او له 65 څخه ډیر عمر لرونکو خلکو لپاره، ډیری ښارونه تخفیف شوی عامه ترانسپورت وړاندیز کوي. ☐



**4.** په بس یا سرک سر موټرونو کې، کله چې تاسو غواړئ په راتلونکي تمځای کې ښکته شئ نو ځانګړي تڼۍ کښیکاږئ. که تاسو کوم ځانګړي ځای ته رسیدو کې مرستې ته اړتیا لرئ، له موټر چلوونکي څخه مرسته وغواړئ او د مخ په سیټ کې پاتې شئ. ☐



**5.** ستاسو څخه تمه کیږي چې خپله څوکۍ له تاسو څخه زړو خلکو، معلولیت لرونکو خلکو، امیدواره میرمنو یا لویانو ته چې کوچني ماشومان لري، پریږدئ. ☐



6. کله چې په عامه ترانسپورت کې ټیکټ پیرئ، نو تاسو باید له ځان سره ماتې پیسې ولرئ ځکه چې موټر چلوونکی ماتې پیسې نه لري او نه شي کولی ستاسو د غټو پیسو په بدل کی تاسو ته ماتې پیسې درکړي. ☐



7. کله چې په عامه ترانسپورت کې ځئ، نو مخکې لدې چې تاسو موټر ته پورته شئ، سپرو مسافرو ته اجازه ورکړئ چې له موټر نه کښته شي. ☐



8. د خپل سفر په اوږدو کې د تادیې ټکټ وساتئ. ☐



9. په عامه ترانسپورت کې عاجل شاخصونه شتون لري چې تاسو کولی شئ د اړتیا په صورت کې یې فعال کړئ. ☐




10. کله چې د عامه ترانسپورت په تمه یاست نو تاسو او نور مسافر باید یوه لیکه جوړه کړئ. ☐




11. د ښوونځي د بس خدمات عموماً د هغو ماشومانو لپاره شتون لري څوک چې له ښوونځي څخه په ټاکل شوي واټن کې ژوند کوي. نور ماشومان ممکن ښوونځي ته عامه ترانسپورت وکاروي. ☐






**په ډیری ښارونو کې د بایسکل چلول او پلی تګ امکان لري. دا د موټر چلولو یا عامه ترانسپورت لپاره صحیح بدیلونه دي. ماشومان ممکن ښوونځي ته په پښو تګ وکړي یا بایسکل و کاروي.**




# 9.4 په کاناډا کې موټر چلول

په کاناډا کې د لومړي ځل لپاره د موټر چلوونکي جواز ترلاسه کولو پروسه په هغه ولایت یا سیمې پورې اړه لري چېرې چې تاسو اوسئ. په ډېری ولایتونو او سیمو کې، د ټولو جنسونو خلک باید لږ تر لږه 16 کلن وي ترڅو د موټر چلولو زده کړې پیل کړي.

**لارښوونې:** په کاناډا کې د موټر چلوونکي جواز ترلاسه کولو لپاره مرحلې ولولئ. په هر بکس کې له 1 څخه تر 6 پورې شمېره ولیکئ ترڅو له لومړي څخه تر وروستي پورې مرحلې ترتیب کړئ.



ا) د زده کوونکي جواز ترلاسه کړئ. ☐



ب) یو غوښتنلیک ډک کړئ. **1**




پ) د موټر چلوونکي بشپړ جواز ترلاسه کړئ. ☐



ت) د موټر چلولو تحریری ازموینه تیره کړئ. ☐




ټ) د سړک د سر ازموینه تیره کړئ. ☐




ث) د موټر چلولو د ازموینې د چمتووالي لپاره د موټر چلولو کورس ته ولاړ شئ او ژر خپل بشپړ جواز ترلاسه کړئ. ☐

**که تاسو دا مهال د بل هیواد څخه د موټر چلولو معتبر جواز لرئ، تاسو ممکن د دې وړتیا ولرئ چې دا د ځایی موټر چلولو د جواز لپاره معامله کړئ یا یې له را رسیدو وروسته د لنډې مودې لپاره په کاناډا کې د موټر چلولو لپاره وکاروئ. د حکومت لخوا ستاسو تمویل شوي سازمان یا سپانسرانو څخه ستاسو په ولایت یا سیمه کې د مقرراتو په اړه پوښتنه وکړئ.**



ځوابونه: (ا) 3؛ (ب) 1؛ (ث) 6؛ (ت) 2؛ (ټ) 5؛ (پ) 4

## 9.5 د موټر اخیستل

**لارښوونې:** په کاناډا کې د موټر پیرلو په اړه د دې کس تجربې ته وګورئ.

.1




.2



.3



.4



.5






.6



دغه کس دا کار څنګه په بل ډول ترسره کولی شو؟




## 9.6 د موټر چلولو اړوند قوانین

د موټر چلولو قوانین په کاناډا کې په کلکه پلي کیږي. د دې قوانینو ماتولو لپاره لوړې جریمې دي او پدې کې نغدي جریمې، د بیمې لوړ لګښتونه او د موټر چلوونکي جواز ځنډول یا له لاسه ورکول شامل دي.

**لارښووني:** په کاناډا کې د موټر چلولو قوانین وګورئ. د قوانینو په هغه بکس کې د "✓" صحیح نښه ولیکئ چې تاسو ته نوي دي.

**.1** ☐ په کاناډا کې موټر چلوونکي د موټر چلولو جواز او د موټر بیمې ثبوت ته اړتیا لري. له دې پرته موټر چلول غیر قانوني دي، او موټر چلوونکي باید د موټر چلونې پر مهال دا ولري.




**.2** ☐ موټر چلوونکو ته اجازه نشته چې د دې موادو (درمل، الکول، مخدره توکي) تر اغیز لاندې موټر وچلوي.



**.3** ☐ کله چې د ښوونځیو د بسونو سره څراغونه روښانه شي او د بس دروازې وغځول شي نو ټول چلوونکي باید د ښوونځیو له بسونو څخه په فاصله کې ودریږي.





**.4** ☐ موټرې په ښي لاس چلیږي. موټر چلوونکي باید هغو اضطراري موټرو ته لاره ورکړي چې څراغونه یې ځلیږي او د خطر زنګ یې لګولی وي.




**.5** ☐ ټول خلک باید د څوکۍ کمربند وکاروي، که هغه د هر موټر چلوونکی وي یا مسافر وي.



**.6** ☐ واوره او یخ د کاناډا په ډیرې برخو کې د موټر چلولو لوی خطرونه دي. په ځینو ولایتونو او سیمو کې، د ژمي د ټیرونو کارول لازمي دي.



**.7** ☐ کوچني ماشومان باید د دوی د خوندیتوب لپاره په شا او د موټر په ځانګړو سیټونو کې ناست وي. د څوکۍ انتخاب د ماشوم په عمر او وزن پورې اړه لري. د ماشومانو د څوکیو په اړه د نور معلومات دلته و لولئ:






## 9.7 په کاناډا کې د سړک عامې نښې

دا د سړک نښې په ټوله کاناډا کې لیدل کیدای شي، که څه هم دا ممکن په ځینو ځایونو کې یو څه توپیر ولري.

**لارښوونې:** د سړک نښې وګورئ. د هرې نښې او د هغې د تشریح تر منځ یوه کرښه رسم کړئ.

1. 

2. 

3. 

4. 

5. 

ا) ښویېدونکی سړک

ب) د ځناورو تیریدل


پ) د ښوونځي لپاره د تیریدو ځانګړې لاره

ت) قدم وهل


ټ) یواځې بایسکلونه




**کله چې تاسو له کوڅې څخه تیریږئ، خپلو شاوخوا ترافیکي نښو ته پاملرنه وکړئ.**



**سور معنی "ودریدل"**




**ژیړ معنی "ورو شئ"**



**شین معنی "لاړ شه"**

ځوابونه: 1 (ب)؛ 2 (ا)؛ 3 (ټ)؛ 4 (پ)؛ 5 (ت)

6. 

ث) ښي اړخ ته مه تاویږئ

7. 


ج) د پیاده تیرېدلو لپاره

8. 

چ) ودریږئ

9. 

ح) یواځې بسونه

10. 

خ) تګ مه کوئ

11. 

ځ) د سرعت حد په ساعت کې د کیلومتر له مخې

12. 


څ) د لومړیتوب حق (لاره ورکړئ)

که تاسو د کوم بل موټر سره ټکر کوئ یا په پیاده تګ کې ټکر وکړئ، نو د پیښې ځای پرېښودل جدي جرم دی. پولیسو او امبولانس ته د زنګ وهلو لپاره بیړنی شمیره 911 وکاروئ.




ځوابونه: 6 (ح)؛ 7 (چ)؛ 8 (ث)؛ 9 (ج)؛ 10 (څ)؛ 11 (خ)؛ 12 (ځ)


نهمه برخه : ترانسپورت


# کاناډا ته ښه راغلاست!



یادونە:


1
کاناډا ته د سفر څخه وړاندې
GAR/RPG
PSR/PPPR
JAS/PAC
BVOR/RDBV
1 د بیا میشته کیدو پروسه پیل کړئ
2 د تاکل کیدو په مرکه کې برخه واخلئ
3 طبي ازموینه بشپړه کړئ
4 امنیتي پروسې بشپړې کړئ
5 د غوښتنلیک بیا کتنه بشپړه کړئ
6 تصدیق ترلاسه کړئ
7 د رارسیدو وړاندې خدماتو ته لاسرسی
8 سفر ته چمتو اوسئ
2
کاناډا ته سفر
1 هوایي ډګر ته تلل
2 خپل د IOM بکس ترلاسه کړئ
3 د هوایی کرښې چیک ان
4 د هوایی ډګر امنیت پروسه بشپړه کړئ
5 د وتلو پروسې بشپړ کړئ
6 په الوتکه کې سپاره شئ
7 له خپلې الوتنې څخه خوند واخلئ
8 لیږد
9 کاناډا ته رسیدل
10 د هوایی ډګر مرسته ترلاسه کړئ
11 د داخلېدلو پروسې بشپړې کړئ
3
په کاناډا کې
1 خپل وروستي منزل ته سفر وکړئ
2 له هغه خلکو سره لیدنه وکړئ څوک چې له تاسو سره مرسته کوي
3 په موقتي استوګنځي کې پاتې شئ
4 د مهمو اسنادو لپاره غوښتنه وکړئ
5 یو بانکي حساب خلاص کړئ
6 دایمي هستوګنې ته لاړشئ
7 ماشومان په ښوونځیو او لویان د انګلیسي په کورسونو کې شامل کړئ
8 د روغتیا پاملرنې خدماتو ته لاسرسی
9 خپله ټولنه وپیژنئ
10 فعال او صحتمند اوسئ
11 د ځان بسیا کیدو لپاره ګامونه پورته کړئ
12 د اړتیا په صورت کې مرسته وغواړئ
په کاناډا کې د اوسیدنې ټول خدمات وړیا دي. د بیا میشتېدنې هره قضیه ځانګړې ده. د پورته ذکر شوي مرحلو ترتیب ممکن توپیر ولري.





IOM
UN MIGRATION

PASHTO